# د بدلون پر لور



رحمت شاه فراز

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د

# بـــدلـون

# پر لور

## رحمت شاه فراز

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د بدلون پر لور


## د کتاب پېژندنه:

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم: | ........... | د بدلون پر لور |
| لیکوال: | ........... | رحمت شاه فراز |
| کمپوز: | ........... | پخپله لیکوال |
| کال: | ........... | ۱۳۹۹ ل. |



شمېره و وټساپ: 0093 (0) 76 75 74 834

برېښنالیک: rsfaraz4@gmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د بدلون پر لور

## لیکلړ


سریزه ............................................................... 7

اختلاف............................................................... 11

یو والی ............................................................... 17

ښځه ............................................................... 33

سړی ............................................................... 43

وران لیدلوري ............................................................... 52

۱- مسلمان د نړۍ غوره انسان............................................................... 53

۲- غیرت............................................................... 56

۳- شخصیت پرستي او په تاریخ ویاړ ............................................................... 59

٤- جنسي پوهاوی............................................................... 62

۵- د هېواد قوانین............................................................... 64

٦- کسبونه ............................................................... 66

۷- په ټاکنوکې نه ګډون............................................................... 68

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د بدلون پر لور

موړاو روان عصر ........................................................ 73
۱- ژبه ........................................................ 78
۲- کمپیوټر ........................................................ 80
۳- انټرنټ ........................................................ 81
٤- نړۍ لید ........................................................ 82
۵- د علم لوری ........................................................ 85
٦- ډله ییز کار ........................................................ 88
۷- د بدلون او نوښت منل ........................................................ 90
۹- له کړښې اوښتل ........................................................ 92
۱۰- کورنی ملاتړ ........................................................ 94
زموږ ښوونیز نظام ........................................................ 96
۱- ښوونځی ........................................................ 96
۲- مدرسه ........................................................ 98
۳- نیمګړتیاوې او اړین بدلونونه ........................................................ 101
٤- پوهنتون ........................................................ 106
ژبه ........................................................ 110

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د بدلون پر لور

۱- د ژبې پیدایښت.................................................. 110

۲- زموږ د هېواد ملي ژبې .......................................... 112

۳- د دري او پښتو ترمنځ روان کړکېچ .............................. 114

٤- د پښتو ژبې کره کول ............................................ 119

٥- په پښتو ژبه کې املايي تنوع....................................... 124

من تشبه بقوم.... حديث ........................................... 129

الف ) د پایڅو مسئله ................................................ 131

ب ) د ږیرې مسئله .................................................. 133

موسيقي ............................................................... 137

د ښځو په اړه.......................................................... 151

۱ ) آیا ښځې له عقلي او ديني پلوه ناقصه دي؟ ........................ 158

۲ ) د ښځو د حجاب او پردې مسئله: ................................. 162

(c) ketabton.com: The Digital Library


# سریزه

د دې کتاب هره کرښه د څو کلنې مطالعې او فکر مېوه ده. فکر مې په دوو لاملونو وروسته یاد کړ. یو ، دا کتاب یوازې له ځینو کتابونو څخه کټ مټ اقتباس شوې خبرې نه دي ، بلکې د کتابونو له مطالعې وروسته فکر هم وربانديې شوی. دوه ، په دې کتاب کې له کتابونو ور هاخوا هغه نظریات هم راغلي چې د مجرد فکر پایله ده.

په کتاب کې راغلې هره خبره زما خپل شخصي نظر ده ، د ناسموالي او غلطي امکان پکې شته. او دغه راز هر د نظر څښتن کولای شي چې له دې نظریاتو سره خپل اختلاف څرګند کړي. په هره خبره مې تر انساني وسه پوره فکر او غور کړی او هڅه مې کړې چې په علمي او عقلي دلایلو یې ستاسې مخې ته کېږدم ؛ په بدل کې یې له درانه لوستونکي هم هیله لرم چې خپل اختلاف او یا د کتاب غلطي په علمي و اکاډمیک میتودونو روښانه او په دلایلو سره څرګند کړي.

کتاب په درې برخو (ټولنه – علم و ژبه – مذهب فکر) وېشل شوی. د دې کتاب یوازینۍ موخه دا ده چې په افغاني ټولنه کې ټولنیز ، علمي او مذهبي نقد ، بحث او تحقیق ته لاره هواره شي او په دې لاره کې پراته ګڼ خنډونه له اوبو سره لاهو شي.

دلته به یوه بله هیله هم وکړم ، هغه دا چې چې له دې کتاب سره دې لوستونکی هماغه چلند وکړي چې الله تعالی یې په قرآن کریم کې د مؤمنو بندګانو د ځانګړنې په توګه یادونه کړې:- فَبَشِّرْ عِبَادِ 17 الَّذِينَ يَسْتَمِعُونَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُ أُوْلَئِكَ الَّذِينَ هَدَاهُمُ اللَّهُ وَأُوْلَئِكَ هُمْ أُوْلُوا الْأَلْبَابِ 18 (الزمر: ۱۷- ۱۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library


ژباړه: زما بندګانو ته زېرى وركړه (17) هغوى چې خبرې ته (ښه) غوږ ږدي ، بيا چې كومه ډېره غوره وي د هماغې متابعت كوي ، دوى هغه خلك دي چې الله هدايت ورته كړى او همدوى د عقل خاوندان دي. (18)

د كتاب د لا بډاينې لپاره ستاسو غوره لارښوونو ، پر ځاى نيوكو او علمي وړانديزونو ته سترګې په لار ،

رحمت شاه فراز

(c) ketabton.com: The Digital Library


# بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د کتاب لومړۍ برخه

# ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# اختلاف

د ټولو انسانانو د خلقت ريښه يوه ده ، خو د دوی وړتيا ، فکر ، عقيده ، استعداد ، نظر او د مسايلو په اړه ليد لوری ، بېل او مختلف وي. د رنګ ، ژبې ، نسل او قوم توپير ، ظاهري او بېلوونکی توپير دی ، اصلي او اساسي توپير د دوو انسانانو تر منځ د هغوی فکري او نظري توپير دی چې همدا وروستنی توپير چې کله پر عقلي ، منطقي او استدلالي بنسټ ولاړ وي اختلاف ؛ خو کله چې همدا توپير او بېلوالی د جذباتو ، احساساتو او د ملي ، عقيدوي او ژبنيو تعصباتو په اساس وي ، نو هغه مهال مخالفت ترې پيدا کېږي. په بشري تاريخ کې اختلاف اوږد تاريخ او مخينه لري. د يونان په اتن ښار کې به سقراط په کوڅو کې ګرځېده او له خلکو به يې د ټولنيزو ، اخلاقي ، فلسفي او سياسي موضوعاتو په هکله پوښتنې و ګروېږنې کولې. نوموړی په دې باور وو چې پوښتنه کول تر ځواب ورکولو سخت دی. سقراط ، پوښتنه کول علم و پوهې ته د رسېدو اصلي لاره بلله. د سقراط د بحث او ښوونې تګلاره په ښوونيزه ارواپوهنه کې سقراطيت بلل کېږي. سقراطيت په حقيقت کې په اختلاف بنا دی چې د هرې خبرې لپاره علمي و عقلي دليل غواړي. سقراط به تر ډېره پوښتنو ته خپل ځوابونه نه ويل ، بلکې د خپلو پوښتنو له لارې به يې د مخاطب په ځواب کې د هغه تېروتنه ور په ګوته کوله. له همدې امله به د ده مقابل لوري پر ده نيوکه کوله چې سقراط هېڅکله ځواب نه شي درکولای ، يوازې پوښتنې کولای شي او د مقابل لوري ځواب ردولای شي.

د اختلاف او سقراطيت يوازينی فرق دا دی چې په اختلاف کې دواړه لوري د يوې پوښتنې د ځواب په لټه کې وي او دواړه لوري په پوره استدلال خپل نظرونه وړاندې کوي. اختلاف په علم او دليل ولاړ وي چې د انساني ټولنې د نېکمرغۍ ، پرمختګ او ودې اساس جوړوي. خو مخالفت پر حسد ، کينې ، غرور او ناعقلانيت بنا وي چې همدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول عناصر د دښمنۍ ، جنګ او جګړې لامل ګرځي او د پرمختګ په لاره کې خنډ جوړېږي.

اصلاً اختلاف څه شی دی؟ اختلاف څنګه وکړو؟ او څه وخت اختلاف د مخالفت دایرې ته ننوځي؟ او په کومو مسایلو کې باید اختلاف وشي؟

تر ټولو دمخه ، د دریمې پوښتنې ځواب ته تم کېږو. انساني ټولنه په یو ځای ولاړه او منجمده نه وي ، بلکې د یوه روان څرخ مثال لري چې هر کله له نوو مسایلو ، لوړو ژورو او ستونزو سره مخ وي. انسان د یوه عاقل موجود په توګه د دې مسایلو پر وړاندې غلی نه کېني ، بلکې تل يې د حل لارې او هوارتیا په لټه کې وي. په دې ځای کې یو انسان د خپلې وړتیا ، فکر او عقلي ځواک – چې د هر انسان بېل و مختلف وي – له مخې هڅه کوي چې یوه حل لاره ورته وړاندیز کړي او په ورته وخت کې د همدې ټولنې یو بل وګړی یوه بله حل لاره وړاندیز کوي ؛ خو د دواړو کسانو وړاندیز کړې حل لارې له یو بل سره فرق لري. دا ښکاره ده چې په دې دواړو کې سمه او صحیح لاره یوازې یوه وي او یا به دا وي چې یوه به تر بلې ښه وي. په دې وخت کې دوی له یو بل سره بحث او خبرو اترو ته کېني. په دې معنا چې هر لوری خپله خبره په دلایلو سره بیانوي او لږ تر لږه پنځه سلنه په دې هم باوري وي چې زما په خبره یا حل لاره کې د غلطي او ناسموالي امکان هم شته او که هغه غلطي په عقلي دلایلو روښانه شوه نو له خپلې خبرې تېرېدلو ته هم تیار یم. کله چې دواړه لوري په دې باوري وي چې د دوی خبره اسماني وحي نه ، بلکې د انساني عقل او فکر لاسته راوړنه ده نو اصلاً دوی دواړه له یو بل سره اختلاف کوي.

خو که دواړه لوري خپله خبره په دې نیت او فکر وکړي چې خبره يې سل په سلو کې سمه ده او هېڅکله له خپلې خبرې اوښتو ته چمتو نه وي او یا دا چې په بحث کې د علمي استدلال پر ځای ډول ډول احساسات ، جذبات ، تعصبات ، له تمسخر او سپکاوي ډک کلمات ، غوسه او د یو بل د نیتونو او اهدافو تعین ، د بحث اساس و

(c) ketabton.com: The Digital Library


بنسټ وګرځوي ، نو په حقیقت کې دواړه لوري له یو بل سره لاس او ګرېوان کېدلو ته لاره هواروي او د مخالفت پر دریځ ولاړ دي. له اختلاف څخه مخالفت ته د لار کولو او له دې وروسته ځینو ناسمو کړنو ته د لاس کولو په هکله د هند لوی عالم ، مولانا وحید الدین خان په خپل کتاب (اسلامپوهنه)) کې لیکي:

((د اختلاف د رامنځته کېدو پر مهال اړیکو ته د پای ټکی ایښودل ښه کار نه دی. پکار ده چې په اختلافي مسئله باندې ښه جدي بحث وشي او ورسره خپلمنځې اړیکې هم په خپل حال پاتې وي. له اختلاف لرونکي شخص سره تګ راتګ پرېښودل یا له هغه سره ناسته پاسته نه کول په هېڅ حال کې هم سم کار نه دی.))

د یوه بل عالم په وینا اختلاف د ژوند ښکلا ده او د نړۍ پرمختګ له یو بل سره له اختلاف پرته ناشونی ده. وحید الدین خان په بشري ټولنه کې د اختلاف شتون یو لازمي عنصر ګڼي:

((د اختلاف رامنځته کېدل بده خبره نه ده ، بده خبره دا ده چې د اختلاف له پېښېدو وروسته انسان د اختلاف په ازمایښت کې پاتې راشي.))

اختلاف په اصل کې د بحث له لارې کېږي او د مولانا په خبره ښه جدي بحث دې ورباندې وشي. د بحث په اړه عجیبه خبره دا ده چې د بحث لغوي معنا ((د ځمکې کیندل او ګرانبیه ملغلرې او کاڼي ترې راویستل)) ده ؛ که بحث په رښتیا هم په همدې هدف او نیت وشي چې د خاورو له منځ نه ګرانبیه ملغلرې را و ایستل شي ، نو په حقیقت کې د ټولنې د پرمختګ په لور ګام پورته شوی دی. مولانا صېب د اختلاف او بحث ادابو او په اختلاف کې د یو چا پر نیت او شخصیت نیوکې نه کولو ته هم اشاره کوي:

((مؤمن هغه دی چې اختلاف د نیت مسئله ونه ګرځوي. اختلاف یوازې تر هغو بریدونو پورې وساتي په کومو کې چې اختلاف رامنځته شوی وي. په یوه خبره کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library


اختلاف له کبله یو څوک په هره معامله کې تېروتی ګڼل ، په یوه خبره کې له اختلاف پیښېدو وروسته هغه ته منافق ، بد نیتی او بې اخلاصه ویل ، له یوې مخې غیر اسلامي کړنلاره ده.))

د اختلاف ځای او سطحه ټاکلې نه ده چې په دې او دې مسئله کې به اختلاف کیږي او په نورو کې به نه کیږي. بلکې اختلاف د ژوند په هره مسئله او (د یو مسلمان لپاره له خدای او رسول پرته) له هر چا – پاچا ، زوی ، پلار ، ملا ، امام ، استاذ ، ورور ، مشر ، کشر ، سپین ږیري – سره کېدلای شي او هېڅ پوله نه مني. دا ځکه چې کله اختلاف ته پوله او برید ټاکل کیږي ، هغه مهال د ټولنې د ودې و پراختیا پر مخ د دېوال درولو هڅه کیږي ، د پرمختګ هره شونې لاره تړل کیږي او د علم ، تحقیق او څېړنې دروازې بندیږي. که زه دا ومنم چې هر څه چې زما امام ، استاذ ، پلار یا ملا ویلي یا وایي ، هماغه سم او وروستی ټکی ده ، نو په ما کې به د تحقیق او پلټنې هغه انرژي ، لېوالتیا او مینه له کومه کیږي چې کله زه دا ووایم چې نه هغوی هم انسانان دي ، په خبره کې یې د غلطي امکان شته او یا دا چې امکان لري زه د هغوی له ښودلې لارې یا خبرې نه ښې او بهترې خبرې ته ورسیږم. اختلاف د پټو سترګو تقلید له ریښو را وباسي او په هره مسئله او خبره کې د دلیل غوښتنه کوي او که په عقلي او علمي استدلال یې سینه یخه نه شي ، نو تر هغو په کرار نه کېني تر څو چې د علمي دلیل په مټ سم او صحیح ټکي یا په ټوله کې حقیقت ته ځان ونه رسوي او دا هم ورسره غوټه نه کړي چې کېدای شي په دې خبره کې هم غلطي وي ، په دې چې علم په هر وخت کې د نوو نظریاتو او افکارو کوربه دی.

په یوه ټولنه کې د اختلاف د آغاز او پیل ټکی دا دی چې په هغه ټولنه کې دود دیني ، مذهبي ، سیاسي ، ټولنیز او اقتصادي افکار او عقاید وننګول شي او له خپلو سترګو نه د تقلید ړندوونکی او د پرمختګ د لارې خنډمنه پرده ایسته وغورځول شي او ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library


مسایلو ته له نوي سره له ټولو ملي ، عقیدوي او نسلي جذباتو او تعصباتو نه پورته په علمي او عقلي سترګو وکتل شي او په سوچه او نوښتګر فکر تحلیل او وڅېړل شي.

د اختلاف په مقابل کې زموږ په ټولنه کې دوه ډوله خلک وجود لري. دلته هغه درېیم ډول خلک چې د اختلاف وړتیا نه لري ، تر بحث لاندې نه دي.

۱- زموږ د ټولنې یو ډله خلک هغه دي چې هر څه یې په پټو سترګو منلي او خپل منلي عقاید ، افکار او نظریات ورته سل په سلو کې سم ښکاري او د هېڅ ډول غلطي او تېروتنې امکان هم پکې نه مني. که دوی ته وویل چې ستاسې دا فلانی نظر یا فکر په دې او دې دلایلو ناسم یا غلط دی ، نو دوی سمدستي د مخالفت او دښمنۍ وسلې ته لاس غځوي او د جنګ ډګر ته وځي. که څه هم دا یو ډېر ناسم چلند دی تر دې چې د اسلام دین هم دا ډول چلند غندلی ؛ خو د دې ډلې یو ښه والی دا دی چې له نوو نظریاتو او افکارو سره هم کار نه لري او د پښتنو په اصطلاح د فیل په غوږ کې ویده انسانان وي.

۲- دوهمه ډله خلک هغه دي چې یو خو یې هر څه په پټو سترګو او د تقلید له مخې منلي وي ، بل لور ته د نوو افکارو ، نظریاتو ، عقایدو او په ټوله کې د نوښت د مخالفت مخکښان هم همدا ډله خلک وي. دوی نه په خپلو منلو افکارو باندې بیا کتنه کوي ، نه د بل چا اوري ، او نه هم دې ته اجازه ورکوي چې په ټولنه کې نوې څېړنې او تحقیقات را وړاندې شي. دا ډله خلک د ټولنې لپاره له لومړنۍ ډلې ډېر خطرناک او زیانمن دي او د یوې ټولنې اصلي دښمنان او د بدمرغۍ لامل همدا خلک وي. د دې دواړو ډلو اصلاح او تربیه اړینه او ضروري ده ، که نه نو دا ټولنه به د تل لپاره په همدې بدمرغیو او ویجاړیو اخته وي او هېڅکله به د پرمختګ ، سوکالۍ ، ارامتیا او ډاډ ساه ونه باسي. د مقالې په پای کې یو ځل بیا د اسلامي نړۍ د لوی مفکر خبرو ته وګرځو:

(c) ketabton.com: The Digital Library


((اختلاف د ژوند يوه برخه ده. د بېلا بېلو لاملونو له امله د خلکو په منځ کې اختلافات رامنځته کېږي. څرنګه چې د عامو خلکو په منځ کې اختلاف وي ، په همدې ډول د سوچه او مؤمنو انسانو ترمنځ هم اختلاف پېښېږي. د اختلاف مخه نه شي نيول کېدی. هو ، دا کېدی شي چې د اختلاف سربېره انسان پر سم او روغ چلند ولاړ وي.))

***

(c) ketabton.com: The Digital Library


## یووالی

هره ټولنه – هغه که پرمختللې وي او که وروسته پاتې – یو شمېر ارزښتونه پالي. اصلاً دا ارزښتونه په یوه ټولنه کې د ملا د تیر او پښتۍ رول لوبوي او ټولنه په همدې تکیه و ولاړه وي. د ټولنې هر وګړی مکلف وي چې دې ارزښتونو ته ژمن پاتې شي او سرغړونه ترې ونه کاندي.

خو په دې برخه کې د پرمختللو او وروسته پاتې ټولنو تر منځ یو څرګند توپیر وي ، چې پرمختللې ټولنې هر وخت دې ارزښتونو ته ور ګرځي ، پر هغو بیا کتنه کوي ، سم او ناسم اړخونه یې را برسېره کوي ، سمو ته یې دوام ورکوي او ناسم یې اصلاح کوي ، وراسته او بېکاره ارزښتونه ایسته غورځوي او نوي ارزښتونه ور خپلوي. د هغوی د دې کار پایله مبهمه او یا ناخیزه نه وي ، بلکې د همدې کار له کبله دوی ته پرمختللې ټولنې ویل کېږي.

د دې برعکس ، وروسته پاتې ټولنې خپلو زړو ارزښتونو ته ژمن وي او له همدې ارزښتونو سره خپل ژوند ته دوام ورکوي. دوی خپل ارزښتونه له تېرو نسلونو ور پاتې میراث او ګرانبیه پانګه ګڼي ، او کله چې یو څوک پر دې ارزښتونو نیوکه وکړي او یا یې نیمګړتیا را برسېره کړي ، نو بیا ډول ډول نومونه پرې ایښودل کېږي او د ځان پر وړاندې یې د پردیو توطیه ګڼي او په دې باور وي چې پردیو ، له نیکونو او پلرونو څخه د ور پاتې میراث د له منځه وړلو او نابود کولو په موخه لومه ورته جوړه کړې. او د هغوی د همدې ناسم چلن مېوه دا وي چې تل له نورې نړۍ شاته پاتې وي او هېڅکله له هغوی سره د سیالۍ جوګه نه ګرځي.

د ټولنې د بقا ، پرمختګ او ودې لپاره بویه چې ارزښتونه وخت په وخت بدل شي ، د لرغونو وختونو ګرد او دوړې تر وځنډل شي او ټولنه دې ته تیاره کړای شي چې په پراخه سینه د نوو ارزښتونه هرکلی وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


له همدې زړو ارزښتونو څخه یو ارزښت چې زموږ د ټولنې هره طبقه — ملایان ، د عصري علومو پوهان ، مشران ، عادي وګړي... — او تقریباً هر شخص یې په ډېر ټینګار یادوي او د هغه ارزښت په له منځه تلو اوښکې بهوي او د بېرته را ژوندي کولو لپاره یې چیغې او نعرې وهي ، هغه ارزښت ((یو والی او اتفاق)) دی. که زموږ د ټولنې له یوه ماشوم نه هم وپوښتل شي چې زموږ د بدمرغیو او وروسته پاتې والي لامل څه دی نو بې له ځنډه به ترې واورئ چې: ((په موږ کې اتفاق نشته.)) خو که له یو چا نه پوښتنه وکړو چې اصلاً دا یو والی څه شی دی او د یو والي تعریف څه دی ؛ بیا نو هېڅ ځواب ورته نه لري. په دې چې که یو والی دې ته وایي چې په یوه ټولنه کې یو دین ، یوه ژبه ، یو قوم ، یو نسل ، یو ذات ، یو فکر او یوه عقیده شتون ولري ، نو هغه ټولنې ته به متفقه او پر یو والي بنا ټولنه ویل کېږي نو داسې ټولنه د نړۍ په هېڅ ګوټ کې هم نه موندل کېږي. نو له دې ښکاري چې موږ د یوه داسې ارزښت غوښتونکي یو چې اصلاً یو ښکاره ، غوڅ او څرګند تعریف ورته نه لرو او یوازې یې له نوم سره اشنا یو.

په هغه ټولنه کې چې هر وګړی یې عاقل ، مخلص او فکرمن انسان وي ، هلته د یو والي رامنځته کېدل یو ناشونی کار دی. ځینې مسلمانان د یو والي پر موضوع باندې د بحث پر مهال د نبوي او را وروسته دور مثال ورکوي چې د هغوی د پرمختګ او سوکالۍ لامل د هغوی تر منځ د یو والي شتون وو او د د دوی په اند که دا مهال هم هماغه یو والی رامنځته شي ، نو اسلامي ټولنه به یو ځل بیا له هوساینې او سوکالۍ برخمنه شي.

خو که لږ تم شو او هغه ټول دور ته د علم او عقل په رڼو سترګو وګورو ، نو لاندې ټکي مو مخې ته راځي:

الف) په نبوي ص دور کې د مسلمانانو پر یوه غړ را ټولېدل د هغوی ترمنځ د رسول الله ص د شتون له امله وو ؛ خو دا باید له یاده ونه باسو چې دا همغږي او اتفاق هم

(c) ketabton.com: The Digital Library


یوازې په دیني و مذهبي امورو کې وو ، له دې ور هاخوا ، په دنیوي چارو کې فکري او نظري اختلاف د نبي کریم ص او صحابوو ترمنځ هم رامنځته شوی.

ب) کله چې نبي کریم ص له دې نړۍ سره مخه ښه وکړه ، نو د هغه مبارک ص له تکفین و تجهیز وړاندې لا په ثقیفه بنو ساعده کې د مسلمانانو ترمنځ د واک پر سر شخړه رامنځته شوه او د مسلمانانو د یو والي او اتحاد د خوبونو او هیلو هنداره ټوټې ټوټې شو.

ج) په را وروسته پېر کې هم د مسلمانانو ترمنځ همغږي او اتحاد د هغه مهال د قبیلوي نظام ، ټولنیز جوړښت او مذهبي عصبیت له امله وو ؛ که چېرته داسې نه وای ، نو بیا ولې له قریشو څخه د خلیفه پر ټاکلو ټینګار کېده؟ د دې لامل دا وو چې هغه مهال د مسلمانانو لپاره تر ټولو غوره واکمن د قریشو د قبیلې یو تن کېدای شوی.

د) که چېرته د یوه واکمن تر قوماندې لاندې د مسلمانانو را ټولېدو ته د یو والي او اتحاد نوم ورکړو ، نو اړیو چې لاندې دوه ټکي له پامه وغورځوو:

یو ، په اسلامي نړۍ کې د یوه واکمن ، واکمني د عثمان رض تر لومړنیو وختونو پورې وه ، له هغه وروسته لومړی دا واکمني په وړو — وړو ټوټو ووېشل شوه او په دوهم پړاو کې د اندلس او بغداد په دوو سترو واکمنیو بدله شوه.

دوه ، دا ډول د یوه واکمن تر چتر لاندې را ټولېدل یوازې د مسلمانانو ځانګړنه نه شو بللای ، د نړۍ په هره برخه کې چې یو ټولنیز نظم رامنځته شوی ، نو هلته په همدې ډول د واکمن امر ته په یوه لویه کچه لبیک ویل شوي.

له پورتني بحث څخه دې پایلې ته رسېږو چې د یو والي او اتفاق ارزښت یوه مبهمه غوښتنه او داسې خوب دی چې هېڅکله به پوره نه شي ، ځکه په عملي ژوند کې د یو

(c) ketabton.com: The Digital Library


والي رامنځته کېدل او شتون يو ناممکنه کار دی. اصلاً دا امکان نه لري چې د يوې ټولنې ټول وګړي دې د يو ډول افکارو او عقايدو تر چتر لاندې ژوند وکړي.

اوس چې د دې ارزښت اصلي څېره په دې ډول ده نو څه پکار دي؟ د دې پوښتنې ځواب ډېر ساده دی؛ په دې ځای کې هماغه د پرمختللو ټولنو چلند بويه چې کله د يوه ارزښت پالل ستونزمن، هغه ارزښت پخپل ذات کې مبهم او له مادي و معنوي اړخونو بې ګټې شي نو خپله ټولنه له هغه ارزښت څخه پاکوي او پر ځای يې نوي ارزښتونه رامنځته کوي. موږ ته هم پکار ده چې د يو والي پر ځای نوي ارزښتونه ولټوو او يو داسې دريځ ومومو چې په رښتيني معنا زموږ د سوکالۍ، هوساينې او پرمختګ لامل وګرځي.

د يو والي د ارزښت پر ځای کولای شو چې د يو بل د منلو، د يو بل افکارو او عقايدو ته د درناوي، زغم، په غوره او احسن ډول د اختلاف کولو، د يو چا په شخصيت او ژوند کې د کار نه لرلو او د اعراض په څېر ارزښتونه را خپل کړو. يو څوک په کوم فکر ده، عقيده يې څه ده، د کوم دين او مذهب پلوی ده، شخصيت يې څنګه دی، پکار ده چې دې او دې ته ورته مسايلو سره هېڅ غرض ونه کړو، بلکې د هر چا فکر، نظر، شخصيت، دين، عقيدې، کلتور او ارزښتونو ته رښتينی درناوی وکړو او په درنه سترګه ورته وګورو. په ټوله کې بايد خپل حد وپېژنو او په دې پوه شو چې که موږ د خپل شخصيت او فکر سپکاوی نه غواړو، نو لومړی بايد د نورو د افکارو او نظرياتو درناوی زده کړو.

زموږ لويه ستونزه دا ده چې د يو والي غوښتنه به کوو، او بيا د يو چا په شخصيت پسې به بد او رد هم وايو؛ په يو والي پسې به ژړا کوو، او د يو چا په فکر، دين او عقيدې پسې به رشخند او ملنډې هم وهو؛ په يو چا ډول ډول ټاپې هم لګوو، د يو بل منلو ته په پوره اخلاص او مينه اماده هم نه يو، د يو بل د زغملو او منلو وړتيا هم نه لرو، د نورو له غيبت، چغلي او تجسس څخه به لاس هم نه اخلو، د نورو په شخصي ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library


کې مداخله او لاسوهنه به مو خپله په زړه پورې بوختیا هم ګرځولې وي ؛ خو له دې ټولو سره- سره د یو والي په نشتون پسې به آه و فریاد هم کوو.

پکار ده چې دا خبره د یوه حقیقت په ډول ومنل شي چې یو والی د انسانیت په ټول تاریخ کې اصلاً وجود نه دی لرلی او نه هم د یو والي راتګ شونی دی. دا یو ناشونی کار دی او د هغو ارزښتونو چې په انساني ټولنه کې د نېکمرغۍ ، نوښت او بدلون لامل ګرځي ، د هغو د لارې یو ستر خنډ دی. او په دې برخه کې له هغو خلکو چې د یو والي نعرې اوچتوي باید دا پوښتنه وشي چې دوی اصلاً یو والی څه شي ته وايي ؟ او آیا د یو والي لپاره یو بشپړ او غوڅ تعریف لري هم او که نه ؟ او یو والی په کومه برخه کې باید رامنځته شي ؟

دا خلک د وروستۍ پوښتنې په ځواب کې وايي چې زموږ د بدمرغیو تر ټولو لوی لامل دا دی چې له مذهبي اړخه یوه ډله نه یو او بې شمېره او ډول ډول فرقې رامنځته شوې ، که موږ ټول یوازې یوه ډله وای نو بیا د یو والي راتګ اسانه وو او هغه وخت مو کولای شوی چې پرمختګ او وده وکړو. خو که دوی ته وویل شي چې د عیسویت دین په اوس وخت کې له ۲۵۰ زیاتو فرقو وېشل شوی ، او په هېڅ هغه هېواد کې چې رسمي دین یې عیسویت دی دا ډول بدبختۍ او بدمرغۍ نه لیدل کېږي لکه اسلامي هېوادونه چې نن ورځ پرې اخته دي. حال دا چې په اسلامي هېوادونو کې خو یوازې د ۵۰ شاوخوا ډلې دي. د دې لامل څه شی ده ؟ نو تاسو به وګورئ چې دوی یې په ځواب کې هېڅ هم نه لري ؛ ځکه موږ نېکمرغي او هوساینه په داسې ځای کې لټوو چېرته چې له بدمرغیو او ناخوالو پرته د بل هېڅ شي څرک هم نه وي.

د دې پوښتنې چې نور اقوام ولې دومره هوسا او پرمختللي دي ، ځواب ډېر ساده دی او هغه دا چې هغو خپل ارزښتونه بدل کړي. د هغوی ترمنځ که دیني یو والی نشته ، نو د بلې ډلې او فرقې په یوه پیرو باندې د کفر او منافقت تور لګول هم نشته ؛ که په هغوی کې فکري همغږي نشته ، نو د یو بل فکر او نظر ته په سپکو سترګو کتل هم

(c) ketabton.com: The Digital Library


نشته ؛ هغوی دا منلي چې په بشپړ ډول ديني ، فکري ، عقيدوي ، ټولنيز او نظري يو والی رامنځته کېدل ناشونی دی او په دې يې ځان پوه کړی چې د انساني ژوند ښکلا په بېلتون ، توپير ، ګڼوالي او تنوع کې نغښتې.

د دې يو ښکاره مثال لويديځ دی. په لويديځ کې اکثريت کورنۍ داسې دي چې په سهار سهار کې مور د بودا د مجسمې په وړاندې ولاړه وي او د بودايت له دين سره سم عبادت کوي. پلار يې په هماغه وخت کې په بېله کوټه کې د عيسی او مريم مجسمو ته شراب نيولي وي. خو زوی يې د موسيقۍ د اورېدو په حال کې له کور نه د پوهنتون په لور روانېږي. د زغم اندازه يې تر دې بريده وي چې پر يو بل د بې دينۍ او بې لارۍ ټاپې لګول يوې خوا ته کېږده ، پر يو بل غرض هم نه کوي او دا يې منلې وي چې د کورنۍ ارامتيا لپاره يو والی نه ، بلکې د يو بل منل او زغمل بويه. د دې پر خلاف ، که موږ خپل حالت وګورو ، په يوه کور کې دوه مسلمان ورونه چې مور ، پلار ، خويندې او ټوله کورنۍ يې په يوه دين (اسلام) وي ، يوازې له دې امله يو بل وژني چې يو يې د وهابيت پلوی وي او بل يې د حنفي مذهب! دا پېښه خو زموږ په هېواد کې د وژلو يو ډېر لوی لامل ده ، دلته خو د ((يوازې)) يوه معمولي کلمه ورته کارول شوې ؛ او بله دا چې په دې بېلګه کې د حق په پلوي کې يو ورور بل ورور وژلی يعنې يوه ورور غوښتل چې خپل دا بل ورور له باطلې! لارې راوګرځوي خو هغه يې خبره نه ده منلې ځکه قضيه تر دې ځايه رسېدلې. زموږ ټولنه له داسې پېښو هم برخمنه ده چې د يوه درېيم کس د حق او باطل په پرېکړه کې د زوی او پلار او دوو ورونو ترمنځ داسې حالات رامنځته شوي.

د ټول بشري تاريخ له لوستلو او څېرنې وروسته همدا په ډاګه کېږي چې جنګ ، جګړه ، د وينې بهېدل ، د تورې او توپک اړتيا يوازې او يوازې هماغه وخت پېښه شوې چې کله د انسانانو يوې ډلې غوښتلي ، چې ترمنځ يې يو والی او اتفاق رامنځته شي. که د دې پر ځای دوی د ځينو نورو ارزښتونو لپاره هڅه کړې وای ، نو نن به هغه جنت ته چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله تعالی یې راسره ژمنه کړې په تمه نه وو ، بلکې همدا نړۍ به راته یو جنت ګرځېدلای وو.

د یو بل منل — هغسې خنګه چې هغوی دي — یو لوړ او اوچت انساني ارزښت دی ، د دې ارزښت په خپلولو بشري ټولنه خپل اوج ته رسېږي او د دې ارزښت تر پښو لاندې کول د ټولنې د ځوړتیا پیلامه ګرځي.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ملا

په اسلامي ټولنو کې د ((ملا)) په نوم شخصیت ته ډېر قدر او درناوی ورکول کېږي. ملا هغه چاته ویل کېږي چې دیني زده کړې یې تر یوې اندازې کړې وي او په یوه جومات کې د امامات او وعظ دنده ترسره کوي. خو د زده کړو دا کچه په ټولو ملایانو کې ثابته نه وي ، بلکې یوازې ځینو ځینو ملایانو د دین بشپړه پوهه ترلاسه کړې وي ، خو ډېری ملایانو یوازې د دین په اساساتو ، د امامت د کولو په طریقه او د وینا په طرز ځان پوه کړی وي او په بېلا بېلو ځایونو کې د امامت (چې زموږ په ټولنه کې یې ملایي بولي) دنده مخته وړي.

زموږ په ټولنه کې شته ملایان له درې ادرسونو څخه دې دندې ته رسېږي. یو ډله ملایان هغه دي چې هغوی د دیني زده کړو لپاره شاوخوا ګاونډیو هېوادونو ته ځي ، هلته خپلې دیني زده کړې پوره کوي او بېرته خپل هېواد ته راستنېږي ؛ بله ډله ملایان هغه دي چې د هېواد دننه مدرسو کې خپلې دورې او درسونه پوره کوي ؛ او درېیمه ډله یې هغه وي چې نه له هېواد نه دباندې ځي او نه په هېواد کې دننه مدرسو ته سر ورښکاوي ، بلکې د ابتدایي نوعیت شیان په خپله کورنۍ کې له مور او پلار نه زده کړي او ځینې کتابونه د خپل جومات له ملا نه ولولي.

په اسلامي ټولنو کې ملا ته په خورا درنه سترګه کتل کېږي او خبره یې په ډېر غور اورېدل کېږي ؛ خو دا چلن په ټولو اسلامي هېوادونو کې یو شانته نه دی ، بلکې د اسلامي هېوادونو ترمنځ د سیاسي ، اقتصادي ، ټولنیز او فرهنګي توپیرونو په اساس دا له یوې ټولنې نه بلې ته فرق کوي. په هغو اسلامي هېوادونو کې چې وګړي یې له دین نه خبر او په مسایلو باندې د غور او فکر ډېره وړتیا او ذوق لري ، هغوی د ملا خبره په پټو سترګو نه مني ، بلکې د علم او عقل په تله کې یې تلي او له هغه وروسته یې د خپلې عقیدې یا عمل په توګه غوره کوي. خو د دې برعکس ، په هغو ټولنو کې چې اکثریت

(c) ketabton.com: The Digital Library


وګړي يې له دين ناخبره او د علم او پوهې له رڼا لرې پاتې وي ، هلته د ملا ارزښت او درناوی د افراط بريدونه رانيسي.

په دا ډول ټولنو کې د خپل د جومات د ملا صېب لاس ښکلول ، بوټان ورته سمول ، د اوداسه اوبه ورته چمتو کول ، جای نماز ورته هوارول ، له ملا صېب په تګ کې دوه ګامه شاته تلل ، د ملا صېب په يو شخصي کار کې منډې ترړې کول ، او داسې نور ډېرى کارونه د ډېر سعادت او نېکمرغۍ وړ چارې بلل کېږي او د کلي خلک يې په ډېره مينه او خوشالۍ ترسره کوي او د ځان لپاره يې يو وياړ بولي.

د يو چا احترام او درناوی کول — که په اعتدال ولاړ وي — کوم بد عمل نه دی ، خو دلته يوازې احترام نه کېږي ، بلکې د ملا صېب هر قول او فعل ته هم د دين د يوه حکم او امر په سترګه کتل کېږي. د ملا هره خبره وروستۍ کرښه ګڼل کېږي او په دې ټولنو کې ملا او دين سره ورته ګڼل کېږي او توپير پکې نه کېږي. په دې معنا چې دين له ملا څخه سرچينه اخلي او ملا د دين او مذهب يو سمبول ګرځېدلی وي.

د ملا په دې څېره کې تر ټولو لوی رول د ملايانو خپل چلند ، رويه او شخصيت لوبوي. ملايان د يوې ټولنې د وګړو له ټول ژوند څخه راچاپېره وي. کله چې يو ماشوم پيدا کېږي ، د هغه په غوږ کې اذان کول ؛ د ۵ يا ۶ کلنۍ پر مهال په جومات کې د ملا تر لښتې لاندې سيپاره او لمونځ زده کول ؛ هماغه ځوان چې کله د واده پړاو ته ورسېږي ، د هغه نکاح ور تړل ؛ او په پای کې يې جنازه او قبر ته تر ور ښکته کولو پورې ، لنډه دا چې د يو انسان په ټول ژوند يې سيوری غوړېدلای وي. د يوه ملا او ديني عالم له خوا د دې کارونو تر سره کېدل بې له شکه د نېکمرغۍ چاره ده ، خو اصلي ستونزه هله رامنځته کېږي چې دا ملا په هر پړاو کې د دې انسان په ذهن کې دا خبره ور ځای کړي چې ستا د ژوند يو پړاو هم له ما پرته سرته نه شي رسېدلای ، که زه دې په غوږ کې اذان ونه کړم ، ته مسلمان کېدلای نه شې ؛ که زه لمونځ او قرآن در زده نه کړم ، ته به څنګه ځان مسلمان ګڼې ؛ د جمعې په وعظ کې که له بدې لارې د منع کېدو او ښې لارې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library


د راتلو نصیحت درته ونه کړم نو ستا د بې لارې کېدو پراخه امکانات دي ؛ له ماپرته ستا واده نه شي کېدلای او که زه دې جنازه ونه کړم ، نو الله به دې کله وبښي. د دې ډول فکر یوه لازمي پایله دا وي چې د دې انسان په ذهن کې دا خبره ژورې ريښې وکړي چې په رښتیا هم له ملا پرته زما ژوند نیمګړی دی او له نن نه وروسته باید د ملا هره خبره ومنم ، په هېڅ خبره یې نیوکه ونه کړم او د یوه دیني شعار په توګه یې پیروي وکړم ؛ ځکه که داسې ونه کړم ، نو هغه ثوک به مې خفه کړی وي چې د دنیا او آخرت نېکمرغي او سعادت مې ور پورې تړلي دي.

د دې ترځنګ ، بل مهم عنصر د دین او مذهب په اړه هغه فکر دی چې ملایان یې خپلو خلکو (مقتدیانو) ته ورکوي. ملایان د دین او مذهب په اړه خپله سریزه په دې ډول بیانوي: ((دا د الله تعالی دین دی ، د محمد (ص) له لارې تر صحابوو رارسېدلی ، صحابوو تر نورو نسلونو رسولی او دا ده اوس تر موږ (ملایانو) پورې را ورسېد ، له دې وروسته د دې دین د بیانولو او خپرولو مسؤلیت زموږ له غاړې ده.)) د دوی دا خبره پر ځای ده ، او قرآن کریم کې هم د علماوو دنده همدا ښوول شوې چې یوه ډله دې دین زده کړي او بیا دې یې تر نورو پورې ورسوي. خو ستونزه هغه وخت را پیدا کېږي چې کله دوی د دین د رسولو یا تبلیغ پسې پایڅې را بډ وهي. د علماوو عمومي مزاج داسې وي چې هغوی دین د یوه علم په ډول نه رسوي او نه داسې چلن ور خپلوي چې د دین اصلي ماخذونه بې له کوم ځاني تفسیر او تعبیر څخه د خلکو په وړاندې کېږدي ؛ بلکې دوی دین له خپل تفسیر او تعبیر سره یو ځای وړاندې کوي او په داسې ډول یې بیانوي چې اورېدونکی فکر وکړي چې د دین په تړاو همدا وروستی ټکی دی ، همدا تر ټولو صحیح تعبیر او مفهوم دی او پر دې تعبیر نیوکه او تنقید کول په اصل کې په دین تنقید کول دي او پر دین نیوکه کول یوه ناسمه او ناروا کړنه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپل تبليغي روش کې ، ملايان پر خپلو نظرياتو نيوکه نه مني او دا کار د اسلام په خلاف بولي. کله چې له دوی نه د يوې مسئلې يا حکم دليل پوښتل کېږي ، نو ډېر ښه چلن به يې دا وي چې ووايي:

((آيا کله دې له ډاکټر نه هم پوښتنه کړې چې د دې درملو چې ته يې راکوې ، دليل څه شی ده ؟ اوس چې زه د الله او رسول دين درته بيانوم ، نو له مانه دليل غواړې ؟))

که نه د ډېری ملايانو چلن هماغه څه وي چې موږ يې پخپله ټولنه کې شاهدان يو يعنې کوم چا چې پوښتنه کړې وي او بحث يې ورسره پيل کړی وي ، نو د هغه د نيت او هدف پرېکړې به پيل شي ، په ډول-ډول ټاپو به ونازول شي او ټولنې ته به هغه شخص په داسې ډول ور وپېژني چې نور به هغه سړی هېڅکله په هغه ټولنه کې په لوړ سر ونه شي ګرځېدلای.

درېيم هغه عنصر چېرته چې ملايان د دين او مذهب په نوم د خپل اغېز د زياتولو لپاره کار ترې اخلي هغه د جمعې ورځې منبر ده. په دې دريځ کې د ملايانو بېلا بېل ډولونه ليدل کېږي ؛ يو ډول ملايان د وعظ او نصيحت پر ځای د پخوانيو وختونو کيسې بيانوي او ډېری کيسې يې داسې وي چې نه يې سند معلوم وي او نه پکې د پند او نصيحت کومه خبره وي. دوهمه ډله ملايان بيا له دې منبر څخه د نورو مذهبي او ديني ډلو د تحقير ، سپکاوي ، د هغوی په اړه د کفر او شرک فتوا ورکولو او داسې نورو چارو لپاره کار اخلي. د لومړۍ ډلې يوازينی زيان دا دی چې د خلکو وخت ور ضايع کوي او د منبر له اصلي دندې څخه غافله وي. خو په دې کې تر ټولو زيانمن او خطرناک يې دوهمه ډله دي چې په خلکو کې د غوره ارزښتونو او سپېڅلو اخلاقو د راټوکولو پر ځای د خپلې ټولنې د وګړو په اړه ناسم تصورات ، د نفاق او کرکې لاملونه او شخړې رامنځته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


کله چې یو ملا د یوې مذهبي ډلې په اړه د کفر فتوا ورکوي ، نو په حقیقت کې خو ده ته ښکاري چې د دین یو ډېر اعلی او ستر کار یې کړی خو د نوموړي پام نه وي او نه پوهېږي چې د دې کار پایله به یې څه وي. ملا دې ته نه ګوري چې دا ناست خلک به ټول ژوند په همدې جومات کې نه تېروي ، بلکې دباندې به وځي او په هماغه ټولنه کې به ژوند کوي ، په کومه ټولنه کې چې د هغه مذهب پلویان هم شته چې ملا تکفیر کړي. او د یوې ټولنې د وګړو په توګه به دواړه ډلې (تکفیر شوې او د ملا مقتدیان) یو بل سره ډول ډول کاروباري او ټولنیزې اړیکې پالي ، کله چې دا لوری په دې فکر اوسي چې دا بل کافر دی نو هغه مهال به د دوی تر منځ د اړیکې نوعیت په څه ډول وي ؟ د دوی ترمنځ به ټولنیز نظم په څه ډول رامنځته کېږي ؟ او کله چې (خدای مه کړه) د دوی ترمنځ په کومه خبره شخړه وشي ، نو آیا دواړه لوري به د یو بل په خلاف د خپلو مذهبي ملایانو هغه فتوا ونه کاروي ؟ او کله چې دا فتوا د دواړو لورو له خولو راووتله ، نو له هغه وروسته به چې کوم حالت رامنځته کېږي ، په الفاظو کې یې بیانول سخت کار دی.

دلته بحث په دې نه دی چې یوه ډله کافره او بې لارې ده او که نه ؟ بلکې د خبرې هدف دا دی چې ملایان باید په دې فکر وکړي چې د دوی د یوې خبرې پایله به څه وي او موږ دا خبره کوم ډول خلکو ته کوو ؟ آیا دا خبره به د یوه اصل او مسئلې په ډول د خلکو په ذهن کې پاتې کېږي او که به په عملي ژوند کې دا خبره اطلاقي اړخونه هم مومي ؟ ښکاره خبره ده چې د دې اصل ، اطلاق به کېږي او هر اطلاق خپلې پایلې زېږوي.

پکار دا ده چې په دواړو خواوو کې یو بدلون او تغیر رامنځته شي. ملایان پخپل چلن ، وعظ ، خبرو او رویه کې بدلون راولي ، او خلک باید په دې ځان پوه کړي چې ملا پیغمبر نه ، یوازې د دین یو مبلغ دی. هر کله چې یو ملا — که هر ملا و عالم وي —

(c) ketabton.com: The Digital Library


یوه خبره وکړي ، پکار ده چې د هغې خبرې دلیل ترې وپوښتل شي ، او ملا ته دا وویل شي چې دین د یو چا شخصي ملکیت نه ، بلکې د الله تعالی پیغام دی.

په دې ځای کې به د دین د اصالت په اړه یو څو خبرې ښې وي. د الله تعالی دین نن ورځ د قرآن او سنت په شکل کې په بشپړ ډول په خپله اصلي بڼه موجود دی ، نو په دې حالت کې یو څوک هیڅ دې ته اړتیا نه لري چې د دین په اړه د یو چا خبره و نظر وروستۍ کرښه وګڼي. بلکې وروستۍ او اخري خبره به یوازې د قرآن او د سنت خبره وي. زموږ د ټولنې خلکو ته پکار ده چې په دې برخه کې خپل چلن ته تغیر ورکړي او د تحقیق او څیړنې لار ور خپله کړي. په دې معنا چې کله له یوې مسئلې سره مخ شي ، نو لومړی وګرځي د دین هغه عالم پیدا کړي چې د نورو په پرتله د ده زړه ډېر پرې ډاډه وي ، له هغه دې د هغې مسئلې پوښتنه وکړي ، بیا دې د هغه ځواب دلیل ترې وپوښتي ؛ که یې دلیل قانع کوونکی وو نو هغه خبره دې ومني ، که نه بل عالم ته دې ورشي ، د هغه نظر دې واوري ، له هغه دې هم دلیل وغواړي ، که دا هم ورته ډاډ بښونکی نه وو نو همدې کړنې ته دې تر هغو دوام ورکړي چې تر ټولو غوره ځواب ته نه وي رسیدلی. خو که بیا هم داسې حالت رامنځته شو چې د هیچا خبرې قناعت ور نه کړ ، نو بیا د الله ټول دین په خپل لومړني شکل خوندي دی ، هغه ته دې مراجعه وکړي او غور او فکر دې پکې وکړي. له هغه وروسته دې په پوره اخلاص او د یوه ربښتوني محقق په څېر د ځان لپاره یوه رایه غوره کړي او په هماغه رایه دې تر هغو عمل کوي تر څو پورې چې کوم عالم په علمي او عقلي استدلال د ده د رایې غلطي او ناسموالی ور په ګوته نه کړي. دا د ستونزې د هوارتیا او د ملایانو له بې ځایه نفوذ او اغېز څخه د خلاصون تر ټولو اغېزمنه او معتدله لاره ده.

په دې تګلاره عموماً دا نیوکه کېږي چې په دې ډول به د هر چا چې زړه وي یوه یوه رایه په سم یا ناسم ډول غوره کوي ، او له دین څخه به د ماشومانو د لوبو یو توکی جوړ وي. خو د موضوع حقیقت په دې ډول نه دی ؛ له دې لارې چې کومه رایه غوره

(c) ketabton.com: The Digital Library


شوې وي هغه به تر هغو د هغه کس لپاره د عمل وړ وي تر څو پورې چې په ((علمي او عقلي استدلال)) د هغه غلطي نه وي روښانه شوې. او کله چې يوه مفکر او په دين پوه عالم غلطي ور په نښه کړه ، نو بيا به له هر ډول کينې ، بغض ، جذباتو او تعصباتو پورته په پوره اخلاص هماغه استدلال مني. خو د دې نوي عالم نظر به هم تر هغو منل کېږي تر څو چې يو بل عالم را پورته کېږي او د دې عالم غلطي هم په بشپړ استدلال سره روښانه نه کړي. علم يو بحر ده او د بحر ښکلا په رواني او بهېدو کې وي. د علمي بحر په درولو په ټولنه کې پرمختګ نه شي رامنځته کېدلای. په همدې ډول دين ته هم بايد د علم په سترګه وکتل شي او نوو نظرياتو ، نوو تحقيقاتو او اوسنيو څېړنو ته په پراخه سينه ښه راغلاست ووېل شي. او له ځينو پوچ مغزو ذهنونو څخه را پيدا شوی هغه فکر او تصور بايد له منځه يو وړل شي چې په دين کې د اجتهاد ، غور ، فکر ، تدبر ، څېړنې او تحقيق دروازې تړل شوې دي.

له دين ور هاوخوا يو بل کار چې ملايانو په دې ټولنه کې ترسره کړی هغه د دې ټولنې خلکو ته د نورې نړۍ ، ساينس او ټکنالوجي په اړه ناسم او غلط ليدلوری ورکول دي. د نورې نړۍ او ساينسي علومو په اړه د ملايانو دريځ په کرکه ، وېره ، ناسم پوهاوي ، او نيمګړو معلوماتو بنا وي. د ساينس د هرې لاسته راوړنې او اکتشاف په اړه د دوی نظر منفي او د هفه خلاف فتوا سره مل وي ، خو د حيرانتيا ځای دا وي چې د هغه ساينسي ايجاد له کارولو بيا لاس هم نه اخلي.

دغه راز ، د نړۍ په اړه هم زموږ خلکو ته يو منفي او له تيارو سره ملګری فکر او تصور ورکوي او ټوله نړۍ بې دينه ، په الحاد ککړه او له اخلاقو لوېدلې ور معرفي کوي. حال دا چې حقيقت داسې نه دی.

د دې ستونزې حل لاره دا ده چې نن ورځ نړۍ په يوې نړيوالې ټولنې بدله شوې. هر وګړی کولای شي چې په مستقيم ډول د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه ځان خبر کړي. په دې اړه د بل چا لارښوونو ، مشورو او نظرياتو ته هېڅ اړتيا نشته. همدا راز په دې بايد

(c) ketabton.com: The Digital Library


پوه شو چې ساینس د بشري عقل او فکر لاسته راوړنه او د ټول انسانیت مشترکه پانګه ده. د دې پانګې نه یوازې هرکلی او ستاینه یې وکړو ، بلکې د ودې او پرمختګ لپاره یې باید هر اړخیزه هڅه هم وکړو. په دې باید ځان پوه کړو چې زموږ ملایانو د نړۍ په کوم پرمختللي پوهنتون کې د ساینس او ټکنالوژۍ زده نه دې کړې ، له همدې امله دې ته اړتیا هم نشته چې د یوې ساینسي لاسته راوړنې او اختراع په اړه د دوی خبرو یا فتواوو ته غوږ کېږدو. او دلته باید بیا هماغه چلند را خپل کړو چې پورته یې یادونه وشوه او پخپله دا څېړنه وکړو چې آیا زموږ دین د دې لپاره راغلی چې د یوې ساینسي اختراع غندنه وکړي او که د انسان د اخلاقي وجود د ښېګنې او بهبود لپاره نازل شوی؟ د قرآن موضوع د ساینسي تحقیقاتو دروازې تړل نه ، بلکې انسان ته د یوه خدای او اخرت ور پېژندنه ده.

په دې اړه د ملایانو لپاره تر ټولو غوره چلند دا کېدلای شي چې هر کله داسې یو څه ویني چې هغه د انسان د اخلاقي سرکښۍ لامل ګرځېدلای شي ، هغه په دلیل سره روښانه کړي ، خلکو ته یې د فتوا په ډول نه ، بلکې د یوه علمي تحقیق په څېر وړاندې کړي ؛ هغسې چې د نړۍ لوی لوی علمي مرکزونه د یوې نوې موضوع په اړه خپل تحقیقات په علمي او اکاډمیک ډول وړاندې کوي. د ملا او عام وګړي تر منځ حَکم باید په هر حال کې دلیل وي.

د نن ورځې ملا باید په دې ځان پوه کړي چې ننني عصر د علم ، دلیل او استدلال دور دی او دین به د علم په توګه په استدلال تر خلکو رسوي ، او د ده فتواوو ، ټاپو ، په تبلیغي ډول د دین رسولو دور پای ته رسېدلی دی. نوی عصر نوې غوښتنې لري ، پکار ده چې د هر پوړ فرد چمتوالی ورته ونیسي.

د پورتنیو نکاتو تر څنګ ، د ملایانو له امله ټولنې ته پیښ هر ډول ګواښ د لاندې دوو لارو په مټ له منځه وړل کېدای شي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف) یو دا چې د هر جومات لپاره امامان د حکومت استازي وټاکل شي. تر څو د حکومت او په ټوله کې د دې ټولنې استازیتوب وکولای شي. او یا که دا کار سخت وي ، نو بیا د مدرسو له ملایانو څخه د جمعې ورځې منبر واخیستل شي او یوازې په همدې ورځ (جمعې په ورځ) هغه علما خلکو ته وعظ او نصیحت وکړي چې د دولت له خوا ګمارل شوي وي. او د اسرائیلیاتو د کیسو او افسانو په ځای سوچه دیني او علمي ویناوې ورته وکړي.

ب) دوهمه حل لاره یې دا ده چې د دې ستونزې اصلي ریښه – مدرسه – له جرړو وایستل شي او په ځای یې په عصري غوښتنو او معیارونو سنبال دیني او علمي درس ځایونه رامنځته شي. دا کار هم تر ډېره د دولت مسؤلیت دی. پکار ده چې داسې درس ځایونه جوړ شي چې هلته یو ماشوم له لومړۍ ورځې څخه لا د دین په عالم کېدو بوخت نه شي ، بلکې لومړی یو ماشوم د دې لپاره اماده کړای شي چې د ځان لپاره د علمي مسیر د ټاکلو جوګه شي. له هغه وروسته که یو ځوان غواړي چې د دین عالم شي نو د هغه زمینه هم ورته مساعده وي. خو دلته هم یو شي ته پاملرنه ډېره اړینه ده چې دین به د یوه ځانګړي حنفي ، شافعي ، مالکي ، حنبلي یا شیعه تعبیر او تفسیر له مخې نه تدریس کېږي ، بلکې د یوه علم په توګه به یې ښوونه کېږي.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ښځه

بشري ټولنه په دوو اساسي ستنو ولاړه ده: ښځه او سړی. دا نړۍ د ښځې له شتون پرته نشت ده ، او که بل خوا سړی نه وای نو بیا به هم دا نړۍ نه وه. د بشري ټولنې اساس ښځه او سړی دواړه په ګډه جوړوي ، دواړه له یو بل پرته نیمګړي دي او نه شي کولای چې ربنتینې ارامتیا او هوساینې ته ورسېږي. دواړه د یو بل د اړتیاوو د پوره کولو لپاره پیدا کړای شوي. د خلقت له مخې په دواړو کې هېڅ ډول تفاوت او توپیر نشته. د دواړو ریښه یوه ده او له هر اړخه دواړه سره برابر دي. په دوی کې حاکم او محکوم نشته ، آمر او مامور نه لري ، او کم او زیات نه لري ، ښځه په خپل ذات کې ناقص العقله نه ده ، او د سړي په اړه دا تصور ناسم دی چې د ښځو په پرتله ډېر عقلمن او هوښیار دي. د دې نړۍ رښتینې سوکالي او پرمختګ هغه مهال ممکنه کېږي چې کله دواړو ته په نړۍ کې په مساوي او ورته ډول برخه او حقونه ورکول شي ، له دې پرته د نړۍ پرمختګ د خپل اساس له مخې یو ناشونی کار دی.

د انسان په ژوندانه کې ښځه ګڼ رولونه لوبوي. انسان وړوکی ، بې وسه او ناتوانه وي ، نو ښځه د مور په شکل کې را وړاندې کېږي او له مینې او ارامتیا ډکه غېږه کې ځای ورکوي. په هلکوالي کې یو چاته اړتیا لري چې لوبې ورسره وکړي ، ښځه د خور په شکل ورسره وي. په ځوانۍ کې یوه ملګري او داسې چاته اړمن وي چې د خپل زړه حال او راز ورته ووایي ، ښځه یې د مېرمنې په ډول په خوا کې وي. په زړښت کې یو چاته اړتیا لري چې خدمت یې وکړي ، ښځه یې د لور په بڼه هر امر ته تیاره ولاړه وي. د انساني ژوند په هر پړاو فکر وکړئ ، یوه برخه به هم داسې ونه مومئ چې هلته د ښځې شتون مو تر سترګو نه شي.

خو له دومره ملتیا او ملګرتیا تر څنګ هم ښځه زموږ د ټولنې تر ټولو بې وزلې او مظلوم مخلوق دی. د ښځو حقونه تر پښو لاندې کول ، په میراث کې برخه نه ورکول ، زده کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې ته نه پرېښودل ، د کار لپاره له کور څخه د وتلو اجازه نه ورکول ، د يوې محکومې او مظلومې طبقې په ډول چلن ورسره کول ، تر دې چې کله نا کله يې انسان هم نه ګڼل ، دا ټول هغه څه دي چې زموږ د ټولنې په هر کونج کې ليدل کېږي.

د ښځو پر وړاندې تر ټولو لوی تاوتريخوالی او ظلم دا دی چې دوی زده کړو ته نه پرېښودل کېږي. له ماشومتوبه نيولې تر پيغلتوب پورې يوه ښځه د کور په کارونو بوخته وي او کله چې واده شي بيا د خپلې خواښې او خسر په ظلمونو او د خپل مېړه په خدمت کې خپل ټول ژوند قرباني کړي.

د ښځو پر وړاندې دا تاوتريخوالی ژور شاليد لري چې دلته به يې په دوو اساسي ټکو کې را لنډ کړو:

يو ، د ښځو په اړه تر ټولو ناسم تصور او غلط ليدلوری زموږ ملايانو خلکو ته ورکړی. د ښځو په اړه به ملايان هغه خبرې کوي چې يو شريف النفس انسان يې په خوله هم نه شي راوړلای چې ځينې به يې د خبرې د اثبات لپاره دلته را واخلو: ((ښځه بايد له کور څخه ونه وځي. که ښځه له کور څخه راووتله ، بې دينۍ ته لار هوارېږي. ښځه د شيطان ځاله ده. ښځه زده کړو ته هېڅ اړتيا نه لري ځکه چې بيا بې لارې کېږي. الله تعالی ښځه د کور لپاره پيدا کړې...)) او داسې نورې ډېرې بې بنسټه او له علم او عقل لرې خبرې ترې اورېدل کېږي چې د اسلام په سپېڅلي دين کې يې اصلا لوری و درک نه وي. دا چې زموږ د ټولنې اکثريت وګړي له علم او پوهې څخه لرې پاتې شوي ، او د ملا اغېز يې ډېر زيات په زړونو کې ناست دی ، نو دا دواړه (د خلکو ناپوهي او ملا) سره يو ځای شوي او ښځه يې له خپل ژوند څخه بېزاره کړې.

دوهم فکتور چې په دې برخه کې يې ډېر کرغېړن رول لوبولی هغه ټولنه ده. او د ټولنې د دې رول تر ټولو لوی لامل ناپوهي ده. ناپوهي هغه ناروغي ده چې د يوه انسان عقل او فکر ورستوي او د بصيرت سترګې يې ور پټوي. د ناپوهۍ پر مهال يو انسان ښه او

(c) ketabton.com: The Digital Library


بد نه ویني. زموږ د ټولنې ټول هغه کسان چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي په برخه کې یې پایځې را بدې وهلي وي ، داسې نه وي چې هغوی دا کار د کومې ټولنیزې ، مذهبي ، اقتصادي یا سیاسي مجبورۍ له مخې کوي ، بلکې هغوی دا کار ښه ګڼي او ښه هم هغه ((ښه)) نه وي چې علم او عقل یې ((ښه)) ګڼي. بلکې د دوی د پوچ مغزو ذهنونو زېږنده وي. هر ګوره چې له دوی نه د ناپوهۍ دا تیارې ایسته شوې ، هغه ورځ به دوی پوه شي چې پخپلو کړنو کې څومره تېروتي او کارونه یې څومره د عقل خلاف وو. دا امکان نه لري چې په ټولنه کې دې ناپوهي پاتې وي او د ښځو پر وړاندې اوسنی روان وضعیت دې تغیر وکړي. نو له هر څه وړاندې باید د ښځو په اړه زموږ د خلکو تصور بدل او په دوهم قدم کې زموږ پر اذهانو باندې د ملایانو اغېز له اوبو سره لاهو کړای شي.

خو دا کار د هغو ښځو له شتون پرته ناممکنه ده چې د مسایلو سم درک یې کړی او د ستونزې په هر اړخ یې ځان پوه کړی. پکار ده چې په دې برخه کې هغوی را وړاندې شي او د نورې نړۍ د ښځو په څېر د خپلو ربښتینو او اساسي حقونو — چې علم او عقل یې غوښتنه کوي — غوښتنه وکړي. په دې برخه کې یوه لویه ستونزه د ښځو وېره وي ، له کورنۍ وېره ، د ټولنې له خوا د رټل کېدو وېره ، او داسې ګڼې وېرې د ښځو په ذهنونو کې را ټوکېږي ؛ خو دوی باید پوه شي چې که په ربښتیا هم کوم څه چې دوی غواړي هغه حق دي ، نو ټوله نړۍ به له دوی سره اوږه په اوږه شي ځکه د حق د ترلاسي لپاره هېڅوک یوازې او بې وسه نه دی پاتې شوی. د بشري تاریخ له ځغلندې کتنې څخه دا خبره له ورایه برېښي. دا کار یوازې باید په لویو لویو ښارونو کې ونه شي ، بلکې په هغو لرې پرتو سیمو کې چې ډېری کونډې د خپلې خوابښې او خسر تر ظلمونو ، ډېری یتیمانې د نورو د تېري ښکار ، ډېری بااستعداه او تکړه نجونې له زده کړو لرې ، ډېری میندې د خپلو زامنو او مېړونو له لاسه په تریخ ژوند او داسې ډېرو نورو ناخوالو کې ژوند تېروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


که غواړو دا ټولنه د بریا هسکو ته ورسوو او له نړۍ سره یې سیاله کړو ، نو پکار ده چې د دې ټولنې په علم سنباله او پوهې ښځې را پورته شي.

په دې ځای کې به د ښځې د ژوند هغه دوه پړاوونه تر څېړنې لاندې ونیسو چې د ښځو په ژوند کې د ستونزو او ربړو د را ټوکېدو اصلي پړاوونه دي:

۱- له واده مخکې پړاو: دا پړاو د یوې ښځې له پیدایښت څخه پیل کېږي او بیا تر هغې ورځې پورې دوام کوي چې کله خپل پلرنی کور پرېږدي او د خپل ژوند له ملګري سره د ژوند تېرولو تړون وکړي.

په دې ټولنه کې د یوې ښځې بدمرغي تر دې ځایه رسېدلې چې د یوې نجلۍ په پیدایښت او زوکړه خوشالي هم نه کېږي ، بلکې په کوم کور کې چې نجلۍ پیدا شوې وي ، هلته د غم او خفګان ټغر خور وي او یو بل ته زېری او یا مبارکي هم نه ورکول کېږي! د نجلۍ هرکلی په خوشالۍ او مینه نه کېږي ، بلکې د یوې نجلۍ لومړۍ ورځ لا دا په ډاګه کړي چې دا ټولنه د نارینه وو کور ده او ښځه دلته یو بې حیثیته موجود دی.

له زوکړې وروسته د نجلۍ روزنه پیل شي. د روزنې په برخه کې څومره پام چې یو پلار خپل زوی ته کوي ، خپلې لور ته یې نه کوي ، او تر دې پورې چې داسې زړونه هم شته چې تر هغو پورې د لور څېره لیدل هم نه خوښوي تر څو پورې یې چې لور پخپلو پښو مخې ته نه وي راغلې او مخامخ ورته ونه درېږي. هلکان په ماشومتوب کې د قرآن کریم د زده کړې لپاره جومات ته لېږل کېږي ، خو نجلۍ له دې امله چې په راتلونکي کې به ښځه وي ، جومات ته نه لېږل کېږي او د علم او حکمت له لویې سرچینې څخه د ټول ژوند لپاره بې برخې پاتې شي. دلته هغه نجونې نېکمرغه دي چې الله ورته په علم سنباله او په دین پوهه میندې ورکړې وي. د نجونو ښوونځیو ته د لېږلو خو هېڅ پوښتنه نه پیدا کېږي ، او که کومه نجلۍ ښوونځي ته د تګ اجازه یا غوښتنه وکړي ، نو د هغې بې

(c) ketabton.com: The Digital Library


وزلې په وړاندې ډول ډول له ځانه جوړې شوې کيسې پيل شي چې فلانۍ نجلۍ هم ښوونځي ته تله او مور او پلار يې هېڅ خير ترې ونه ليد. حال دا چې ډېرى دا کيسې پر دروغو بنا وي. بله دا چې ، دا ډول مور او پلار دې دا نه هېروي چې ډېرى تعليم يافته ځوانان هم شته چې له هغو ځوانانو څخه ډېر بې لارې او بې خيره دي چې زده کړې يې نه دي کړې ، نو له نن نه وروسته دې هلکان هم ښوونځيو ته نه لېږي!

دا چې يوه نجلۍ ښوونځي ته نه شي تللی ، نو هرومرو د کور کارونو ته پاتې کېږي. د بې تعليمه کورنيو ميندو يوازينۍ هيله دا وي چې لور يې د کور په کارونو کې تکړه شي ، ډوډۍ پخول يې ښه زده وي ، پخلی وکړای شي ، او د کور په جارو کولو کې تنبلي ونه کړي ؛ او ټول پام يې همدې ته وي. د دوی د دې شوم ګام له امله هغه نجلۍ چې الله تعالی د دې ټولنې د يوې لويې اړتيا پوره کولو لپاره دې نړۍ ته را استولې وي ، هغه اړتيا نيمګړې او نابشپړه پاتې شي. ښايي دا نجلۍ الله تعالی د دې لپاره خلق کړې وي چې يوه ښه ډاکټره شي او د خپلې ټولنې د ښځو درملنه وکړي ، ښايي يوه تکړه انجينره ، ديني عالمه ، وياند‌ه ، وکيله ، وزيره او يا هم داسې ولسمشره شي چې د هېواد د ټول برخليک او سرنوشت لپاره د تغير او بدلون لامل وګرځي. زموږ خلک بايد په دې پوه شي چې الله تعالی ښځه د نړۍ د يوې نيمګړې برخې د بشپړولو لپاره خلق کړې ، که موږ اجازه ور نه کړو ، نو په حقيقت کې به مو د الله تعالی د ټاکلې طرحې په خلاف ګام اوچت کړی وي.

له دې ټول نامساوي او پر ظلم بنا چلند سربېره ، تر ټولو ستر تېرى له يوې ښځې سره هغه مهال ترسره کېږي چې کله د هغې له اجازې او خوښې پرته د هغې د ژوند تر ټولو لويه يعنې د خپل ټول ژوند د يو چا په نوم کولو ، پرېکړه کېږي. په دې برخه کې زموږ په ټولنه کې له يوې نجلۍ د هغې خوښه او اجازه غوښتل يو شرم او تابو ګڼل کېږي. او که يوه نجلۍ د نيوکې غږ اوچت کړي ، نو د هغې بې وزلې ژوند په همدې نړۍ کې د دوزخ ژوندۍ بېلګه وګرځي. په دې ځای کې هغه ستر ظلم تر بحث لاندې نه دی چې

(c) ketabton.com: The Digital Library


یوه نجلۍ په بدو کې ورکول کېږي یا د ډېرو پیسو په بدل کې یوه عمر خوړلي سپین ږیري ته ورکول کېږي او یا په ځینو ټولنو کې په ماشومتوب کې لا د خپل قوم د یوه کوچني ماشوم هلک په نوم کېږي ؛ دا ټول ځکه تر بحث لاندې نه نیسم چې په دې ځای کې زموږ موخه د یوه انسان ناوړه چلندونو ته کتنه کوو ، دا کوم څه چې یاد شوو دا د یوې انساني ټولنې تر ټولو شرمناکه او حیواني څېره ده. او له دې پورتنیو دودونو او کارونو څخه را ټوکېدونکې پایلې هغه څه دي چې د انسان اروا لړزوي. د خپل ژوند د ملګري غوره کول د ښځې خپل حق دی او که موږ دا حق ترې واخلو ، نو خپل انسانیت به مو تر پښو لاندې کړی وي.

۲- له واده وروسته پړاو: د ښځې د ژوند لومړنی پړاو د واده په ورځ پای ته رسېږي او دوهم پړاو یې پیلېږي. په دې پړاو کې ښځه له یوې مخې یوه نوي او بېل ځای کې پښه ږدي. د مور او پلار په ځای خواښې او خسر وي ؛ د ورونو او خویندو په ځای لېورونه او خوښینې وي ؛ دا پخپله د یوې خور او لور په ځای ناوې ، نږور او مېرمنه شي. که د ښځې په وړاندې د لومړني پړاو مسؤلیت لرونکي کسان په دې پوه شي چې په دوهم پړاو کې یوه ښځه یوازې له یوه کور څخه بل کور ته نه لېږدول کېږي ، بلکې د هغې ټول ژوند ، چاپېریال ، اړیکې ، رول ، کرکټر او شخصیت تغیر کوي ، نو فکر نه کوم چې د نکاح او واده مسئلې سره به یوازې د پټو سترګو د معاملې په څېر چلند وکړي.

له واده وروسته پړاو د ټولو ښځو لپاره یو شان نه وي ، بلکې له یو بل سره توپیر لري چې دلته به په هر یوه بېل بېل لنډ بحث وکړو او دا پړاو د واده پر هغه تړون بنا وي چې د لومړني او دوهم پړاو د مسؤلینو ترمنځ شوی وي او د تړون هر ډول خپلې خپلې پایلې لري:

۱- یو هغه تړون دی چې زموږ په ټولنه کې د بدل په نوم یادېږي. د دې تړون نوعیت داسې دی چې یو لوری خپله لور مقابل لوري ته د هغه د لور په بدل کې ورکوي. دا تړون د اسلامي فقهې له مخې یو مکروه تړون دی ، خو زموږ په ټولنه کې په پراخه ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library


دود دی. د دې ترون پايلې ورو ورو ځان نه ښکاره کوي ، بلکې له لومړۍ ورځې د دې ترون ژوند ويجاړوونکي نتايج پيل شي. په دې ترون کې يوازې د يوې ښځې ژوند عذاب نه ګرځي ، بلکې د دوو ښځو ژوند هم مهاله تريخېږي. څنګه چې دا ترون د مساواتو په اساس شوی وي ، نو دواړو خواوو ته له هغو بې وزلو ښځو سره چلن هم د مساواتو په اساس ورته او يو ډول ترسره کېږي. که يوه لور ته پر ښځه ظلم کېږي ، نو دې بل لور ته هم پرې کېږي ؛ که هلته ښځه وهل او رټل کېږي ، نو همدا څه دې بل لوري ته هم ورسره کېږي. او څنګه چې د يوه لوري ژوند له کړاوه ډک وي ، په همدې ډول د هغه بل لوري ژوند هم د زهرو ګوټ تېرول وي. زموږ خلک بايد په دې پوه شي چې ښځه يو انسان ده ، او هېڅکله بايد د بارتر د اصولو له مخې د اوزګړو او پسونو په څېر تبادله نه شي.

۲- دوهم ډول هغه دی چې د نجلۍ په بدل کې پرېمانه پيسې اخيستل کېږي. د دې ظلم اثار يوازې د ښځې تر ژوند پورې محدود نه وي ، بلکې د هلک ژوند ته يې هم لاړ کړي. زموږ هېواد چې له اقتصادي اړخه په پښو ګوډ هېواد دی ، ډېری ځوانان له همدې امله خپلې دې بشري اړتيا ته د رسېدو لپاره ټول ژوند د مسافرۍ له کړاو او ناخوالو ډک ژوند تېرولو ته اړ کېږي او يا ترې بې برخې پاتې وي. خو کله چې په يو نه يو ډول دا ترون سرته ورسېږي ، له هغه وروسته د ښځې د ژوند ترخې او ځوروونکې ورځې پيل شي. د خواښې له خوا په وړه وړه خبره پيغور ، په وړه تېروتنه د ولور په پيسو پښېمانتيا ښودل ، او داسې نور هغه څه وي چې د ښځې په ټول ژوند کې ورسره ملګري وي. دا ترون يوه بله بڼه هم لري ، هغه د يوې ښځې په بدل کې لږ ولور اخيستل دي. د ډېرو پيسو په اساس شوي ترون کې يوازې د ترون يو لوری (د هلک لوری) ځورېږي او د دې ناوړه دود پايلې تېروي ؛ او لږ تر لږه دا بل لوری (پخپل زړه کې) ځان يو څه له مادي اړخه خوشاله او ښه احساسوي. خو د کمو پيسو ترون د دواړو خواوو ژوند د زهرو جام وي چې ټول ژوند يې له ستونې ښکته کوي. د نجلۍ کورنۍ ته د ټولنې له خوا دا پيغور

(c) ketabton.com: The Digital Library


ورکول کېږي چې لور پرې ګرانه نه وه ، لور يې ښه نه وه ، او داسې داسې خبرې به ورته کوي چې له هغه وروسته به د ټولنې نورو وګړو ته هم دا کار د عبرت او پند پېښه شي ؛ او د هلک کورنۍ بيا نجلۍ ته دا پيغورونه ورکوي چې کورنۍ دې درنه په تنګه وه ، ځکه يې دومره ارزانه راکړې ، د کار نه وې او داسې نور. مونږ په خپله ناپوهي کې له ښځې سره د پلور د يوه توکي په توګه چلن کوو. خو بايد پوه شو چې ښځه د پلور کوم توکی نه دی چې د اقتصاد د اصولو له مخې يې بيه ټاکل کېږي او کله دا بيه ټيټه وي او کله بيا لوړه ، بلکې يو ستر انساني شخصيت دی او په ډېرو برخو کې په سړي باندې د لوړ فضيلت خښتنه ده. د ښځې دې فضيلت او انساني شخصيت ته بايد درناوی وشي. زمونږ خلک بايد په دې پوه شي.

له دې دواړو پړاوونو ور هاخوا د ښځې د ژوند د ترخولو بل تر ټولو لوی سبب ګډ کورنی نظام (Joint System Family) دی. ګډه کورنۍ هغې کورنۍ ته ويل کېږي چې هلته يوه ښځه له واده وروسته له خپل مېړه سره د هغه له مور او پلار سره يو ځای ژوند تېروي. د دې نظام تر ټولو کرکجنه څېره د خواښې او خسر په څېره کې د دوو کرکټرونو په شکل را وړاندې کېږي. زمونږ د ټولنې د ډېری ستونزو اصلي لامل همدا (Joint Family System) دی. دا نظام د فطرت له اصولو سره خلاف دی. هره ښځه غواړي چې له واده وروسته يو بېل او خپلواک ژوند ولري او د خپل ژوند له ملګري سره د نيکمرغۍ او خوشالۍ شو شپې سبا کړي. خو زمونږ په ټولنه کې دود نظام د ښځې ټولو نيکمرغيو او سوکاليو ته د پای ټکی کېږدي. په دې نظام يوه نيوکه دا کېږي چې د هلک د سپين ږيري پلار او عمر خوړلې مور خدمت به څوک کوي؟ نو دلته يو ټکي ته پام پکار دی چې د دې نظام له ختمولو وروسته يوازې ګډه کورنۍ له منځه ځي ، د مور او پلار خدمت او مقام بياهم پخپل ځای پاتې وي. ښځه او مېړه کولای شي چې خپل زاړه مور او پلار (هغه که د هلک وي که د نجلۍ) خپل کور ته را وغواړي او د زړه له اخلاصه يې خدمت وکړي. دلته ښايي د ځينو په ذهن کې دا ور تېره شي چې د دې کار او ګډې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورنۍ توپير څه شی شو؟ نو که لږ ځير شو ، نو د دې ترتيب له سرچپه کولو وروسته يو لوی تغير رامنځته کېږي ، په (Joint Family System) کې مور او پلار د کور مشران او واکمن وو ، دې بلې خوا ته د کور واک له ښځې او مېړه سره دی او مور او پلار د خواښې او خسر په څېر نه ، بلکې د دوو مېلمنو په توګه ژوند کوي. که په دوو ټکو کې يې ووايم نو هلته مور او پلار يو زحمت وي ، دلته مور او پلار د خدای رحمت شي. نو د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي او د هغوی د ستونزو د راکمولو لپاره پکار ده چې د (Joint Family System) په ځای د (Split Family System) يا د بېل کورني نظام بنسټ کېښودل شي. او په دې کې تر ټولو لويه ونډه پخپله ښځې اخيستلای شي.

دريم ډګر چې هلته ښځې له کړاوونو او ستونزو سره مخ کېږي ، هغه مهال وي چې کله يوه ښځه کونډه شي. د يوې ښځې د کونډتوب ګڼ لاملونه کېدلای شي. خو زموږ په ټولنه کې له کونډو سره دوه ظلمونه کېږي: يو دا چې ، بېرته په هماغه کورنۍ کې په زور او جبر خپل لېوره ته واده کېږي. او دوهم دا چې ، په ټول ژوند کې د دوهم واده کولو زمينه نه ورته مساعدېږي او په خسرګنۍ يا پلرګنۍ کې خپل سر سپينوي. د دې دواړو کارونو تر شا دوه لاملونه وي ، بې ځايه شرم او غيرعاقلانه او بې بنسټه غيرت. دا د ښځو ثابت حق ده چې لومړی به پخپله خوښه د خپل ژوند ملګری خوښوي ، او که (خدای مه کړه) د ژوند ملګری يې له لاسه ورکړ ، نو کولای شي چې په لوړ سر دوهم ، دريم ،... واده وکړي. دلته ډېری دا نېوکه مخ ته راځي چې ښځې پخپله نه غواړي دوهم واده وکړي. دا هېڅکله ممکنه نه ده چې يوه ښځه د واده هيله ونه لري خو د ټولنې چاپېريال او حالت ته په کتو هره ښځه دې ته مجبوره کېږي چې غلي پاتې کېدل پخپل خير وګڼي. که ټولنه له ناوړه ارزښتونو او د بې ځايه دودونو له رذايلو څخه پاکه او ستره شي ، نو هېڅکله به يوه ښځه بېل او ګوښی ژوند تېرول خوښ نه کړي.

د يوې ټولنې نېکمرغي ښځې ته په مساوي او برابرو حقونو ورکولو کې ده او د ښځې پر وړاندې تاو تريخوالی له منځه وړل د ټولنې نيمايي ، يا تر دې هم زياتې ، ستونزې او

(c) ketabton.com: The Digital Library


ناخوالې له منځه وړي. د ټولنې د ژغوراوي او ساتنې لپاره د ښځو ساتنه او ژغوراوی باید خپل لومړنی ګام وبلل شي.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library


# سړی

سړی د یوې ټولنې بنیاد او د یوې کورنۍ مشر دی. له یوه سړي پرته د کورني نظام ثبات او د ټولنې رښتیني نېکمرغي ناشونې ده.

دلته د سړي کلمه په هغه معنا نه ده را اخیستل شوې چې زموږ په ټولنه کې د ډېر عمر یوه نارینه جنس لرونکي انسان ته کارول کېږي ، بلکې د نارینه جنس په معنا او د ((ښځې)) د ضد کلمې په توګه کارول شوې. د دې لپاره چې زموږ په ټولنه کې د یوه سړي ژوند ، شخصیت ، ستونزې او مسایل په ښه توګه وڅېړلای شو ، د هغه ژوند په څلورو برخو وېشو:

۱-ماشومتوب: زموږ ټولنه د نارینه وو ټولنه ده. او هره ټولنه چې کوم لور ته مایله وي ، هرومرو د هغه ارزښت او مقام هم په هغه ټولنه کې زیات او لوړ وي. په دې ټولنه کې د یوه هلک په زېږېدنه زیاتې خوشالۍ کېږي ، مېلمستاوې ورته نیول کېږي ، او یو بل ته یې مبارکي ورکوي. زموږ په ټولنه کې په ماشوم پورې تړلي شاوخوا ټول دودونو د هلک لپاره دي او د هلک په پیدایښت او د هغه په بېلا بېلو پړاوونو لکه نوم اېښودلو ، وېښته خرېیلو ، سنت کولو ، او داسې نورو کې نمانځل کېږي.

کله چې یو ماشوم د خبرو او تګ جوګه شي ، نو د کلي نږدې جومات ته د اسلام د بنیادي لارښوونو د زده کړې لپاره ورځي. او په ۶ یا ۷ کلنۍ شاوخوا کې ماشوم یا ښوونځي ته لېږل کېږي او یا د دیني زده کړو لپاره له کلي او ښاره لرې بل ښار ، یا کله نا کله بل هېواد ، ته لېږل کېږي.

زموږ په ټولنه کې تر ټولو حیرانوونکی (او یو ناسم) چلن او دود دا دی چې کوم ماشوم چې ښوونځي ته لېږل کېږي ، هغه د هماغه کلي یوه غیرمعیاري او وروسته پاتې ښوونځي ته لېږل کېږي او دا هڅه نه کېږي چې له کلي او ښار دباندې بل کوم په معیار پوره ښوونځي ته یې ولېږي ، بلکې ماشوم اړ ویستل کېږي چې د کلي په ښوونځي کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


خپلې زده کړې سرته ورسوي. خو کله چې یو ماشوم مدرسې ته لېږل کېږي ، نو په دې ځای کې بیا د هغې سیمې مدرسه له معیار نه هم غورځي ، استاذان یې هم تکړه نه وي ، او نورې ډېرې ستونزې ورته رامخته شي او ماشوم له خپل کلي ، له مور او پلار ، او د خاپوړو له ځای نه لرې یو بل ښار (یا هېواد) ته ولېږي ، او د دیني زده کړو تر ټولو غوره مرکز هغه ور ښکاري چې د دوی له کلي دباندې وي. د دې چلن تر شا ګڼ اقتصادي او ټولنیز لاملونه کېدلای شي ، خو دا په ټوله کې یوه لویه ستونزه ده او دا ستونزه دوه پایلې لري چې حل لاره ورته موندل یو اړین کار دی:

یو ، له کلي او ښار لرې مدرسو کې هغه ماشوم له معنوي ، مادي ، اخلاقي ، فکري او روغتیایي اړخونو تر لوی ګواښ لاندې وي. په مدرسو کې ډېر کله لومړنۍ اړتیاوې یا له نشت سره برابرې وي ، او یا هم په هغه معیار وي چې له انساني استعمال څخه لوېدلې وي. دغه راز د فتنو او بې لارۍ په دې عصر کې یو کمکی ماشوم له اخلاقي او معنوي پلوه هم په خطر کې وي. د دې یو لامل دا وي چې د ښارونو مدرسې لویې او د ډېر ظرفیت لرونکې وي ، او په داسې مدرسو کې له بېلا بېلو ځایونو په ډول ډول اخلاقو او ادابو سنبال زده کوونکي ژوند کوي. ماشوم د هغوی له منفي او ناوړه اثراتو او اغېزو هېڅکله ځان نه شي ساتلای او هرومرو له ستونزو او مشکلاتو سره مخ کېږي.

دوه ، په مدرسه کې یو ماشوم له یوه خاص علم او فن یعنې د دین له زده کړې سره مخ کېږي. د دې برعکس ، په ښوونځي کې یو زده کوونکی ګڼ علوم لکه ریاضي ، ساینس ، ټولنیز علوم ، ملي او نړیوالې ژبې او ورسره دین ؛ دا ټول زده کوي. د ښوونځي له لوستلو وروسته یو ماشوم ته ګڼ شمېر ډګرونه مخې ته اېښودل کېږي او دا فرصت ورکول کېږي چې د خپلې خوښې ډګر پکې غوره کړي او په هماغه برخه کې د تخصص تر درجې وړاندې لاړ شي. د بېلګې په ډول ، له ښوونځي وروسته یو زده کوونکی کولای شي ، یو تکړه ډاکټر ، انجینر ، ژبپوه ، ریاضي پوه ، ساینس پوه ، قاضي او یا وکیل شي او یا هم د شرعیاتو په لوستلو د دین یو تکړه عالم شي. خو په مدرسه کې حالت په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library


ډول نه وي ، هلته ماشوم ته له لومړنۍ ورځې لا دا ټاکلې وي چې له دې وروسته به دی یو دیني عالم وي.

په عالم کېدو کې ستونزه نشته خو ستونزه بله ده ؛ په حقیقت کې دا د ماشوم هغه مهال وي چې په دې هم نه پوهېږي چې زما څه خوښېږي او څه نه ، خدای د څه شي وړتیا راکړې او زه یو ښه دیني عالم کېدلای هم شم او که نه ؛ کېدای شي الله تعالی دا ماشوم د یوه تکړه ډاکټر ، انجینر ، ساینسپوه ، نجار ، هنرمند ، او یا د یو بل څه لپاره خلق کړی وي ، او مور د مور او پلار له مینې او عاطفي لرې د کنز و قدوري مسایلو ته کېنولای وي. د یوه ماشوم مدرسې ته لېږل کټ مټ هماغسې دي ، لکه یو ماشوم چې د ښوونځي په ځای په لومړۍ ورځ د ډاکټرۍ یا انجینرۍ کورس ته ولېږل شي او ترې وغوښتل شي چې یو تکړه ډاکټر یا انجینر دې شي. نو لکه څنګه چې دا کار نه کېږي او ناشونی دی ، په هماغه ډول د یوه ماشوم مدرسې ته لېږل هم له علم او عقل لرې او پر ماشوم یو ناوړه ظلم او تېری دی.

له دې پورتني نه بحث نه یوه پوښتنه را ولاړېدلای شي چې آیا په ښوونځي کې هېڅ د نیوکې وړ خبره نشته ؟ نو داسې نه ده ، پورتنی بحث د ښوونځي په تحسین او د مدرسې په تحقیر نه دی شوی ، بلکې د ښوونځي او مدرسې ټولیز نظام او چوکاټ پرتله شوی. ښوونځی له انساني عقل او د اوسنۍ نړۍ له غوښتنو سره برابر ، حال دا چې د مدرسې بنسټ په یوه غیر علمي او غیر معیاري اساس — د خپل عصر غوښتنو و تقاضاوو ته له کتو پرته — ایښودل شوی. که نه په اوسنیو ښوونځیو کې هم ډېرې داسې اړخونه شته چې د کتاب په راتلونکو مخونو کې پرې پراخه علمي تنقید شوی.

د ماشومتوب پړاو د یوه انسان د ژوند تر ټولو اساسي او شخصیت جوړوونکی پړاو دی. له همدې امله په دې وخت کې چې د یوه ماشوم په اړه هره پرېکړه نیول کېږي ، باید په ډېر غور او فکر او په ساینسي او اکاډمیکو بنیادونو کېښودل شي. دا د ماشوم یو حق دی چې د هغه لپاره ژوند جوړوونکې پرېکړې ونیول شي ، نه ژوند ورانوونکې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دلته د یوې خبرې یادونه اړینه بولم ، په دې مقاله او/یا کتاب کې په ماشوم پورې تړلې ډېرې مسایل د کتاب د نوعیت او حجم له امله نه دي را اخیستل شوي او یوازې په اساسي مسایلو اکتفا شوې.

۲- د ځوانۍ پړاو: دا پړاو له ۱۵ کلنۍ څخه تر ۳۰ کلنۍ پورې دوام کوي او له هغه وروسته د پاخه عمر پړاو پیلېږي. ځوانی په اصل کې د ماشومتوب د وخت د ادابو ، اخلاقو ، پوهې ، فکر او لیدلوري مېوه وي. څه ډول ځوانان چې غواړو ، باید خپل ماشومان هماغسې وروزو. د ځوانۍ پړاو ته ټول ځوانان په ورته ډول نه را رسېږي ، بلکې په ماشومتوب کې چې په کوم فکر ، اخلاقو ، ټولنیزو ادابو او ډول روزل شوي وي ، په هماغه ډول ځوانان هم یو له بل نه فرق لري. ځینې ځوانان په علمي کورنیو کې لوی شوي وي ، د ژوند په اړه یو عمومي پوهاوی او لیدلوری یې جوړ وي ، لومړنۍ زده کړې یې کړې وي او په دې پړاو کې د نورو زده کړو هیله ورسره وي. ځینې ځوانان بې تعلیمه کورنیو کې روزل شوي وي ، د علمي نړۍ له څنګه هم نه وي تېر شوي ، یوازینۍ موخه یې د کار او روزګار موندل او د خپلو لومړنیو اړتیاوو پوره کول وي. ښکاره ده چې د ځوانانو د دې حالت یوازینی لامل کورنۍ نه وي ، بلکې د دې تر څنګ نورو ګڼو دلایلو لکه ټولنه ، ملایان ، مشران ، خپلوان او د ټولنې ټولیز او کلي چاپېریال هم خپل رول لوبولای وي.

ځوانان د یوې ټولنې ستنې دي او د یوې ټولنې لوړتیا او ځوړتیا په مستقیم ډول د ځوانانو پر ضعف او قوت تکیه وي. د موضوع د ښې روښانتیا لپاره به ځوانان په دوو ډلو ووېشو:

الف) یو ډله ځوانان هغه دي چې علم یې کړی او د لوړو زده کړو لپاره خپل چمتوالی نیسي. په دې برخه کې پکار ده چې کورنۍ یوه ځوان ته بشپړ واک ورکړي چې د علم هر ډګر چې هغه یې غواړي او وړتیا یې لري ، هماغه وټاکي او د تخصص تر کچې ځان پکې ورسوي. په دې وخت کې د یوه ځوان پرېکړه د ټول هېواد په برخلیک او

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرنوشت اغېز کولای شي. په دې برخه کې هغه ته مشوره ورکول ، ځو ټاکنې ورته مخې ته ایښودل ، بې له شکه یو ستایلی کار دی ؛ خو د فشار ، ټینګار او تاکید په نوم هېڅ شی باید وجود ونه لري. په دې ځای کې کورنۍ ته پکار ده چې خپلې ځاني هیلې له ځان سره وساتي او ځوان خپلې مخې ته پرېږدي.

ب ) دوهمه ډله ځوانان هغه دي چې هغوی زده کړې نه وي کړې او د زده کړو لېوالتیا نه لري. ښکاره ده که یې زده کړې نه وي کړې کوم کسب یا کار به یې زده کړی وي. په دې ځای کې د کورنۍ او ټولنې دواړو مسؤلیت دی چې هغه ته د کار زمینه برابره کړي ، خپل کار ته یې وهڅوي او له نورو سره د پرتله کولو ظلم ته لاس نه کړي. ځکه دا نړۍ په دوو شیانو ولاړه ده: علم او فن. که هغوی علم نه لري نو د فن له یوې لویې پانګې څخه برخمن دي. او که د دوهمې ډلې ځوان له زده کړو سره کوم فن یا کار هم نه وي زده کړی ، نو له داسې ځوان څخه د یوه مزدور ، کاریګر او یا نورو درنو کارونو د اخیستلو په ځای پکار ده چې کورنۍ د دوی ملاتړ وکړي او د یو ښه فن او هنر زده کړې ته یې وهڅوي. هر انسان هرومرو له یو شي سره مینه لري ، کله نا کله انسان هغه شی پخپله وپېژني ، او کله یې بیا کورنۍ یا ټولنه ور وښیي. دا ډول ځوانان هم هرومرو له یو شي سره مینه لري ؛ نو پکار ده چې کورنۍ او ټولنه یې روا غوښتنې او هیلې ته غوږ کېږدي او هغه ته د رسېدو لپاره مرسته او کومک ورسره وکړي. د داسې ځوانانو بې سرنوشته پرېښودل له ټولنې او انسانیت دواړو سره بې انصافي ده. ځوانان د یوې ټولنې ((نوې کېدونکې)) پانګه ده ، پکار ده چې د ټولنې د فلاح ، نېکمرغۍ ، پرمختګ او ودې لپاره کار ترې واخیستل شي.

یوه بله ستونزه چې دلته یې یادونه اړینه ده هغه له ځوانانو سره ناسم چلند ده. ځوانان ځانګړی طبیعت او خویونه لري. د نن ورځې له ځوان څخه د ۲۰۰ کاله پخواني یوه ځوان تمه کول یو بې ځایه او غیرعاقلانه کار ده. د ننۍ نړۍ چاپېریال او غوښتنو تغیر کړی او چاپېریال د یوه انسان په ژوند ژور اغېز لري. د نني ځوان غوښتنو

(c) ketabton.com: The Digital Library


او هيلو هم بدلون موندلی. نو پکار ده چې د يوه ځوان په حالت ځان پوه کړای شي او له هغه سره د اوسني عصر او دور له حالاتو سره سم چلند وشي.

۳- له ځوانۍ وروسته پړاو: دا پړاو له واده څخه پيل او تر مړينې پورې غځېږي. دا پړاو د ځوانۍ د پای ، د پاخه عمر ، او د زړښت دوران په ځان کې رانغاړي. په دې پړاو کې معمولاً يو سړی د يوې کورنۍ ، ښځې او اولادونو څښتن کېږي. اوس دې ځوان ته يوې ټولنې ته د کار او خدمت کولو په ځای يو بل لوی مسؤليت د کورنۍ ور له غاړې وي. د خپلې کورنۍ مادي او معنوي اړتياوې پوره کول ، د بچيانو د پالنې او روزنې لګښتونه پوره کول ، په ټولنيزو دودونو کې برخه اخيستل ، او داسې نور هغه کارونه وي چې د دې پړاو يو سړی يې په اوږه لري. د دې پړاو د بريالیتوب او نېکمرغي لپاره اړينه ده د پيل يا بنسټ ډېره يې په ډېر غور او فکر کېښودل شي. د دې پړاو پيل په واده کېږي ، د هر کار پای د هغه کار د پيل په څېر وي. نو څکه پکار ده چې د خپل ژوند د ملګري په غوره کولو او دې نوي پړاو ته د ګام اوچتولو لپاره پوره فکر وشي. په دې برخه کې له سمې ټاکنې او نوي پړاو ته له ور ننوتو وروسته به ښه وي چې د خپل راتلونکي ګډ ژوند لپاره اصول او تګلارې وټاکل شي. په دې برخه کې د ګډ ژوند اړوند کتابونو لوستل پراخه مرسته کولای شي.

په دې پړاو کې يوه بله خبره هم سر را پورته کوي. زموږ د ټولنې يوه لويه ستونزه د زياتو اولادونو نړۍ ته راوړل ده ، په دې برخه کې پکار ده چې دوه ګامه پورته شي: يو ، د مور او پلار له خوا نه د خپل ټولنيز او اقتصادي حالت له جاج اخيستلو وروسته د اولادونو د شمېر په اړه يوه پخه او ډاډمنه پرېکړه وشي. په دوهم قدم کې پکار ده چې له ټولنيز او سياسي اړخه هم په دې مسئله غور وشي. په دې برخه کې حکومت کولای شي چې داسې اداري رامنځته کړي چې د ودونو او اولادونو اړوند ټولې چارې تر خپل کنترول لاندې راولي. د دولت په کچه د ودونو د لګښت ، د اولادونو د شمېر او داسې نورو ستونزو په اړه قوانين او مقررات جوړ شي. زيات لګښت کول او د زياتو اولادونو

(c) ketabton.com: The Digital Library


راوړل باید له قانوني اړخه یو جرم وګڼل شي او یوه سمه معتدله سزا ورته وټاکل شي. د بچیانو د شمېر حق باید له مور او پلار څخه واخیستل شي او دا حق په ټوله کې حکومت ته ورکول شي. د دې ادارې یوه بله ګټوره کړنه دا هم کېدلای شي چې کومه نجلۍ او هلک واده کوي ، هغو ته له واده مخکې د لنډ مهاله کورسونو په ډول هر اړخیزې لارښوونې وشي. کورنی ژوند ، د ژوند تېرولو اداب ، په ټولنه کې د یوې کورنۍ ونډه او مسؤلیت او د یوې ښې کورنۍ اصول او نښې ور وپېژني. دا او دې ورته ټول هغه مسایل دي چې زموږ په ټولنه کې ډېری وګړي ترې ناخبره وي. یاده اداره په دې برخه کې پراخه مرسته کولای شي. د دې ادارې شتون له دې امله هم اړین دی تر څو دا مسایل د اختیار له دایرې راووځي او تر یو څه بریده د جبر دایرې ته داخل شي. ځکه د یوې ټولنې نېکمرغي د هغې ټولنې د کورنیو په نېکمرغي او سوکالي پورې تړلې ده. اخر دا ټولنه هم د همدې کورنیو یوه ټولګه او په ټوله کې یوه لویه کورنۍ وي.

د دې پړاو وروستی دور د زړښت مهال وي. زموږ په ټولنه کې سپین ږیري او د ډېر عمر خلک خاص ځای او درناوی لري. له عمر خوړلو کسانو سره ښه چلند کول زموږ د ټولنې یو ستر ارزښت ګڼل کېږي. په ډېری چارو او مسایلو کې د سپین ږیرو رول خورا ژور وي او هرې خبرې ته یې د لوی شمېر کلونو له تجربې څخه د را ټوکېدلي فکر په سترګه کتل کېږي. په ټولنیزو او دودیزو چارو کې د دوی تجربه بې له شکه چې پراخه او ژوره وي. خو د دې ټولنې اکثریت (ټول ته ور نږدې) سپین ږیري د اوسني عصر له غوښتنو ، پرمختګونو ، اړتیاوو او مسایلو څخه بې خبره دي. دوی هر څه ته له ۶۰ یا ۷۰ کلنو پخوانیو عینکو ګوري ، چې له امله یې ډېری وخت د دوی پرېکړې او اغېز د اوسنۍ ټولنې د ودې او پرمختګ لپاره منفي او له خنډونو څخه ډک وي. بله لویه ستونزه د دوی ناپوهي او بې علمي ده. ډېری عمر خوړلي وګړي هغه دي چې له هر ډول عصري او دودیزو زده کړو څخه لرې پاتې شوي وي او ذهن یې له نن څخه څو کاله شاته پاتې وي. د دې یوه منفي پایله د اوسني عصر په اړه د دوی ناسم او غیرمنطقي لیدلوری او

(c) ketabton.com: The Digital Library


چلند وي. دوی د ساينس پرمختګونو ، په مذهبي فکر کې يوه نوي تحقيق ، د علمي نړۍ لاسته راوړنو او د اوسني عصر بدلون او پرمختګ ته په منفي او کرکجنه سترګه ګوري. د علم ، ساينس ، پرمختګ ، نوښت ، بدلون ، او د اوسني عصر په موډ برابرو ځوانانو په اړه د دوی ليدلوری د ملايانو په پرتله څو چنده ډېر منفي او ناوړه وي. له علم او حقيقت څخه لرې پاتې دا سپين ږيري د ټولنې د پرمختګ او بدلون لپاره ستر ګواښ جوړوي. د دې ټولنې د بدبختيو او وروسته والي لاملونه ګڼ کېدلای شي خو که وغواړو چې اصلي ريښه يې را پيدا کړو نو هغه د دې ټولنې دوه طبقې دي: الف) له دين ناخبره ملايان  او ب) له عامه پوهاوي بې برخې سپين ږيري.

د دې ستونزې د جرړو ويستلو لپاره دوه ګامه اخيستل کېدلای شي: يو ، د ټولنې هر تن بايد په دې ځان پوه کړي چې زموږ سپين ږيري د دې عصر له غوښتنو او حقيقت څخه ناخبره دي. د دې عصر په اړه د دوی هره خبره يوه بې بنسټه او له عقل لرې فکر ده. د دوی درناوی او ارزښت به په ټولنه کې پخپل ځای پاتې وي ، خو د دوی افکار او ليدلوري د لارې مشال نه ، بلکې د تيارو او ناپوهۍ کندو ته د ور غورځېدو لاملونه دي. د دې کسانو خبره به د علم او عقل په تله کې تلل کېږي ، او له هغه وروسته به پرې عمل او د هغه له مخې پرېکړې کېږي. دوه ، په دې برخه کې دوهم مسؤليت دولت ته ور له غاړې دی. زموږ د سپين ږيرو تر ټولو لويه ستونزه ناپوهي ده. او د دې ستونزې يوازينی حل لاره دا ده چې ناپوهي يې له منځه يو وړل شي او پر ځای يې د علم او پوهې شمع روښانه شي. د دې لپاره دولت کولای شي چې د سپين ږيرو لپاره ځانګړي کورسونه جوړ کړي او هلته د ابتدايي زده کړو تر څنګ د اوسني عصر او ژوند په اړه عامه پوهاوی ورکړي. او په دې يې پوه کړي چې ستاسې ځرخونه نور د اوسني عصر لپاره وراسته شوي دي ، او دا عصر د ځرخونو په ځای وزرې غواړي. دا عصر د ځمکې پر ځای په هوا کې د الوتلو عصر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


زموږ د زړو خلکو یوه بله لویه ستونزه په هر کار کې کار لرل ده. د ځانګړو کورسونو له لارې کولای شو دوی ته خپل هغه متل بېرته ور په یاد کړو چې: ((چېرته نه کار ، هلته څه کار.)) او یا یې د خوشحال خان خټک په دې شعر پوه کړو چې:

هر سړی پیدا دی خپل خپل کار لره کنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# وران لیدلوري

یوه ټولنه یوازې د انسانانو یوې ټولګې ته نه ویل کېږي ، بلکې د هغې ټولنې د وګړو تاریخ ، افکار ، عقاید ، دین ، مذهب ، کلتور ، فرهنګ او تمدن ټول په ګډه د هغې ټولنې استازیتوب کوي. کله چې په نړیوال دریځ د هغې ټولنې یادونه کېږي ، نو یوازې د هغې ټولنې وګړي تر بحث لاندې نه وي ، بلکې د یوې ټولنې ټول متشکله عناصر چې پورته یاد شول په ګډه د هغې ټولنې انځور جوړوي.

په همدې عناصرو کې یو عنصر د بشري نړۍ د ځینو اړخونو په اړه د هغې ټولنې لیدلوري وي. دا لیدلوري له دوو سرچینو را پورته کېږي. یو هغه لیدلوري وي چې په ټولنه کې له پخوا څخه را روان وي. او بل هغه لیدلوري وي چې په هغه ټولنه کې وخت په وخت له هر عصر او زمانې سره سم را منځته کېږي. په دې لید لورو کې ځینې داسې وي چې ټولنې ته ګټور او ژوند ښښونکي وي ، خو ځینې یې د ټولنې لپاره ستر ګواښ او ورانوونکي وي. د دې لیدلورو سموالی او ناسموالی را برسېره کول په سیده توګه د یوې ټولنې د علم او پوهې او د ژوند په اړه د عامه پوهاوي په کچې پورې تړلی وي. یوه ټولنه چې هر څومره پرمختللې او په علم سنباله وي ، په هماغه کچه په ټولنه کې د منفي لیدلورو شتون کم او د مثبتو لیدلورو او تصوراتو لپاره لاره هواره وي.

په انسان کې د یوه لیدلوري چې ډېرې وختونه تاریخي او میراثي سرچینه لري ، له منځه وړل بې له شکه چې یو ستونزمن کار دی او ډېر وخت ته اړتیا لري. هغه ټولنې چې نن یې په علم سنباله او پرمختللې بولو ، هغو هم خپل منفي او زیانمن لیدلوري په یوه ورځ له منځه نه دي وړي ، بلکې دا کار یې د یوې اوږدې پروسې په ترڅ کې کړی ، خو کړی یې دی. د دې ټولنو ښه والی دا وي چې ځای په ځای ولاړې او جامدې نه وي ، بلکې تل د بدلون په لور درومي او علم ورځ تر بلې د پرمختګ په حال کې وي. د دې حالت یوه حتمي پایله دا وي چې کله د علم رڼا یو منفي او ناوړه لیدلوری له تیارو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library


را وباسي او د ټولنې لپاره د هغه زيان او ورانى څرګند کړي ، نو سمدلاسه د هغه ليدلوري د ريښې په ويستلو لاس په کار شي. خو د دې برعکس ، هغه ټولنې چې بدلون ته چمتو نه وي او علم په يو ځاى ولاړ پاتې وي ، په داسې ټولنو کې د زيانمنو او منفي ليدلورو ژوند د نورو ټولنو په پرتله اوږد وي.

په دې ځاى کې زموږ په ټولنه کې دود پر ځينو منفي او ټولنې ته زيانمن ليدلورو لنډ بحث شوى:

## ۱- مسلمان د نړۍ غوره انسان:

الله تعالى د انسان د لارښوونې او نيکمرغۍ لپاره په هغو مسايلو کې چې د انساني عقل وس پرې نه رسيږي ، وخت په وخت نبيان او رسولان رالېږلي او دې پيغبرانو ته يې د خلکو ترمنځ د اختلافاتو د هوارولو لپاره کتابونه ورکړي. دا لړۍ په آدم (ع) پيل او په محمد (ص) بن عبدالله پاى ته ورسېدله. کوم پيغام او لارښوونې چې د دې پيغمبرانو او کتابونو له لارې تر انسانانو رسېدلي ، هغو ته اسلام ويل کېږي. نو له دې ښکاري چې د اسلام پيل په آدم (ع) شوى او په محمد رسول الله (ص) يې پاى موندلى. د دې پيغام منونکى او لاروى — هغه که په هر دور کې وو ، له آدمه تر دې دمه — مسلمان بلل کېږي.

پورته د کتابونو يادونه وشوه. الهامي کتابونه څلور دي او په څلور واړو کې الله تعالى د مسلمان لپاره هماغه يو پيغام لري. خو په دې ځاى کې استدلال له دې امله په قرآن کريم کوو چې دا کتاب د اسلام وروستى کتاب دى او د پخوانيو کتابونو د تصديق او تحريف حق هم له همدې کتاب سره دى.

الله تعالى په قرآن کريم کې د انسان په اړه موضوع له دې ځايه پيل کړې چې اې خلکو زه ستاسو پيدا کوونکى يم. تاسو مې له يو تن نه پيدا کړئ او بيا مې له هماغه يوه جوړه وګرځوله او ننني انساني نوعه له همدې جوړې څخه خپره شوې ده. د دې مخلوق د

(c) ketabton.com: The Digital Library


زیاتېدو په پایله کې د دوی ترمنځ د ټولنیز ژوندانه د رامنځته کولو لپاره الله تعالی یوه ډېره معتدله لاره وپنځوله ؛ په دې اړه الله تعالی فرمایي چې اې انسانانو موږ د دې لپاره قومونه او قبیلې ګرځولي یاستئ چې له یو بل سره وپېژنئ. که نه حقیقت خو دا دی چې په تاسو کې غوره هغه څوک دی چې مسلمان وي. په قرآن کریم کې د ((مسلمان)) په ځای د ((تقوا)) کلمه راغلې. او دلته د ((مسلمان)) کلمې له راوړلو — په ښکاره — داسې برېښي چې ګواکې د خپلې مدعا خلاف ګام مې پورته کړی اوسي. خو داسې نه ده ، دلته د مسلمان کلمه په دوو دلایلو راوړل شوې: یو ، تر څو له تقوا نه تر مسلمان پورې یو اوږد او منطقي بحث ته اړتیا پاتې نه شي. دوه ، دلته د تقوا په پرتله د مسلمان کلمه د بحث په روښانتیا کې ښه مرسته کولای شي.

د قرآن کریم یو ستر کمال دا هم دی چې خبره له ډېر سم ځایه پیلوي او په ډېر اعلی ځای یې پای ته رسوي. الله تعالی — هغه چې د ازلي او ابدي علم څښتن ده — په دې پوهېده چې یوه ورځ به د قومونو ترمنځ د لوړ والي او ټیټوالي په اړه شخړې او لانجې رامنځته کېږي نو ځکه یې دا ستونزه له خپلو جرړو سره وایستله. الله تعالی خپله خبره داسې پیلوي چې اې انسانانو موږ تاسې له یو نارینه او ښځینه څخه پیدا کړي یاستئ. دلته یو ډېر اړین ټکي ته پام پکار دی چې الله تعالی د انسانانو په ځای د مسلمانانو کلمه نه ده کارولې ، بلکې د انسان کلمه یې راوړې. که دلته د مؤمن یا مسلمان کلمه وی نو بیا ستونزه د انسانانو او مسلمانانو ترمنځ نه وه ، بیا به دا موضوع یوازې په مسلمانانو پورې اړوند وه. او نور قومونه به له مسلمانانو سره هېڅ د پرتلې وړ هم نه ګڼل کېدل. خو نه ؛ الله تعالی ټول انسانان له یوې جوړې څخه پیدا کړي ، او ټول یې برابر پیدا کړي ، نو ځکه یې وویل چې: اې انسانانو!

ورپسې الله تعالی د انساني نفس په هغه اړخ تنقید کوي چې اې انسانانو ستاسې ترمنځ به یوه ورځ د قومونو د غوره والي او ټیټوالي لانجه هرومرو راپورته کېږي ، نو پوه شئ چې تاسو مې په قبیلو او قومونو یوازې او یوازې له دې امله وېشلي یاستئ تر څو له یو

(c) ketabton.com: The Digital Library


بل سره وپېژنئ ، ستاسې ترمنځ بېلتون او نفاق نه وي ، ستاسې ترمنځ راکړې ورکړې ته لاره هواره وي ، ټولنيز نظم او همغږي رامنځته شي ؛ پام کوئ چې دا کار د يوه قوم د غوره ګڼلو او د بل د کم ګڼلو لامل ونه ګرځوئ ، يو بل سره پرې تعصب ونه کړئ ، د ښه والي او بدۍ معيار د قومونو نومونه ونه ګرځوئ ؛ ځکه چې په انسانانو کې له ((مذهبي او ديني)) اړخه غوره کسان هغه دي چې مسلمانان وي. او له نورو لکه اجتماعي ، اقتصادي ، علمي ، اخلاقي ، سياسي ، او ... اړخونو غوره والی مې تاسو ته پرې ايښی. او د دې مسؤليت مې انسانانو ته ورکړی چې که يو قوم غواړي چې له دې اړخونو په نورو ټولو قومونو ، د مسلمانانو په ګډون ، غوره اوسي ، نو هغه ((يوازې او يوازې)) په دوی (يعنې انسانانو) پورې اړه لري. په پای کې الله تعالی فرمايي چې له يوه مسلمان سره بيا هم نه ښايي چې ځان تر نورو غوره وګڼي او نورو قومونو ته په سپکه سترګه وګوري ، ځکه په دې کې هېڅ شک نشته چې د ازلي او ابدي علم ذات يوازې زه يم. دا چې څوک غوره دی او څوک نه دی ، يوازې زه ښه خبر يم.

له دې نه په ډاګه شوه چې د مسلمانانو د غوره والي علت يوازې په ديني او مذهبي اساس دی او دا يو شخصي او د انسان په شخصيت پورې تړلی غوره والی دی ، په دې کې بله خبره دا ده چې دا غوره والی د الله په نزد دی ؛ په دې معنا چې هېڅ انسان دا حق نه لري چې يوازې د يوه مذهبي فضيلت له مخې ځان تر نورو قومونو په هره برخه کې غوره او افضل وګڼي. او دا کار داسې مثال لري لکه د يوه انجينر په لاس جوړې شوې دوه ودانۍ يوازې د رنګ په اساس يوه يې تر دا بلې غوره وګڼل شي. نو په هېڅ ډول له يوه مسلمان سره نه ښايي چې په نورو علمي ، اجتماعي ، فرهنګي ، اقتصادي او سياسي اړخونو کې پرمختللي او لوړ قومونه تر ځان ټيټ او سپک وګڼي. د نورو انسانانو – هغه که هر دين ، عقيده او فکر ولري – د درناوي له لارې په اصل کې انسان ځان ته د ارزښت او درناوي په سترګه ګوري ، ځکه چې ټول انسانان يو او د يوه مور او پلار اولاده دي ، او د انسانيت د اړيکې په اساس د يو بل ورونه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د نورو قومونو او نورو اديانو او مذاهبو پيروانو ته په سپکه سترګه کتل د نورې نړۍ د مسلمانانو په پرتله زموږ په ټولنه کې خورا زيات دود دی. د يو چا په قوم ، ژبه ، ذات او نسل ټوکې او مسخرې کول ، د نورو خلکو په دين او مذهب پسې سپکې سپورې ويل او يا د هغوی ځينو ديني مراسمو او دودونو ته په کمه سترګه کتل ، په هغوی پسې بد رد ويل ، او داسې نور ، ټول هغه څه دي چې د انسان فضيلت تر پوښتنې لاندې راولي. مسلمانان بايد په دې پوه شي چې که دوی خپل دين او مذهب په حقه بولي او د خپل دين هيڅ ډول سپکاوی نه مني ، نو نور اقوام هم دا حق لري چې خپل دين د نړۍ تر ټولو رښتينی دين وګڼي او د نورو له خوا د خپل دين سپکاوي ته د يوې غير انساني کړنې په سترګه وګوري.

پر دې پوهېدل پکار دي چې موږ ټول انسانان يو ، ريښه مو يوه ده او د انسانيت له مخې ، ټول د يو بل د وروڼو په څېر يو. د انسانيت په اساس هيڅ انسان له بل څخه غوره نه دی او هيڅ انسان تر بل ټيټ نه دی. په دې نړۍ کې د غوره والي معيار يوازې او يوازې ((انسانيت)) دی. او په راتلونکې نړۍ کې د غوره والي معيار ((اسلام و تقوا)) ده. بويه چې د دې نړۍ معيار په دې نړۍ کې را خپل کړو او د راتلونکې نړۍ معيار په ځان کې پيدا کړو او د خپل شخصيت تر حدودو يې وساتو.

## ۲- غيرت:

الفاظ ، د انساني شخصيت باطني حواس د ظاهري حواسو له لارې د حس کېدو وړ ګرځوي. په لومړيو کې يو لفظ له مجردې معنا سره منځته راځي او د اطلاق ساحه يې ډېره تنګه وي. خو د وخت په تېرېدو د دې لفظ د معناوو شمېر او د تعبيراتو لمنه پراخېږي ، تر دې پورې چې يوه ورځ له هماغه مجرد لفظ نه يوه اصطلاح جوړه شي. له هغه وروسته چې کله هغه لفظ کارول کېږي ، نو له ځان سره يوازې خپله لومړنۍ معنا نه لېږدوي ، بلکې د دې لفظ تر شا يوه لويه فلسفه هم پرته وي. د دې کار مخنيوی نه شي کېدای ځکه دا کار د يوه عادي جريان له مخې کېږي. او هغه وخت انسان پرې

(c) ketabton.com: The Digital Library


پوهېږي ، چې کله هغه لفظ له خپلې اصلي معنا پورته شوی او په یوه اصطلاح بدل شوی وي. دلته یوه لویه ستونزه دا ده چې په دې جریان کې ډېری وختونه د مثبت فکر ، تعریف ، تعبیر او تصور په ځای په هغه لفظ پورې منفي فکر او تعبیر یو ځای شي. او څنګه چې هغه اصطلاح له ډېر وخت راهیسې په ټولنه کې دود وي ، د هغې ټولنې د افرادو په ذهن کې یې هم ژورې ریښې کړې وي. نو په دې ځای کې پکار وي چې پر هغه اصطلاح باندې له تنقید وروسته د هغه منفي او ناسم اړخونه را برسېره شي.

زموږ په ټولنه کې هم ډېری داسې الفاظ شته چې نن ورځ په یوه اصطلاح ګرځېدلي او کله چې هغه لفظ د یو چا له خولې اورو نو یوازې هغه لومړنۍ معنا یې زموږ ذهن ته نه راځي ، بلکې د هغه تر شا پراته افکار او تصورات هم ورسره مل وي. دلته له هغو څخه په ځینو ډېرو زیانمنو او پر ناسم تصور بنا اصطلاحاتو ته یوه کتنه کوو. په دې کې لومړنۍ اصطلاح غیرت ده. په دې کې هېڅ شک نشته چې غیرت د انسان ښکلا ده او له ایمان سره نېغ په نېغه اړیکه لري. د همدې غیرت له مخې زموږ د ټولنې نظم ، ناموس ، عزت ، آبرو ، درناوی او ارزښتونه خوندي دي. له غیرت پرته انساني ټولنه له ورانۍ او ګډوډۍ سره مخ کېږي. خو لکه مخکې چې وویل شوو ډېری وختونه یو لفظ له خپلې اصلي معنا انحراف کوي. زموږ په ټولنه کې هم نن ورځ د غیرت اصلي تصور له منځه تللی ، بلکې پر ځای یې له علم او عقل لرې یو بې ځایه او بې معنا تصور رامنځته شوی. زموږ خلک په هغو چارو کې هم د غیرت کلمه د ځان پر وړاندې دېوال کړي چې په هغو کارونو کې غیرت کول یوه غیرعاقلانه او په ناپوهۍ ولاړه کړنه وي. په ښځو زده کړه نه کول ، کار ته یې نه پرېښودل ، په له ځانه جوړ کړي حجاب ټینګار کول ، د واده په مسئله کې د لور یا خور خوښه نه پوښتل ، د کونډې خور ، لور او یا مور په نکاح نه ورکول ، په تېټ ولور د لور واده کول ، په ځینو دودونو او رواجونو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


د يو بل په ضد ډېر لګښتونه او مصارف کول ، او دې ته ورته ډېرى نور ، هغه کارونه دي چې د غيرت — ښه به وي که ووايم د افغاني غيرت — په نوم ترسره کېږي.

دغه راز ، زموږ خلک دا د ځان لپاره يو ډول شرم ګڼي چې يو څوک يې په ناپوهۍ پوه شي ؛ زوى له پلار څخه ، پلار له زوى څخه ، زده کوونکى له ښوونکي ، او ښوونکى له زده کوونکي څخه په يوه پوښتنه کولو کې غيرت ګوري. موږ له نورو سره مشوره کول ، له هغوى څخه د يوې ستونزې حل لاره پوښتل ، تر دې چې يوه ډاکټر يا ارواپوه ته خپله ستونزه بيانول ، د بېغيرتۍ او شرم چاره ګڼو. زموږ په ټولنه کې تر ټولو لوى بېغيرته هغه ګڼل کېږي چې يو څوک ورته ښکنځل وکړي او دى ورته په خوږه ژبه ځواب ورکړي ؛ يو څوک يې ووهي او دى له غچ اخيستو پرته په لوى زړه هغه ظالم وبښي ؛ زموږ د کورنيو تربيه له همدې ځايه پيلېږي ، کله چې يو ماشوم خپل پلار ته راشي او ورته ووايي چې پلانکي ووهلم او ما ورته هېڅ هم ونه ويل. نو پلار يې د دې پر ځاى چې د ښه چلند او غوره اخلاقو ستاينه يې وکړي ، د غيرت په نوم منفي افکار او تصورات په ذهن کې ور ځاى په ځاى کړي.

زموږ د ټولنې خلک بايد پوه شي چې د غيرت په اړه د دوى ليدلورى ډېر ناسم او له علم او عقل څخه ډېر لرې پاتې دى. د غيرت د سمې پېژندنې لپاره دلته د پيغمبر (ع) د هغه حديث له راوړلو وروسته نورو خبرو ته هېڅ ځاى نه پاتې کېږي او رښتينى غيرت هم همدا دى:

> ((د دين بنسټ غيرت دى ، او څوک چې غيرت نه لري ، هغه بې دينه دى ؛ ځکه غيرت د زړه ساتنه کوي ، او د بدن غړي ځواکمنوي ، او يو انسان له بدو کارونو او فحشاوو څخه خوندي کوي. او د غيرت نشتون زړه وژني ، تر څو د بدن غړي له منځه يوسي ، او د انسان او د بدو کارونو ترمنځ پرده له منځه لاړه شي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library


که د یو چا غیرت دی له دې کارونو څخه چې په حدیث کې یې یادونه شوې هاخوا نورو کارونو ته هڅوي او یا یې له دې کارونو څخه پرته له نورو کارونو راګرځوي ، نو بې له شکه چې دا هڅوونکی یا راګرځوونکی یې غیرت نه دی ، بلکې د غیرت تر نوم لاندې د انسانیت ستر دښمن او د پرمختګ لوی خنډ ، ناپوهي او بې علمي یې ده. دا ډول غیرت ډېری وختونه د افغانیت او پښتونولۍ په جامه کې هم لیدل کېږي.

## ۳- شخصیت پرستي او په تاریخ ویاړ:

تاریخ او ستر شخصیتونه د یوې ټولنې ستره پانګه ده. لومړی د ټولنې په اوسني حالت باندې په پوهېدو کې راسره مرسته کوي او وروستی یې د ټولنې د پرمختګ او رغونې لارې چارې را په ګوته کوي. هره ټولنه یو تاریخ لري او دغه راز هره ټولنه ستر شخصیتونه زېږوي. د سترو شخصیتونو په پیدا کېدو کې بې له شکه چې لوی لاس د دوی د خپلو زحمتونو او هڅو وي ، خو د د دوی په روزنه او ستروالي کې د ټولنې رول هم له پامه نه شو غورځولی. ستر اشخاص په خپلو هڅو ټولنې ته راوځي او ټولنه د پرمختګ او بریا په لور سوق کوي. د یوې ټولنې پرمختګ او د سترو شخصیتونو منځته راتګ د یوې سکې دوه مخونه دي. په دې معنا چې ستر اشخاص ټولنه د پرمختګ او سوکالۍ په لور بیایي او ټولنه بیا له یوه عادي شخص څخه ستر تاریخي شخصیت جوړوي. په دې ځای کې د تاریخ دنده د دې ټولې پروسې تر راتلونکو نسلونو پورې رسول ده. تاریخ دروغ او رښتیا دواړه لرلای شي ، خو له دې نه انکار نه شي کېدلای چې تاریخ د هغې ټولنې تېر وخت په ډېر پرتمین ډول او دبدبې روانو نسلونو ته بیانوي. د دې طبیعي پایله دا وي چې په انسان کې له خپل تاریخ او خپلو اتلانو سره مینه پیدا کېږي. او په خپل تاریخ ویاړ کول پیل کړي.

دا پایله په ټولو ټولنو کې یو ډول ده. خو هغه ټولنې چې پرمختللي او په علم سنباله وي ، په هغو کې هره ورځ داسې اشخاص راپیدا کېږي چې تاریخ جوړوونکي شخصیتونه وي. او ټولنه له داسې اشخاصو څخه هر مهال ډکه وي ، له همدې امله له خپلو اتلانو

(c) ketabton.com: The Digital Library


سره مينه د لمانځنې او پرستش تر کچې نه رسېږي او په تاريخ وياړ د دوی د غفلت او وروسته والي لامل نه ګرځي. د دې برعکس ، وروسته پاتې ټولنې د نوو او سترو شخصيتونو له پيدا کولو څخه عاجزه وي او په يوه وروسته پاتې ټولنه کې د سترو شخصيتونو د غوړېدنې او ځلېدنې لپاره ځای نه وي. په دې اساس ، په وروسته پاتې ټولنو کې له اشخاصو سره مينه له يوه عقلي او منطقي بريد څخه وځي او د لمانځنې او لېونتوب تر کچې رسېږي. دغه راز ، تاريخ د دوی لپاره د عبرت او ګټور لارښود پر ځای د غفلت ، تنبلۍ او بېکارۍ وسيله وګرځي. د ټولنې وګړي د تاريخ په مجازي انځور کې غرق او ورک پاتې وي او د خپلې ټولنې د رغونې او پرمختګ لپاره يې لاس او پښې شل وي.

له تاريخ او سترو شخصيتونو سره همدا چلند زموږ په ټولنه کې هم دود دی. د دې چلند ريښې زموږ په ټولنه کې دومره ژورې او زموږ د خلکو په اذهانو يې دومره ژور اغېز ناست دی ، چې د دې چلند له منځه وړل يا اصلاح کول تر ډېره بريده يو ناشونی کار ښکاري.

دا چلند ګڼ لاملونه لري. له هغو نه دوه – د نوو اشخاصو نه رامنځته کېدل او د ټولنې وروسته والی – يې مخکې ياد شوو. دريیم لامل يې دا دی چې زموږ د ټولنې خلک تر اوسه پورې د ((مړ)) کلمې په معنا نه دي پوه شوي او په دې نه دي پوه چې تاريخ له نن څخه د څو سوه يا زره کاله پخوا بيان ده ؛ نه هغه اشخاص له قبرونو څخه راپاڅېږي چې زموږ لپاره يو ځل بيا کار وکړي او نه هغه تاريخ د غفلت په خوبونو بېرته راګرځول کېدلای شي.

مړی چا دی ژوندی کړی په ژړا - عبدالرحمن مومند

(c) ketabton.com: The Digital Library


په همدې ډول ، زموږ خلک باید پر دې پوه شي چې خوشحال خان خټک لاندې شعر یوازې د ځینو مؤقتي احساساتو او شاعرانه جذباتو له مخې ویلای او هېڅکله دا کار شونی نه دی ؛

زه خوشحال توره لاس کفن په غاړه به راپاڅم
که خبر شـــــوم چې پښتون د چا غلام دی

(خ. خ. خټک)

که له یو بله اړخه دې شعر ته وګورو ، نو دا شعر یو ډېر مثبت او هڅوونکی پیغام را کوي. خوشحال خان خټک په دې پوهېده چې لکه څنګه چې نن ما خپل قوم ته خپلواکي وګټله ، په همدې ډول په هر عصر او دور کې به یو خوشحال پیدا کېږي او خپل قوم به د نړۍ پرمخ عروج ته رسوي. خو له علم څخه د لرې ټولنو یوه لویه ستونزه دا وي چې له هر شي یوازې منفي اغېز او پیغام اخلي ، پر مثبت او ګټور اړخ یې سترګې پټې وي.

یو بل لامل یې دا دی چې زموږ تاریخ د علم په ډول تر اوسه پورې نه دی لیکل شوی ، بلکې ډېری تاریخونه د افسانو ، ناولونو او نکلونو په ډول لیکل شوي او د تاریخ لیکنې په برخه کې ډېری هغو کسانو قلم پورته کړی چې د تاریخ په اړه یې لومړني معلومات هم ډېر ناقص او نیمګړي وي. ملي جذبات ، دیني اعتقادات ، قومي او ژبني تعصبات ، له اتلانو سره له اندازې زیاته مینه ، د پېښې د یوې کیسې یا نکل په ډول بیانول ، په یوه تاریخي تشه کې خپل شخصي احساسات ور ځایول ، دا او دې ورته ډېر نور هغه عناصر دي چې زموږ تاریخونه ترې مالا مال دي.

د دې لپاره چې دا چلند اصلاح او یا په بشپړ ډول له منځه یو وړل شي ، پکار ده چې لومړی په لیکل شوو تاریخونو پراخ علمي او اکاډمیک تنقید وشي او له هغه وروسته تاریخ د یوه علم په توګه ولیکل شي. پېښې چې څنګه وې ، په هماغه ډول په علمي

(c) ketabton.com: The Digital Library


ښه ولیکل شي ؛ د تاریخي تشو له ځانه د ډکولو هڅه باید هېڅ ونه شي ، بلکې راتلونکو څېړونکو او مؤرخینو ته دې پرېښودل شي. وخت او د علم پرمختګ به پخپله دا تشې ډکې کړي.

د مؤرخ دنده ده چې په تاریخ کې تېر وخت په علمي ډول بیان کړي ، نه دا چې له تاریخ څخه د ویاړ یوه مسئله او یا په اتلانو باندې د مینېدو یوه وسیله جوړه کړي. د تېر وخت له مجازي انځور څخه د اوسنۍ نړۍ حقیقت ته راوستل او د روانو حالاتو په اړه د خلکو پوهاوی زیاتول د یوه مؤرخ له اساسي دندو څخه ده. زموږ مورخ ته بویه چې دا دنده په بشپړ اخلاص او علمي دیانت سرته ورسوي. او دا ټولنه له دوو سترو ښامارانو — شخصیت پرستي او پر تاریخ ویاړنې — څخه وژغوري.

## ٤- جنسي پوهاوی:

انسان یوازې یو خوراک-څښاک کوونکی او عاقل موجود نه دی ، بلکې ځینې نور خواهشات ، احساسات او غوښتنې هم د انساني شخصیت لویه برخه جوړوي. په دې کې تر ټولو پیاوړې او سرکښۍ ته مایله غوښتنه جنسي خواهشات دي. په عقل باندې تر ټولو زیاته غالبه کېدونکې قوه همدا جنسي خواهش دی. او که په سمو او روا لارو دا قوه خړوبه شي ، نو د انساني ټولنې د هوساینې او ډاډ یو ستر لامل هم دی. هر عادي انسان په طبیعي ډول جنسي اړیکو ته ژوره لېوالتیا لري او د کورنۍ او ټولنې دا مسؤلیت دی چې د ده دا لېوالتیا په سمه لار ور پوره کړي. که نه د دې قوې ځپل او په زوره کنترول یو ډېر سخت او تر ډېره حده ناشونی کار دی. اړینه نه ده که د یوه انسان دا غوښتنه له روا لارې پوره نه شي ، نو هغه به هرومرو بد کارۍ ته مخه کوي ؛ بلکې د دې قوې په زور ځپل او کنترول ، د نورو رواني او بدني ناروغیو لامل ګرځي. انسان له نورمال حالت څخه وباسي. او د ژوند په اړه یو تیاره او بې معنا لیدلوری ور پیدا کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


په دې ټولنه کې په دې برخه کې دوه لويې ستونزې ليدل کېږي. يوه دا چې ، کومه روا لار چې الله تعالی ښودلې ، تر هغې پورې ور رسېدل زموږ ټولنې يو ناشونی کار ګرځولی. او دوهم دا چې ، د جنسي خواهشاتو او اړيکو په اړه د خلکو د پوهې کچه ډېره ټيټه او يا له نشت سره برابره ده. په دې ځای کې پر همدې دوهمې ستونزې خبرې کوو.

په جنسي خواهشاتو باندې د خبرو اترو نه کول ، د سيمينارونو نه دايرول ، په ټلويزوني او راډيويي شبکو کې برنامې نه خپرول ، په ټولګيو کې د ښوونکو له خوا زده کوونکو ته په دې اړه پوهاوی نه ورکول ، د پلار له خوا زوی ته او يا د مور له خوا لور ته په دې اړه لارښوونه نه کول ، په جوماتونو کې پر دې موضوع د ملايانو چوپتيا ، په دې اړه پوښتنه ګروېږنه نه کول او... يوازې او يوازې يو لامل لري او هغه دا چې پر دې موضوع خبرې کول زموږ په ټولنه کې شرم باله شي او کوم څوک چې پر دې موضوع غږ يا قلم پورته کوي ، هغه د ټولنې تر ټولو بې شرمه ، بې حيا ، رټل شوی او بې دينۍ و بې لارۍ ته لاره جوړوونکی ګڼل کېږي. زموږ خلک په دې کې د شرم احساس کوي چې له خپل زوی يا لور سره په هغه مسئله چې د هغوی په ژوند کې تر ټولو ستر او حياتي رول لري ، خبرې اترې وکړي او يا د هغوی پوښتنو ته ځوابونه ووايي.

د دې کار يو لامل دا دی چې زموږ خلک تر اوسه پورې په دې نه دي پوه شوي چې د جنسي اړيکو په اړه پوهاوی يې د ژوند لپاره څومره اړين دی ، او په دې برخه کې ناپوهي يې لومړی کورنۍ او بيا وروسته ټولنې ته څومره ستر ګواښ پېښولای شي. د ارواپوهنې څېړنې څرګندوي چې د ښځې او مېړه ترمنځ په جنسي اړيکه کې ستونزه د دوی د ګډ ژوند په ترخولو کې تر بل هر شي ډېر لاس لري. او د دې ستونزې يوازينی لامل په دې اړه د ښځې او مېړه ناپوهي ده.

نن ورځ د جنس پورې اړوند موضوعات د علم يوه مستقله او خپلواکه څانګه ګرځېدلې او دا موضوعات د سېکسالوجي ((Sexology)) تر نوم لاندې د علم په توګه لوستل کېږي. څنګه چې په اوسنۍ نړۍ کې د پرمختګ لپاره د نورو علومو ترلاسی مهم او اړين

(c) ketabton.com: The Digital Library


دی ، په همدې ډول د دې علم ترلاسی او د دې علم خپرول هم اړین او مهم دي. نو په دې اړه د شرم هېڅ ځای نه پاتې کېږي ، ځکه د علم په ترلاسه کولو کې شرم کول ځان د تباهۍ کندې ته ور ټېل وهل دي. باید په دې پوه شو چې د کورني ژوند خوشالي او هوساینه نېغ په نېغه په دې علم پورې اړونده ده ، او د کورنۍ د مشرانو — د مور او پلار دواړو — دا مسؤلیت دی چې خپل بې ځایه او غیرعاقلانه شرم یوې خواته کړي ، او په خلاص فکر په دې موضوع له خپلو اولادونو سره بحث وکړي. دغه راز ښوونکو او ملایانو ته هم بویه چې دا مسئله د خپل بحث او خبرو اترو موضوع وګرځوي ، او له علمي اړخه دا موضوع وشني. زموږ خلک باید په دې پوه شي چې په ۲۱ پېړۍ کې دا کار ناشونی دی چې خپل زوی یا لور په یوه کوټه کې بند کړو او په دې هیله واوسو چې دوی به له بې لاریو را وګرځي ؛ اوسنۍ نړۍ یو نړیوال کور ګرځېدلی ، زموږ زوی یا لور به نن یا سبا هرومرو له دې مسایلو سره مخ کېږي ، په دې اړه به تجسس او پوښتنې ورته پیدا کېږي ، او د هغو پوښتنو د ځوابونو په لټون پسې به وځي ، نو آیا ښه به نه وي چې له دې توپان سره له لاهو کېدو مخکې لا هغوی ته په دې اړه هر اړخیز — علمي او اسلامي — پوهاوی ورکړو او خپل ځان د پښېمانتیا او وجدان له عذاب څخه وژغورو ؟

## ۵- د هېواد قوانین:

قوانین په یوه ټولنه کې د نظم او ګډوډۍ د مخنیوي لپاره رامنځته کېږي. الله تعالی په سرک باندې د تګ قوانین نه دي ټاکلي ، خو انسانانو د دوه لوریزه سرکونو زیان تجربه کړی چې د مالي و بدني تاوان او ګډوډۍ لامل ګرځي ، ځکه یې سرکونه په منځ کې بېل کړي ، او د ((ښي او کیڼ لاس)) قانون یې رامنځته کړی. په دې معنا چې هر لاروی به خپل ښي یا کیڼ لاس ته تګ کوي. د هېواد بل هر قانون په همدې ډول در واخلئ. د هر قانون موخه به د یوې ګډوډۍ د مخنیوي او د نظم راوستل وي.

د قوانینو په اړه زموږ په ټولنه کې دوه لیدلوري وجود لري. یو لیدلوری دا دی چې د دې قوانینو سرغړونه یو جرم ده او که څوک دا جرم تر سره کړي ، نو سزا به ورکول

(c) ketabton.com: The Digital Library


کېږي. يو ډله خلک په همدې ليدلوري دي او د قوانينو پابندي يوازې له سزا څخه د ځان ساتلو لپاره کوي. دوهم ليدلوری دا دی چې دا قوانين د الله له خوا نه دي ټاکل شوي ، بلکې ځينې خلک په خپله خوښه را پورته شوي او دا قوانين يې جوړ کړي ، نو که د دې قوانينو پابندي ونه کړو ، نو آيا کومه ګناه به مو کړې وي ؟ دا ليدلوری يو ډېر منفي او په ډېر ناسم دليل ولاړ دی. په دې ځای کې همدې دوهمې ډلې ته په څو ټکو کې د ځواب ورکولو هڅه شوې:

يو ، دا رښتيا ده چې د ټولنې قوانين انسانان جوړوي ، ځکه الله تعالی يوازې د انسان د اخلاقي سمون لپاره لارښوونې را لېږي ؛ او د انساني ژوند په نورو اړخونو کې لاسوهنه نه کوي. الله تعالی د دنيوي ژوند لپاره عقل او فکر ورکړی او انسان يې خپلواکی پيدا کړی ، چې د خپل ژوند د سمون لپاره هر څه چې ورته ښه او غوره ښکاري هماغه وکړي. که الله تعالی په هر څه کې لاسوهنه کولای او يا يې کړې وای ، نو يو کتاب يې بايد په دې اړه هم رالېږلای وای چې موږ پخلی څنګه وکړو ، کوم کوم ډول خواړه پاخه کړو او په څه ډول يې وخورو ؛ دغه راز يو کتاب يې بايد په دې اړه هم رالېږلی وای چې ځان ته جامې څنګه وګنډو ، څنګه يې واغوندو ، په اونۍ کې جامې درې ځله بدلې کړو او که دوه ځله! الله تعالی په داسې چارو کې اصلا لاسوهنه نه کوي ، بلکې دا يې انساني عقل او فکر ته پرې ايښي. نو له دې دا په ډاګه شوه چې قوانين که جوړېږي ، نو انسان به يې جوړوي ، خدای له دې کار څخه لاس اخيستی دی.

دوه ، هغه انسانان چې قانون جوړوونکي دي (مقننه قوه) هغه له اسمان څخه نه دي نازل شوي او نه د هغو د ګمارلو په اړه له اسمان څخه حکم نازل شوی ، بلکې هغوی زموږ او ستاسې له خوا ګمارل شوي استازي دي. موږ د خپلو رايو په اساس هغوی ته دا واک او حق ورکړی ، چې زموږ لپاره قوانين جوړ کړي او يوې بلې قوې (اجرائيه) ته مو دا واک ورکړی ، چې هغه يې پر موږ پلي او نافذ کړي ؛ او که موږ کومه سرغړونه وکړه نو دريمه قوه (قضائيه) دا حق او ځواک لري ، چې زموږ په حق کې پرېکړه وکړي او

(c) ketabton.com: The Digital Library


د هغې سرغړونې په بدل کې یوه وړ سزا راته وټاکي. که دې ټولې پروسې ته وګورو ، نو دلته هماغه انسان تر سترګو کېږي چې دا نیوکه یې را پورته کړې چې زه ولې د ځینو انسانانو له خوا د جوړ شویو قوانینو پابندي وکړم. نو دی باید په دې پوه شي چې دا قوانین او له دې قوانینو څخه د سرغړونې په بدل کې ورکول کېدونکې سزا پخپله ده (د ده استازو) ټاکلې او اوس پخپله په خپل لاس کړي کار نیوکه کوي!

درې ، آیا له دې قوانینو څخه په سرغړونه به الله تعالی سزا ورکوي ؟ هو ، الله تعالی به پر دې سرغړونه هرومرو سزا ورکوي. د دې دلیل دا دی چې قانون د حکومت او عام وګړي تر منځ یو تړون او معاهده ده ، او د معاهدې ماتول او یا له تړون څخه سرغړونه کول حرام ده. په دې هکله د الله تعالی حکم دا دی: وَأَوْفُواْ بِالْعَهْدِ إِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْؤُولاً. نو هېڅ انسان سره نه ښایي چې په هېواد کې له حاکم قانون څخه سرغړونه وکړي ، یا یې په خلاف بغاوت وکړي. هو ، دا حق په هر وخت کې لري که دی په دې پوهېږي چې دا قانون د هېواد او انسانیت په تاوان دی ، نو د علمي او عقلي استدلال له مخې خپل اختلاف څرګند کړي او تنقید پرې وکړي ، خو هېڅکله به هم له هغه قانون څخه سرغړونه نه کوي. د اختلاف حق هر وخت لري ، خو د بغاوت او سرکښۍ حق نه انساني عقل ورکوي او نه هم دین د فتنې او بغاوت اجازه ورکوي.

**٦- کسبونه:**

یوه ټولنه هغه وخت د بریا لارې ته برابرېږي چې هر وګړی تر خپله وسه د ټولنې په پرمختګ او وده کې برخه واخلي. پوهان او علما د علم او پوهې په رڼا د ټولنې تیارې له منځه یوسي او کسبګران د خپل کسب او هنر له لارې د ټولنې اساسي ستنې په پښو ودروي.

په یوه ټولنه کې ډول ډول کسبونه وجود لري او د هر کسب ګټه او ونډه په ټولنه کې یو تر بله توپیر لري. امکان لري چې یو کسب ټولنې ته ډېره ګټه ورسوي ، کسبګر لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library


يې عايد ډېر وي ، ونډه يې زياته وي ؛ او يو بل کسب بيا ټولنې ته هغومره ګټه ونه رسوي ، عايد يې ډېر نه وي ، او ونډه يې کمه وي ؛ خو دا په دې معنا نه ده چې دا وروستی کسب يو بد او ناوړه کسب دی ، او په ټولنه کې دې ورته په ټيټه سترګه وکتل شي. او د هغه کسب په اړه منفي ليدلوری دې کچې ته ورسېږي ، چې يو کسبګر خپل کسب او ژوند عذاب وګڼي.

زموږ په ټولنه کې هم د ځينو کسبونو په اړه دومره منفي ليدلوری شتون لري چې حتی د هغه کسب څښتن له نورو انسانانو څخه کم ګڼل کېږي او هغه کسبګر د خپل اصلي نوم په ځای د هغه د کسب په نوم يادېږي. که يو څوک څپلۍ او بوټان رنګوي ، نو د هغه خپل نوم د تل لپاره ورک وي او په موچي مشهور وي ؛ د وېښتانو کموونکي ته ((سلمان يا ډم)) ويل کېږي ، حد خو يې هغه وخت وي چې کله يو ډم يا سلمان د خليفه په نوم يادېږي ؛ دا نومونه د ((ډاکټر)) يا ((انجينر)) په شان له عزت او درناوي څخه نه ، بلکې هدف يې د هغه کسب تحقير ، بد او سپک ګڼل وي. د دې تر شا ګڼل لاملونه کېدلای شي ، خو تر ټولو لوی لامل يې د کسب او کار په حقيقت او ارزښت ناپوهي او د دې ترڅنګ د الله تعالی د هغې طرحې په اړه ناخبرتيا ده چې الله تعالی ولې انسانان په ډول ډول مرتبو خلق کړي. يو يې موچي کړی ، بل ته يې د شاعرۍ وړتيا ورکړې ، بل د يو چا د درملنې ښه استعداد لري او د بل شخص ذهن د ودانيو په جوړښت او رغښت کې ښه کار کوي. د دې لامل الله تعالی په دې ډول بيان کړی. ((او د ځينو مرتبه مو پر ځينو اوچته کړې تر څو يو د بل لاس لاندې (کارکونکي) وګرځوي — سورة الزخرف)). الله تعالی د دې آيت په پای کې فرمايي چې دا زما يو رحمت او لورېينه ده چې په تاسو مې په دې ډول خلق کړي ياستئ. که دا کار انسانانو ته پاتې وای ، نو هرومرو به يو لوی فساد رامنځته شوی وو.

دا الله تعالی دی چې انسانان له ډول ډول وړتياوو سره پنځوي او ټول انسانان يې سره ورته نه دي پيدا کړي. له همدې امله که يو څوک د يو چا پر کسب او يا مالي حالت

(c) ketabton.com: The Digital Library


ټوکې او رشخند وهي ، دا په حقیقت کې د الله تعالی پر هغه ازلي طرحې او حکمت يو ډول رشخند او ملنډې دي(العیاذ بالله ) او دا کار یوه لویه ګناه ده.

د دې پر ځای چې په دې کسبونو یا د هغوی په ښځتنانو مسخرې وکړو ، بويه چې د هغوی احسان ومنو او مننه يې وکړو ، چې همدا زموږ د ټولنې په بډایه کولو او پرمختګ کې لګیا دي. تر هغو پورې یو کسب ناروا او بد نه دی ، تر څو پورې چې د شریعت خلاف کومه کړنه پکې ونه ليدل شي او د ټولنې په زيان او تاوان نه وي. د دې ټولنې خلک باید پوه شي چې د مرتبو او مقامونو دا وېش الله کړی او زموږ د نېکمرغۍ او ښګڼې لپاره يې کړی.

## ۷- په ټاکنوکې نه ګډون:

د انسان په نفس کې د خير او شر دواړه مادې وجود لري. که د خير اړخ په یوه انسان غالب شي ، نو د هغه مقام په دې او راتلونکي دواړو جهانو کې د بریا او نېکمرغۍ هسکو ته ورسېږي. او که يې د شر لوری سر راپورته کړي ، نو داسې ځای ته ورسېږي چې شیطان هم ترې پناه غواړي. د شر قوې د خنثی کولو او د خير قوې ته د ودې ورکولو لپاره الله تعالی انسان په ډول ډول ځواکونو او وسایلو نازولی دی. په دنیوي چارو کې د خير او شر د تمییز او توپير کولو لپاره الله تعالی عقل او شعور ورکړی ؛ دغه راز کوم څه چې د یوه انسان لپاره په اخرت کې خير او یا شر دی ، د هغو لپاره يې وخت په وخت پیغمبران او کتابونه استولي. د اخرت لپاره چې انسان کوم څه ته اړتیا لرله ، هغه له نن څخه څه باندې څوارلس سوه کاله مخکې بشپړ شوو. خير او شر په نهايي ډول څرګند او روښانه دي. خو له دنیوي اړخه لا هم انسان خپل عقل ته محتاجه دی او د خپل عقل له لارې پکار ده چې د ښه او بد ترمنځ توپير وکړي.

دلته یوه خبره د غور وړ ده چې ټولو انسانانو ته یو ډول عقل او فکر نه دی ورکول شوی ، د دې حتمي پايله دا ده چې د دوو انسانانو ترمنځ به د ښه او بد په اړه ليدلوری

(c) ketabton.com: The Digital Library


او فکر هم بېل او جلا وي. د همدې لپاره د دې ستونزې د هوارتیا لپاره د یوې ټولنې انسانان پخپلو منځونو کې هوکړه کوي ، چې له نن څخه وروسته به په دنیوي چارو کې د ښه او بد پرېکړه هغه ډله خلک کوي چې موږ یې په خپله خوښه او رایه ټاکو. د دې پروسې په پایله کې منځته راتلونکي حکومت ته جمهوریت ویل کېږي.

د جمهوریت یو لوی اصل ټاکنې دي. په جمهوري ټولنو کې ولسمشر او نور چارواکي د همدې ټاکنو له لارې غوره کېږي او د هېواد د چارو واګې په لاس کې اخلي. د یوه غوره او یا بېکاره حکومت رامنځته کول ، نېغ په نېغه د هغې ټولنې د وګړو په اکثریت رایو پورې اړه لري. د یوه غوره حکومت شتون د یوې ټولنې د وګړو سیاسي شعور ، د علم او پوهې کچه ، له خپل هېواد سره مینه او د خپل هېواد سوکالۍ او پرمختګ ته هیله څرګندوي ؛ حال دا چې د یوه ناوړه ، نااهله ، ظالم ، په کار ناپوه مشر شتون بې له ځنډه دا په ګوته کوي چې د دې ټولنې وګړي د غفلت په خوب ویده او د خپل هېواد د پرمختګ او ودې نه غوښتونکي دي. د ټاکنو یوه تر ټولو لویه ښېګڼه دا وي چې د ټولنې هر وګړي ته دا واک ورکوي چې هر ځل د یوه لا ښه ، غوره ، ګټور او پخپلو ژمنو ولاړ حکومت رامنځته کړي ؛ دا همداسې مثال لري لکه یو مخترع چې وخت په وخت د علم او پوهې په زیاتېدو پخپله اختراع کې ښه والی او پرمختګ راولي. او یوه ورځ یې تر ټولو پرمختللي او غوره حالت ته ورسوي. ټاکنې هم همداسې در واخلئ.

زموږ په ټولنه کې د ټاکنو په اړه ګڼ لیدلوري شتون لري. یو لیدلوری دا دی چې جمهوریت یو کفري نظام دی! او په ټاکنو کې برخه اخیستل یوه لویه ګناه او سرغړونه ده. بل لیدلوری دا دی چې د یوه تن رایه هېڅ بدلون نه شي رامنځته کولای. درېیم لیدلوری د هغو خلکو دی چې په ټاکنو کې برخه اخلي ، خو په دې فکر کې نه وي چې رایه یې په پوره فکر او غور کارولې که نه. ټاکنو ته د یوې لوبې او ساتېري په سترګه ګوري. او وروستی لیدلوری د هغو خلکو دی چې په پوره فکر او هوښ دا خبره مني چې د یوې ټولنې پرمختګ نېغ په نېغه د هغې ټولنې په سیاسي نظام پورې تړلی او یو غوره

(c) ketabton.com: The Digital Library


سیاسي نظام ((یوازې او یوازې)) د همدې ټاکنو له لارې رامنځته کېدلای شي. همدا مثبت او عقلاني لیدلوری دی.

هغه کسان چې خپله یوه رایه ، بې ارزښته ګڼي ، نو هغوی ته بویه چې د څو شېبو لپاره داسې فرض کړي چې که د هېواد ټول وګړي په همدې فکر په ټاکنو کې برخه وا نه خلي ، نو پایله به یې څه وي؟ دا داسې مثال لري لکه یوه کور چې اور اخیستی وي ، او د کور ټول غړي په دې فکر ارام ناست وي ، چې زما یو ستل اوبه به نو څومره په درد خوري. د دې ښکاره پایله دا ده چې له کور سره سره به هغه ټول کسان هم د اور په لمبو کې سوځېږي. د دریېم لیدلوري کسان بیا داسې مثال لري لکه د همدې کور کسان را پورته شي او د دې په ځای چې په خپل یو ستل اوبو اور ووژني ، اوبه بې ځایه توی کړي او ضایع یې کړي. دا یو ډېر ناسم کار دی او د یوې ټولنې ورانۍ او تباهۍ ته لاره هوارول دي. په دې کې هغه ډله چې دا کار له اسلام سره مخالف ګڼي ، هغوی باید پوه شي چې دې نړۍ کې د واکمن ټاکلو واک یوازې له دوو سرچینو سره دی: یو د دې نړۍ خالق ، الله تعالی ؛ او بل پخپله خلک. دریېم هر لوری چې دا واک او صلاحیت ځان ته اختصاصوي ، هغه باید خپل دلیل وړاندې کړي او هغه سرچینه را په ګوته کړي چې هغوی ته دا واک ورکوي چې په نورو انسانانو واکمني وکړي او یا کوم څوک پرې واکمن کړي. د پیغمبرانو د لړۍ له پای ته رسېدلو وروسته ، الله تعالی دا واک انسان ته سپارلی دی او په قرآن کریم کې یې یو عمومي اصول بیان کړی چې د مسلمانانو چارې به د هغوی په خپلمنځي مشوره ترسره کېږي. جمهوریت د همدې اصول علمي او عقلي اطلاق او منظم او عقل ته نږدې نظام او بڼه ده. دا نظام نه یوازې دا چې یو کفري او پردی نظام نه دی ، بلکې په حقیقت کې د اسلام له اصولو سره برابر او د مسلمانانو خپل نظام دی چې د ځینو لاملونو له کبله ترې پردی شوی او له لاسه یې ورکړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن ورځ د شورا د پلي کولو تر ټولو وړ لاره ټاکنې دي. په دې اساس ، د ټاکنو ارزښت له پامه غورځولو نه دی ، پکار ده چې هر وګړی د خپلې رایې په ارزښت پوه شي او د یوې سوکالې او ابادې ټولنې د رامنځته کولو لپاره یې په بشپړ غور او فکر وکاروي.

## پای

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د کتاب دوهمه برخه

# علم و ژبه

(c) ketabton.com: The Digital Library


## موږ او روان عصر

انسان د نورو ډېرى مخلوقاتو په څېر د خپلو شپو د سبا کولو لپاره يوازې د خوراک او څښاک په لټه کې نه وي ، بلکې د خپل ژوند د ښه والي ، ارامتيا ، سوکالۍ ، هوساينې ، او له سختو کارونو څخه د ځان د خلاصون لپاره هڅه او تلاښ هم کوي. انسان ته د عقل په ښه الله تعالى يوه ډېره نايابه او ګرانبيه قوه ور په برخه کړې. د عقل له لارې انسان تل هڅه کړې چې د خپل ژوند ، ټولنيزې ، اقتصادي ، سياسي ، علمي او پوهنيزې غوټې پرانيزي ؛ د همدې عقل له لارې غواړي چې په فطرت برلاسى شي ، د فطرت قوانين مطالعه کړي او تر خپل کنترول لاندې يې راولي ؛ او د ځان د هوساينې او ارامتيا لپاره ډول وسايل او توکي اختراع کړي. د دې پيل د غار له انسان نه نيولي چې کله يې د ځان لپاره د ښکار او له داړونکو ځناورو څخه د ځان ساتنې په موخه د لرګي يوه خوا نرۍ او تېره کړه او د ځان په ګټه يې وکاروله ، بيا تر نن ورځې پورې دوام لري چې دا دى نن سبا د خپل ځان په څېر – يا له ځان نه هم د ډېر ځواکمن ، تېز او ځيرک – مصنوعي انسان د ايجاد په هڅو کې لګيا دى.

د انساني تاريخ له مطالعې څخه په ډاګه کېږي چې انسان په علمي برخه کې درې ستر دورونه تېر کړي دي چې په لاندې ډول ورته کتنه کوو:

۱- **فلسفي او مذهبي دور:** په لومړني دور کې انسان له دين او فلسفې سره بوخت وو. له فطرت څخه وېره ، د طبيعي پېښو په اړه حيرانتيا ، د اسماني اجسامو ناپېژندګلوي ، د خپل ځان د تخليق ، مقصد او انجام په اړه ګنې پوښتنې او داسې نور هغه څه وو چې لومړنى انسان ورسره لاس او ګرېوان وو. د انسان د همدې کنجکاوي له امله ګڼ فلسفي افکار او غير الهامي اديان او مذاهب رامنځته شوو. له ټولنيز ، اقتصادي ، سياسي او تمدني اړخه د ستونزو په نشتون کې د لومړنيو انسانانو لويه لاسته راوړنه دا وه چې د خپل ځان او کايناتو په اړه به يې يوه غوره توجيه او سبب وړاندې کړ. د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library


دور لاسته راوړنې او اثار بې له شکه چې د انسانیت ستره او ګرانبیه پانګه ده او که ووایو چې د انسان وروستنې دوه پړاوونه د همدې پړاو له بطن څخه زیږېدلي ، نو یوه بې بنسټه خبره به نه وي ، خو د نن ورځې په پرتله د انسان ټولنیز ، اقتصادي ، سیاسي... ژوند له ګڼو ستونزو او کړکېچونو سره مخ وو.

**۲- علمي او ساینسي دور:** په دوهم دور کې انسان د ماورا طبیعي غوټو له پرانیستلو لاس واخیست ، او دا کار یې یوې ټاکلې ډلې ((فلسفیانو او مذهبي رهبرانو)) ته پرېښود ، او پخپله د دې په ځای چې ماورا طبیعي لانجو کې ځان ښکېل کړي ، هغه موضوعات او مباحث یې ور خپل کړل چې د تجربې او کتنې (مشاهدې) په منګولو کې راتلای شوای. د خپلو تجرباتو او مشاهداتو د دایرې د پراخولو لپاره یې ګڼ وسایل ایجاد کړل او یو نوی نړۍ لید (World view) یې رامنځته کړ. د دې په ځای چې د انسان د فکري او باطني مسایلو او پوښتنو په حل پسې سر وخوږوي ، انسان ته ور پېښو ګڼو اقتصادي ، سیاسي ، ټولنیزو او طبیعي پېښو ، ستونزو او افتونو د له منځه وړلو لپاره یې شپه و ورځ یوه کړه. له فطرت څخه د وېرېدلو په ځای یې د فطرت په قوانینو د ځان پوهولو او پرې برلاسي کېدو لپاره یې زیار او زحمت پیل کړ. په دې دور کې تندر او برېښنا د ځینو خدایانو قهر یا غضب نه ، بلکې د برېښنایي انرژي د رامنځته کولو وسیله شوه.

دې دور د انسانیت په تاریخ کې د علم او ساینس په برخه کې ډېر لوړ او ستر اشخاص زیږولي دي. د همدې دور د یوه ستر شخصیت او ساینسپوه ، ښاغلي آیزک نیوټن ، په اړه یو شاعر لیکي:

((شاعر:

یا خدایه! دا نړۍ خو تیاره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


خدای:

زه به نیوټن در ولېږم ، روښانه به یې کړي.))

**۳- د ټکنالوژي دور:** دا اوسنی او روان دور دی. په اصل کې دا دور د دوهم دور د لاسته راوړنو او د علم او ساینس په عملي کولو او تطبیق ولاړ دی. په دې دور کې علم او ساینس د څېړنو او تحقیقاتو او په فطرت باندې د ځان پوهولو پر ځای د انسان د عملي ژوند د بډایه کولو او هوساینه کې رول لوبول پیل کړل. اوس د انسان موخه یوازې د فطرت په قوانینو باندې د ځان پوهولو له لارې د خپلې وېرې له منځه وړل نه ده ، ځکه تقریباً د فطرت ټول قوانین یې ځان ته اېل کړي دي ، بلکې اوس یوازې په دې هڅه کې دی چې په خپل علم او پوهه انساني ژوند په څه ډول ارامه او هوسا کړي. د درې واړو دورونو لنډیز که په درې ټکو کې وغواړو نو ویلای شو چې: په لومړني دور کې انسان زړور ، دوهم دور کې هوښیار ، او درېیم کې هوسا شو.

**٤- د مصنوعي انسان دور:** دا دور لا تر اوسه د خپلو خاپوړو په دور کې دی. دا د بشري نړۍ راتلونکی (او ښایي وروستی) دور وي. د نن ورځې یوه لویه بشري قوه په دې دور کې شپه و ورځ خولې تویوي. او د خپل علم او فکر ټول ځواک یې د همدې دور لپاره وقف کړی. په دې دور کې د اصلي انسان رول او درک ډېر کم رنګه دی ، او تر ډېره بریده د خپل لاس جوړ کړي مصنوعي انسان تر کنترول او واک لاندې ښکاري. په لومړني دور کې د فطرت قوانینو انسان له وېرې سره مخ کړی وو ، په وروستي دور کې به انسان له خپلې اختراع څخه په وېره او ډار کې وي. که څه هم ، د دې دور په اړه دا ډول منفي نیوکې ډېرې پرېمانه روانې دي ، خو د لیکوال په اند لکه څنګه چې انسان په لومړني دور کې په ټولو ګواښوونکو پدیدو برلاسی شو ، په همدې ډول به په دې دور کې هم د خپل ځیرک عقل او فکر له لارې برلاسی شي. خو دا برلاستیا او واک به هغه مهال د اصلي انسان لاسته ورځي ، چې مصنوعي انسان به بشري نړۍ ته پراخه

(c) ketabton.com: The Digital Library


زیانونه اړولي وي. درېیمه نړیواله جګړه په حقیقت کې د انسانانو د دوو ډلو ترمنځ نه ، بلکې د طبیعي او مصنوعي انسان ترمنځ یوه نښته او جګړه به وي.

پورتنۍ کرښې د انسان د پیدایښت له ورځې څخه تر ننه پورې د هغه علمي او فکري بهیر ته یوه ځغلنده کتنه وه.

په دې ځای کې اوس په دې خبرې کوو چې نن ورځ زموږ حالت او وضعیت په څه ډول دی. آیا زموږ مسیر له نړۍ سره موازي دی ؟ که موازي نه وي آیا د نورې نړۍ مسیر ته برابر یو او که نه ؟ د اوسنۍ نړۍ غوښتنې او تقاضاوې څه دي ؟ او له اوسنۍ نړۍ سره د سیال کېدو لپاره څه پکار دي ؟

له بده مرغه باید ووایم چې د انسانیت د علمي تاریخ په هېڅ دور کې هم زموږ ونډه او مرسته نه ترسترګو کېږي. له لومړني دور څخه نیولي تر ننه پورې موږ ته تل له نورو څخه هر څه رارسېدلي او په علمي او ساینسي برخو کې نورو ته محتاج پاتې شوي یو. که نن موږ ارامه او هوسا یو ، نو هغه د نورو له برکته ده ، داسې نه ده چې موږ د انسانیت د نېکمرغۍ او پرمختګ لپاره پایښې را بدې وهلي وي ؛ او د انساني ژوند د هوسا کولو لپاره مو اختراعات او پنځونې کړې وي. په دې کې شک نشته چې زموږ ټولنې هم ستر شخصیتونه او پوهان زېږولي دي ، خو د هغو شخصیتونو اغېز په ټولنه دومره نه وو لکه د نورو ټولنو د سترو شخصیتونو چې د نوو څېړنو او تحقیقاتو ته لار برابره کړې. او په ټولنه کې یو علمي او فکري شعور را بیدار کړي. بلکې د ګوتو په شمېر پوهان د خپل وخت تکړه خلک پاتې شوي ، د هغوی د هغه وخت لیکنې او اثار نن ورځ د یوه تاریخي اثر په توګه هرومرو لوی ارزښت لري ، خو هغو اثارو پخپل وخت کې د علم او تحقیق شمعې نه دي روښانه کړې چې د هغو رڼا د علم او پوهې نور پټنګان هم راټول کړي او دا رڼا تر لرې لرې ځایونو پورې ورسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


پورته وويل شوو چې اوسنی عصر د ټکنالوژۍ عصر دی. د دې دور اغېزې زموږ په ټولنه کې هم پراخه ريښې کړې. که له ډېرې پرمختللې او عصري ټکنالوژۍ څخه برخمن نه يو ، نو ورسره بلدتيا خامخا لرو. داسې کور به نه وي ، چې هلته د اوسني عصر له برېښنايي يا نورو وسايلو څخه يوه کوچنۍ يا لويه وسيله و آله نه وي.

خو له بده مرغه بايد ووايم چې ، سربېره پر دې چې له دې هر څه څخه پرېمانه ګټه اخلو او ډېری وختونه له دې وسايلو پرته خپل ژوند نيمګړی راته برېښي ، خو بيا هم په دې دور او د انسانيت په دې علمي کاروان کې نه ور ګډېږو او خپله ونډه پکې نه اخلو ؛ بلکې يوازې په پټو سترګو د نورې نړۍ وسايلو ته ناست يو ، او د ټکنالوژۍ په اړه يوازې هغه مهال خوله چوله کوو چې کله – زموږ د خپلې ناپوهۍ له امله – يوه وسيله کار پرېږدي ، نو هله د هغې ټکنالوژۍ د اختراع کوونکي هېواد او کمپنۍ رټل ترټل پيل کړو او سپکې سپورې ورپسې وايو.

د نن ورځې انسان د ټکنالوژۍ په عصر کې ژوند کوي. پکار ده چې په دې عصر کې تر خپله وسه برخه واخلو ، او په څه ډول چې د نورې نړۍ انسانان زموږ او نورو انسانانو لپاره کار کوي ، په همدې ډول موږ هم له هغوی سره اوږه په اوږه د ټول انسانيت لپاره کار وکړو.

د دې لپاره چې د دې کار جوګه وګرځو ، اړ يو چې د دې عصر غوښتنې او تقاضاوې وپېژنو او پخپل ځان کې هماغه وړتياوې او استعدادونه را وپنځوو چې دا عصر يې غوښتنه کوي.

ننني عصر ګڼې غوښتنې او تقاضاوې لري او د دې غوښتنو له پوره کولو او را خپلولو پرته نه شو کولای چې له اوسنۍ نړۍ سره د سيالۍ جوګه شو ؛ په دې ځای کې له دې غوښتنو څخه پر يو څو يې لنډې خبرې کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱-ژبه:**

علم د انسان د عقلي او فکري قواوو مېوه ده او ژبه د علم د لېږد او انتقال وسیله ده. د نړۍ د علمي تاریخ له مطالعې په ډاګه کېږي چې په هر عصر کې په لویه کچه علم یوه خاصه او ځانګړې ژبه لرلې ده. او په هر عصر کې د اړوند ژبې زده کړه یوازې د افهام او تفهیم د یوې وسیلې په توګه نه ، بلکې علم او پوهې ته د لاسرسي لپاره د یوازینۍ لارې په توګه زده شوې ده. خو ورو په ورو هغې ژبې خپل رسوخ او اغېز له لاسه ورکړی او خپل ځای یې بلې ژبې ته پرې ایښی. یو وخت لاتیني ژبه په علم واکمنه وه ، او شاوخوا ټول علوم په همدې ژبه کې وړاندې کېدل. په دې کې شک نشته چې له دې وړاندې او په ورته وخت کې نورې لویې ژبې هم وې چې پراخه علمي کار پکې شوی وو. د بېلګې په ډول پهلوي ، یوناني ، مصري ، سنسکرت او داسې نورې ژبې یادولای شو. خو دا هغه ژبې وې چې ساحه یې محدوده وه ؛ مګر لاتیني هغه ژبه وه چې له علم سره به مترادفه ګڼل کېدله. له هغه وروسته دوهمهستره ژبه ((عربي)) وه. په علمي نړۍ باندې د عربي ژبې اغېز د عباسیانو له خلافت سره پیل او د رنسانس او ساینسي انقلاب (Renaissance and Scientific Revolution) په رامنځته کېدو پای ته رسېږي.

د لاتیني ژبې څخه د عربي ژبې د رسوخ او اغېز ساحه پراخه وه او د دې یو لامل دا وو چې وروستۍ ژبه د یوه ستر دین ، اسلام ، ژبه ګرځېدلې وه. که څه هم ، په علمي برخه کې شوی کار د عربي ژبې د ویونکو خپله لاسته راوړنه نه وه او له نورو ژبو څخه را ژباړل شوی کار وو ، خو پخپل ځای کې دا هم یوه ستره لاسته راوړنه وه.

له رنسانس او د اروپا ، د ناپوهۍ له تیارو څخه له راوتو وروسته علم خپله ژبه او خپل لوری له یوې مخې بدل کړ. علم نور د لاتیني او سنسکرت په څېر له سختو اشتقاقي او پېچلو صرفي قواعدو لرونکو ژبو له منګولو څخه ځان خلاص کړ ، او له بېلا بېلو ژبو څخه رامنځته شوې یوه پراخ لمنه ، د نوو الفاظو او اصطلاحاتو منونکې او په اسانه

(c) ketabton.com: The Digital Library


زده کېدونکې ژبه یعنې انګرېزي (ENGLISH)، یې را خپله کړه. د عربي ژبې د له منځه تلو لامل د دې ژبې پېچلتوب نه وو، بلکې د دې ژبې د ویونکو فکري جمود او له علم سره نور د لېوالتیا نشتون وو. د دې ترڅنګ، نور لاملونه هم لري.

انګرېزي ژبه له هماغه نېټې را نیولې تر ننه پورې د علم ژبه پاتې شوې. نن ورځ د انګرېزي ژبه یوازې یوه نړیواله ژبه نه ده، بلکې یوه علمي ژبه ګڼل کېږي. له اسلام پرته، د علم په هېڅ ډګر کې — هغه که ساینسي وي، اجتماعي، اقتصادي، سیاسي، فلسفي، ټکنالوژیک، او یا بل هر ډګر وي — هم وده او پرمختګ امکان نه لري تر څو پورې چې یو څوک په دې ژبه کې پوره تبحر او وړتیا ونه لري. د علم لپاره په دې ژبه کې تر دومره حده کار شوی، که د نړۍ بله هره ژبه وغواړي چې له دې ژبې سره ځان سیال کړي، نو لږ تر لږه باید له ۱۰۰ تر ۱۵۰ کاله پورې شپه او ورځ زیار او زحمت وګالي او دا کار نن ورځ ناشونی ګرځېدلای دی.

انګرېزي ژبه نن ورځ د یوه هېواد یا څو قومونو ژبه نه ده، بلکې په ټولې نړۍ حاکمه، او د اوسني عصر یوه لویه او اړینه غوښتنه ګرځېدلې. د انګرېزي ژبې تر څنګ دوه نورې ژبې هم شته چې نن ورځ پراخه علمي کار او زیار ورته ویستل شوی. بې له شکه چې دا دواړه ژبې هم له انګرېزي سره په هېڅ ډول د سیالۍ وړ نه دي، خو بیا هم د هغوی له ارزښت او اهمیت څخه انکار نه شي کېدلای، چې په هغو کې یوه ((اردو)) ژبه چې د پاکستان ملي ژبه ده، او بله ((فارسي)) ژبه چې د ایران ملي ژبه ده. له برابره مرغه، وروستۍ ژبه د ((دري)) په بڼه زموږ د هېواد ملي ژبه هم ده او پر دې د الله تعالی شکر په ځای کول پکار دي. او اردو ژبه که څه هم زموږ په هېواد کې نشته خو له دوو ښېګڼو څخه برخمنه ده: یو دا چې، له دې ژبې سره زموږ ډېری هېوادوال بلد دي؛ او دوهم دا چې زده کړه یې ډېره اسانه ده ځکه یوه لویه برخه یې په فارسي یا دري ژبې ولاړه ده. د انګرېزي ترڅنګ د دې دواړو ژبو زده کړه هم په علمي، ادبي او تر یو څه بریده په ساینسي ډګرونو کې لویه مرسته راسره کولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


هره ژبه د انسان لپاره د علم او پرمختګ نوې دروازې پرانیزي. د یوه محقق او عالم لپاره د تحقیق او څېړنې کارونه اسانه او کره کوي. د زده کوونکي لپاره د مطالعې، مراجعې او زده کړې مواد زیاتوي. په اړیکو او ارتباطاتو کې اسانتیا رامنځته کوي. او د ژبې په وسیله د انسانانو ترمنځ د افکارو او نظریاتو د تبادلې، د افهام او تفهیم، د مینې او محبت، د زغم او د یو بل منلو ارزښتونه وده او پراختیا مومي.

## ۲- کمپیوټر:

د کمپیوټر په هکله زموږ تصور تر نن ورځې پورې هماغه څو سوه کاله پخوانی دی چې کمپیوټر د حساب یو بریښنایيز ماشین دی. خو په دې باید پوه شو چې کمپیوټر نن ورځ له حساب او ساده کارونو څخه دومره وړاندې تللی چې یو عادي انسان یې فکر هم نه شي کولای. په اوس وخت کې د ژوند هېڅ داسې ډګر نه تر سترګو کېږي چې هلته د کمپیوټر شتون تر سترګو نه شي. له ساده اداري او کورنیو کارونو نیولې، په لویو دفترونو او ادارو، په بانکونو کې د انسان له وس پورته د پېچلو محاسبو د سترګو په رپ کې ترسره کول، په فابریکو او تولیدي کارخونو کې د وسایلو او توکو ډیزاین، جوړښت او د کار څرنګوالی تعینول، د CAM[1] او CAD[2] په څېر ټکنالوژیو شونتیا، د څېړنې او تحقیق په چارو، په طبي برخه کې د پراخو اسانتیاوو رامنځته کول، په همدې ډول آن د یوه هېواد تر کنترول او مدیریت پورې ټولې چارې نن ورځ د کمپیوټر په مټ ترسره کېږي.

هغه کارونه چې د وروسته پاتې نړۍ خلک یې ناشوني او/یا ډېر پېچلي ګڼي، له کمپیوټر سره بلد قومونه یې د همدې کوچني ماشین په مرسته د سترګو په رپ کې سرته رسوي. د یوه ماشین اصلي دنده د انسان لپاره کار اسانه کول دي، خو په کومه کچه

[1] د کمپیوټر په مرسته تولید.
[2] د کمپیوټر په مرسته ډیزان

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې کمپیوټر د انسان په ژوند کې اسانتیا او چټکتیا رامنځته کړې ، د بشري نړۍ په تاریخ کې به بل هېڅ ماشین دا کار په دومره کچه نه وي کړی.

کمپیوټر د روان عصر یوه حتمي او ستره تقاضا ګرځېدلې او نن ورځ پرمختګ او کمپیوټر له یو بل سره د لازم او ملزوم په اړیکه تړلي دي. د کمپیوټر له پوره زده کړې او سمې کارونې پرته هېڅ قوم نه شي کولای چې له نړۍ سره د سیالۍ خپل خوب په حقیقت بدل کړي.

**۳-انټرنټ:**

دا خبره به مو ډېره اورېدلې وي چې نن ورځ نړۍ یو نړیوال کور یا ټولنه ګرځېدلې. دا رښتیا ده او د دې لامل د انټرنټ په څېر د انسان ستره لاسته راوړنه او د الله تعالی د قدرت یوه عظیمه نښه ده. نړیوال کور یوازې په دې معنا نه دی چې اوس د نړۍ د هر کونج له انسان سره په اسانه اړیکه نیولای شو. بلکې دا اصطلاح په پراخ ډول ، دې ته اشاره کوي چې نن ورځ د انسانانو ژوند ، فکر ، احساس ، علم ، پوهه ، عقیده ، وده او پرمختګ ، لاسته راوړنه ، اختراع او داسې نور د لرغونې نړۍ په څېر شیندلي او پاشلي نه دي ، بلکې هر انسان – هغه که د نړۍ په هر ګوټ کې وي – بې له خنډ او ځنډه د بل انسان له یادو شیانو خبرېدلای شي. نن ورځ یوه علمي لاسته راوړنه د یوه کور په زاړه تاک کې د پېړیو پېړیو د ګردونو او چینجیو خواړه نه ګرځي ، بلکې په هماغه شېبه د ټولې نړۍ د انسانانو تر فکر ، نظر او نقد پورې رسېږي.

انټرنېټ په علمي تحقیق او څېړنې ، د نوو نظریاتو په اړه په خبرېدو ، د خپلو افکارو په څرګندولو ، د نړۍ له هر ډول سیاسي ، اقتصادي او ټولنیزو پرمختګونو او اکتشفاتو په اړه په پوهېدو ، او داسې نورو ګڼو چارو کې ستر رول لوبولی او یو نړیوال انقلاب یې رامنځته کړی دی. د انټرټ پرمخ میلیونونو کتابونه ، څېړنیز کتابګوټي او لیکنې ، مجلې ، اونیزې ، ورځپاڼې او داسې نور په لوی شمېر په وړیا ډول د لاسرسي وړ دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


انټرنټ يوازې د اثارو د يوه ارشيف په څېر نه دی چې هلته يوازې د تاريخ ګرد وهلي اثار موندل کېږي ، بلکې هره ورځ — هره ورځ خو ډېره اوږده موده ده — هره ثانيه ګڼ شمېر کتابونه ، ليکنې ، مقالې ، کتابګوټي ، انځورونه ، ويډيوګانې ، او داسې نور د انسانانو د ودې او پرمختګ لپاره اېښودل کېږي. د دې ترڅنګ انټرنټ نورې ګڼې اسانتياوې رامنځته کړې چې دا ځای د هغو د څېړلو او څرګندولو نه دی.

که په لنډو ټکو کې د پورتنيو درې واړو (انګرېزي ژبې ، کمپيوټر او انټرنټ) څرګندول وغواړو نو ويلای شو چې اوسنی نړۍ يو ګډ کور دی. انګرېزي ژبه دې کور ته د ور ننوتو کيلي ؛ کمپيوټر د دې کور دروازه ؛ او انټرنټ د دې کور له غړو سره د اړيکې او پيوستون وسيله ده.

## ٤- نړۍ‌ليد:

په لنډ ډول ، نړۍ ليد د درې پوښتنو ځواب دی: يو ، انسان له کومه راغلی ؟ دوه ، د انسان د پيدايښت موخه څه شی ده ؟ درې ، د انسان پايله يا انجام به څه وي ؟ د نړۍ ليد نور پاتې پراخه بحث د همدې درې پوښتنو پر فروعاتو ولاړ دی. په دې اړه انسان پراخه هڅې کړې چې درې واړو پوښتنو ته ځوابونه ووايي. او تر ډېره حده په دې برخه کې بريالی شوی هم دی. خو د دې درې واړو پوښتنو تر ټولو کره او دقيق ځواب ((يوازې او يوازې)) هغه ذات ويلای شي چې انسان يې خلق کړی. د انسان خالق د دې پوښتنو ځواب په ډېر څرګند ډول ويلای چې په هغه کې نور هېڅ کمې او زياتې ته اړتيا نشته. دا چې هغه نړۍ ليد څه شی دی ، دلته پرې خبرې نه کوو ، بلکې په يو بل اړخ يې خبرې کوو.

تر ډېر اوږد مهاله د انسان د فکر يوازينی محور او تمرکز يوازې په همدې درې پوښتنو وو. د دې حتمي پايله دا وه چې له انسان څخه يې په دنيوي ژوند کې د پرمختګ او بدلون حوصله اخيستې وه او د انسان يوازينۍ هيله په اخرت کې بريالیتوب وو. خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن ورځ نړۍ لېد بدل شوی. اوس مهال هغه پوښتنې چې د انسان په ذات او شخصيت پورې تړلې وي ، هغه د انسان شخصي چاره ګڼل کېږي او يوې خواته شوې ؛ او پر ځای يې د انساني ژوند د نېکمرغۍ او فلاح فکر او د انسانيت د مذهب (Religion of Humanity) لېد لوری رامنځته شوی. انسان له کومه راغلی او د پيدايښت موخه يې څه ده ، د دې پوښتنې ځواب له درې ادرسونو — ديني ، فلسفي ، ساينسي — څخه د هر انسان په وړاندې ايښودل کېږي ، اوس نو دا د هر انسان خپله خوښه ده چې په دې درې واړو کې کوم لېدلوری ټاکي. دغه راز ، دا هم د يوه انسان د خپل فکر او زړه کار دی چې د خپل انجام د ښه والي لپاره کوم لوری غوره کوي ، يا د بد والي لپاره يې له کومو شيانو ځان ساتي. د دې تر ټولو ستر لامل دا دی چې د دې پوښتنو ځوابونه هر انسان ته په فردي ډول بې له شکه يوه ګټه رسوي ، خو د ټول انسانيت په ښېګڼه او نېکمرغۍ کې دومره ستر رول نه لوبوي. په دې معنا که په ټوليزه توګه ټول انسانان يوازې د همدې پوښتنو په ځواب کې خپل ژوند تېر کړي ، نو دا په اصل کې دنيوي ژوند ته د پای ټکی ايښودل دي. پر دې د خالق شکر په ځای کول پکار دي او دا يې يوه ستره پېرزوينه ده چې انسان ته يې په شخصي معاملاتو او اجتماعي معاملاتو کې د تفريق ، تميز او بېلتون شعور ورکړی.

نن ورځ د همدې اصل له مخې هر کله چې بشري نړۍ له يوې نوې موضوع سره مخ شي ، نو لومړی هغه مسئله په پوره غور او دقت څېړي چې آيا دا مسئله د شخصي نوعيت ده او که اجتماعي ؟ که موضوع د شخصي نوعيت وي ، نو په هغه کې ټولو انسانانو ته دا اختيار ورکول کېږي چې پخپله خوښه يو لېدلوری غوره کړي. او که د اجتماعي نوعيت وي نو د هغې د حل لپاره په ګډه لاس په کار شي.

له بده مرغه ، په عمومي ډول په اسلامي نړۍ او په خاصه توګه زموږ په ټولنه کې دا لېدلوری تر اوسه پورې نه دی را خپل شوی ؛ زموږ په ټولنه کې چې هر کله يو نوی علمي اکتشاف يا نوې ساينسي لاسته راوړنه را برسېره شي ، نو لومړی د هغې د جواز او

(c) ketabton.com: The Digital Library


عدم جواز لپاره د يوه ملا يا مذهبي مشر په وړاندې اېښودل کېږي ، بيا نو دا د نوموړي کس په خپل طبيعت او خوښې پورې اړه لري – ځکه دين او مذهب په داسې چارو کې هېڅ لاسوهنه نه کوي – چې هغه شی حلال ګڼي او يا يې د حراموالي فتوا ورکوي. د اسلامي هېوادونو د نه پرمختګ او وروسته پاتې والي يوازينی لامل همدا دی چې له دين او مذهب څخه يې د اخلاقو د سمون او د انسان د باطني شخصيت د اصلاح په ځای د حلال او حرام په اړه د فتوا ورکولو وسيله ګرځولې او هغه ليدلوری چې په نورو اقوامو کې د انقلاب او پرمختګ لامل شوی له هغه څخه يې مخ اړولی.

د خپل پخواني او بې بنسټه ليدلوري له پرېښودو او د روان او په نړۍ باندې د حاکم ليدلوري له ژر – ځکه يو وخت به پخپله راباندې حاکم شي نو ښه ده چې موږ په پخپله ور وړاندې شو او غېږه ورکړو – را خپلولو پرته له اوسنۍ نړۍ سره سيالي او رقابت کول په خلاصو سترګو د خوب ليدل دي.

ليدلوری په پورته ياد نړيوال کور کې د رنګ مثال لري. اوس که زموږ ملا يا مذهبي مشر ووايي چې کور په دې رنګ ، رنګول حرام ده ، نو په هغه کور کې به مو خوشالي او ارامتيا په برخه شي او که نه ، د دې ځواب بايد لوستونکی پخپله ورکړي!

د اوسني عصر غوښتنه دا ده چې هر څه په علمي او عقلي توګه وځېرل او وڅېړل شي ؛ پکار ده چې علمي نړۍ ته د عقل او فکر په سترګه وکتل شي او له سترګو څخه د دين او مذهب پردې لرې کړای شي. دين او مذهب يوازې هغه مهال د نيوکې حق لري چې کله يو علمي اکتشاف او يا عقلي فرضيه د انسانيت له ګټو او نېکمرغۍ سره ټکر ولري ؛ له هغه ورهاخوا ، هره لاسته راوړنه ، هغه که د ژوند په هر ډګر کې وي او بيا د ټول انسانيت په ګټه هم وي ؛ پکار ده چې هغه د الله تعالی له نښو څخه يوه نښه وګڼل شي. پر انټرنټ باندې د بحث پر مهال مې انټرنټ د الله تعالی د قدرت عظيمه نښه وګڼله ، او دا خبره مې د قرآن کريم د هماغه آيت په اساس کړې چېرته چې الله تعالی فرمايي ((إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاخْتِلاَفِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَالْفُلْكِ الَّتِي تَجْرِي فِي

(c) ketabton.com: The Digital Library



الْبَحْرِ بِمَا يَنفَعُ النَّاسَ...)) په دې آيت کې الله د نورو شيانو تر څنګ د انسان په لاس جوړه شوې کښتۍ هم له خپلو نښو څخه ګڼي. په دې کې شک نشته چې د ساينس او د انساني عقل هره لاسته راوړنه د الله تعالی قدرت انسان ته روښانه کوي او د هغه ستر ذات په پېژندلو کې لويه مرسته کوي.

د علم او ساينس هر پرمختګ د الله تعالی د پېژندلو په لور يو بل ګام دی ؛ خو که چېرته له دې کاروان څخه شاته پاتې شو ، نو په حقيقت کې به مو له خپل خالق څخه شاته تګ کړی وي.

## ۵- د علم لوری:

د بشري عقل هره هغه فرضيه چې د ((تجربې)) له مخې په ثبوت ورسېږي ، ((مشاهده)) شي ، د خپل اثبات لپاره ټاکلي قوانين وړاندې کړي او په هر ډول حالاتو کې ورته پايله له ځانه ښکاره کړي ، نو هغه مهال هغه فرضيه په ((علم)) بدلېږي. د دې برعکس ، هغه فرضيې چې دا معيارات پوره نه کړي ، هغه تر يوې اوږدې مودې پورې د تحقيق او تنقيح په حال کې وي. په حقيقت کې د نن ورځې ټول هغه علوم چې په انګرېزي کې ورته (Sciences) ويل کېږي ، تر اوږدې مودې د فلسفې تر عنوان لاندې لوستل کېدل. له همدې امله فلسفې ته د علومو مور وايي. ټول علوم د فلسفې له بطن څخه را ټوکېدلي او ننني بڼه يې غوره کړې. د يونان په اکاډميو او مدرسو کې ګڼ علوم لکه ادبيات ، ځمکپوهنه ، ستور پوهنه ، جغرافيه ، دين ، کلتور ، تمدن او داسې نور تدريسېدل ، خو د نن ورځې په څېر ډلبندي او تصنيف يې نه وو شوی ، بلکې د فلسفې د عمومي عنوان لاندې به دا ټول علوم ښوول او زده کېدل. له دې اکاډميو څخه فارغ زده کوونکي به د يوې ځانګړې برخې ماهرين او متخصصين نه وو ، بلکې په هره برخه کې به يې له خپل استاذ څخه څه نا څه زده کړه کړې وه. له همدې امله کله چې له نن څخه ۲۵۰۰ کاله پخوا د يوه يوناني عالم ليکنه يا کوم اثر راکورو ، نو په هماغه يوه اثر کې پورته ياد ټول علوم تر سترګو کېږي. د افلاطون د ((جمهوريت)) په نوم کتاب ، د

(c) ketabton.com: The Digital Library


((افلاطون مکالمات))، همدا ډول د ارسطو ګڼې لیکنې ، په دې ټولو کتابونو کې د علم هره څانګه تر څه نا څه بریده څېړل شوې ده.

د وخت په تېرېدو په فلسفې کې د Epistemology په نوم یوه څانګه رامنځته شوه. دا لفظ له دوو یوناني کلمو څخه ترکیب شوی چې ((Episteme)) د حقیقت یا تیوري او ((Logos)) د علم او پوهې په معنا ده. د یونان وروستنیو فلسفیانو د موضوعاتو ډلبندي پیل کړه او هغه فرضیې چې پورته یاد معیارات به یې پوره کړل ، هغه به یې د Epistemology تر نوم لاندې څېړلې. د دوی دې کار دوه لاملونه لرل: یو ، دا چې دوی د فلسفي موضوعاتو او علمي حقایقو ترمنځ د بېلتون غوښتونکي وو. او دوهم دا چې ، د علومو له پرمختګ سره د یوه عادي زده کوونکي لپاره دا کار ستونزمن وو چې په دې ټولو علومو کې تبحر او وړتیا پیدا کړي.

له هماغه نېټې د علومو ډلبندي ، په فرعي څانګو وېشنه ، هره برخه د یوه بېل علم په توګه څېړل او ځیرل او د هرې برخې د ماهرینو روزل پیل شوو چې بیا تر نن ورځې پورې دوام لري. خو له دې لاسته راوړنې سربېره په هر دور کې د انسانانو د یوه لوی اکثریت رحجان به د علم یوې ځانګړې څانګې ته وو ؛ یعنې داسې نه وه چې د علم په هره برخه کې په مساوي شمېر خلک بوخت وو ، بلکې په هره برخه کې له یو کم شمېر کسانو پرته ، د نړۍ لوی شمېر انسانان به په یوه ځانګړي علمي ډګر کې مشغول وو.

همدا حالت د نن ورځې په علمي نړۍ کې هم روان دی. اوسنۍ نړۍ هم د علم یو ځانګړی لوری خپل کړی او یو لوی شمېر په همدې مسیر روان دي. په لنډ ډول ویلای شو چې نن ورځ هغه علوم تر تحقیق او مطالعې لاندې دي چې د هغو نېغ په نېغه ګټه انساني ژوند ته رسېږي او د بشري ژوندانه په ارامتیا او هوساینه کې رول لوبوي. اوس انسان د مابعدالطبیعاتي غوټو ، د فلسفې د پېچلو مباحثو ، د دیني او مذهبي اختلافاتو او د شعر او شاعرۍ د ابهاماتو او اجمالاتو په ځای هغه علمي ډګرونه را خپل کړي چې د انسان په عملي ژوند کې د تطبیق او پلي کېدو وړ وي ، او د انسان د ژوند په بډایه

(c) ketabton.com: The Digital Library


کولو او ښه والي کې پکار راځي. څلور هغه ډګرونه چې په دې برخه کې یې یادونه کولای شو په لاندې ډول دي:

۱- ټکنالوژي: د علمي قوانینو او تیوریو د تطبیق او عملي کولو په پایله کې رامنځته کېږي او اصلي موخه یې د انساني ژوند هوساینه او شتمن کول دي.

۲- طب: د انسان تر ټولو ستره شتمني روغتیا ده. د انسان د روغتیا او له ډول ډول ناروغیو څخه یې د ژغورنې ، او له ژوند څخه د پوره خوند اخیستو لپاره د طب پرمختګ او وده تر بل هر علم ډېره مهمه ده.

۳- ارواپوهنه: هلته چې نننی انسان د خپل ژوند ارامه کولو لپاره شپه او ورځ زیار وباسي ، همالته اوسنۍ نړۍ د انسان لپاره ګڼې ذهني او نفسیاتي ستونزې او ګډوډۍ را ولاړې کړې چې د ټولې نړۍ انسان ورسره لاس او ګرېوان دی. د انسان د دې ستونزو د هوارتیا لپاره د کوډګرو د تعویذونو ، یا د نورو خرافاتو په ځای انسان هڅه کوي چې هر ډول ستونزې ته علمي حل لاره پیدا کړي او هره ګډوډۍ د علم په زور له منځه یوسي.

۴- څلورم ډګر یو عمومي او پراخ ډګر دی. په دې کې له پورته یادو درې څانګو پرته نورې څانګې چې یوه ټولنه ورته اړتیا لري ، لکه اقتصاد ، حقوق ، شرعیات ، سیاسیات ، ادبیات ، او داسې نور راځي. بې له شکه چې دا هر یو پخپل ځای کې ارزښتناک او ګټور علوم دي ، په دې یادو څانګو کې په اوسنۍ نړۍ کې د اقتصاد او سیاسي علومو له ارزښت او اهمیت څخه انکار نه شي کېدای ؛ خو په ټوله کې بیا دا هغه څانګې نه دي چې د یوې ټولنې یا د نړۍ لوی اکثریت دې پکې بوخت وي. د دې برعکس ، پورته درې ډګرونه هغه دي چې په هغو کې هر وخت لوی بشري ځواک ته اړتیا وي. د ټکنالوژۍ پرمختګ او د انسانانو د جسمي ناروغیو او اروایي ګډوډیو درملنه د یو څو کسانو له وس نه بهر خبره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دلته څو ټکو ته یادونه اړینه بولم: یو دا چې ، د ټکنالوژۍ کلمه په خپل ځان کې هر هغه علم او/یا فن رانغاړي چې د ټکنالوژۍ د اختراع او رامنځته کولو په برخه کې مرستندوی وي ، لکه: فزیکس ، کېمستري ، کمپیوټر ساینس ، الیکټریکل انجینرنګ ، او داسې نور. همدا رنګه ، ارواپوهنه له ځینو نورو اجتماعي علومو لکه ټولنپوهنه (Sociology) ، بشر پوهنه (Anthropology) ، ښکلا پوهنه (Aesthetics) پرته ډېره اغېزمنه نه شي تمامېدای. د دې ترځنګ د لیکوالۍ او ویناوالۍ ځینې مهارتونه هم د یوه ارواپوه لپاره اړین دي. بله دا چې زموږ ټولنه یوه مذهبي ټولنه ده ، نو یو ارواپوه ته بویه چې د خپلې ټولنې د دین او مذهب په اړه هم تر خپل وسه معلومات ولري.

د دې څلور واړو ډګرونو ترځنګ ، هره ټولنه د علماوو ، پوهانو ، روڼ اندو مبصرینو ، کارپوهانو ، او د ژورنالیزم په اصطلاح د تکړه شنونکو یوه داسې پوړ ته هم اړتیا لري چې د سیمې او نړۍ په روانو اقتصادي ، سیاسي ، ټولنیزو او علمي حالاتو او څرنګوالي د علم او عقل په اساس رڼا واچوي او د سیمې او نړۍ یو رښتینی انځور د خپل ولس په وړاندې کېږدي. د سیمې حالات او د نړۍ روان وضعیت په داسې ډول تحلیل او تجزیه کړي چې یوه عام وګړي ته هر څه د لمر په څېر روښانه شي. دا ډول علما او شنونکي په هر ډګر کې هغه که دیني ، سیاسي ، ټولنیز ، اقتصادي ، علمي ، ساینسي ، فلسفي ، ادبي ، یا بل کوم اړخ وي ، پکار دي او یوه ټولنه له دوی پرته د بدلون او نوښت لار نه شي خپلولای. په حقیقت کې همدا د یوه قوم د مسیر او تګلوري ټاکونکی پوړ دی.

## ٦- ډله ییز کار:

د انسانانو هره اختراع او لاسته راوړنه یوازې په یوه انسان پورې اړوند نه وي ، بلکې د دې تر شا د یوې لویې ډلې انسانانو مرسته او لاس وي. هر کله چې د یوې اختراع په اړه لولئ یا اورئ چې دا اختراع د فلاني شخص ده. نو هېڅکله دا مه هېروئ چې دا اختراع یوازې په هماغه شخص پورې محدود نه ده ، بلکې په دې کې نورو ډېرو انسانانو

(c) ketabton.com: The Digital Library


هم خولې توی کړي. کله چې لولئ چې نیل آرم سټرانګ د لومړي ځل لپاره په سپوږمۍ پښه کېښوده ، نو دا له یاده مه وباسئ چې د نیل آرم سټرانګ سپوږمۍ ته د رسولو لپاره به څومره پوهانو ، انجینیرانو ، ساینسپوهانو او نورو ګڼو علماوو نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې وي. او سټرانګ یې د دې جوګه ګرځولی چې د انسانیت په تاریخ کې دا ستر ویاړ ور خپل کړي.

یو کس په یوازې ځان هېڅکله ډېرې سترې لاسته راوړنې او اختراعګانې نه شي لاسته راوړلی. د دې لامل دا دی چې هېڅ انسان نه شي کولای د هرې برخې ماهر او متخصص شي. او یا د یوې اختراع لپاره د اړتیا وړ ټول توکي پخپله اماده کړي. د مثال په ډول کمپیوټر در واخلئ. کمپیوټر د یوه خاص کس اختراع نه ده ، بلکې د کمپیوټر د هرې برخې لپاره بېلا بېل ماهرین پکار وي. د کمپیوټر مخترع یوازې د کمپیوټر اساس رامنځته کوي. له هغه وروسته د کمپیوټر په جوړښت کې استعمالېدونکي وسایل (پرزې) ، د کمپیوټر سافټوېر ، او داسې نور ، دا ټول هغه څه دي چې د یو ډله کسانو له خوا چمتو او وړاندې کېږي. په همدې ډول بله هره اختراع در واخلئ.

ستر کارونه ستر خلک د سترې ډلې په مرسته او همکارۍ کوي. په ډله ییز ډول کار کول د اوسني عصر یوه غوښتنه او اړتیا ده. کله چې پنځه انسانان را یو ځای شي ، نو له دوی سره د پنځو انسانانو مطالعه ، عقلي او فکري ځواک ، د نوښت او اختراع قوه ، د زیار او زحمت لپاره انرژي ، له ماتې وروسته د بیا را پورته کېدو جذبه ، له ناهیلۍ او مایوسۍ څخه ژغورونکي احساسات او د ودې او پرمختګ لپاره انګېزه او هیجان ټول را یو ځای شي ، او بیا له دوی څخه یو داسې ځواک جوړ شي چې په علمي نړۍ کې د ستورو مقام ته ورسېږي او نوره نړۍ بیا له دوی څخه رڼا او ځلا اخلي. هغه کار چې ممکن یو کس یې په کلونو کلونو کې ونه شي کولای ، یوه ډله یې د میاشتو او ورځو په ترڅ کې د اکمال تر حده رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د یوې ټولنې وګړي که په یوازې ځان هر څومره هڅه وکړي ، هغه ټولنه به هغومره پرمختګ ونه کړي چې څومره پرمختګ د ډله ییز کار په پایله کې رامنځته کېږي. پکار ده چې زموږ د ټولنې هر تن د خپل مسلک او پروفېشن ملګري ولټوي ، یو ځای شي ، او په ګډه د دې ټولنې د سوکالۍ او هوساینې لپاره کار وکړي. د طب په برخه کې ډاکټران او کیمیا پوهان ، د ادب په برخه کې لیکوال او شاعر ، د ارواپوهنه په برخه کې ارواپوهان ، او په همدې ترتیب د هرې برخې متخصصین یو ځای شي او ((یوازې او یوازې)) پخپل مسلک کې کار وکړي. نن ورځ هره اختراع ، هره لاسته راوړنه ، هر نوی علمي تحقیق او څېړنه ، هر فکر او نظر ، هر خیال او فلسفه ، د نورې نړۍ له خوا موږ ته راځي. د ډله ییز کار (Teamwork) له لارې موږ هم نړۍ ته یو څه ور ډالۍ کولای شو. باید دا په یاد ولرو چې د یو تن غږ په بڼ کې د یوه ګل په څېر ده چې هېڅکله پسرلی نه شي راوستلای ، خو د یوې ډلې او ګروپ غږ د ستورو په څېر دی چې هېڅوک هم ترې مخ نه شي اړولای.

Teamwork یا ډله ییز کار د نني عصر تقاضا ده ، د دې تقاضا له پوره کولو پرته هېڅکله د انسانیت له ستر او نېکمرغه ، علمي او ساینسي کاروان سره نه شو یو ځای کېدلای.

## ۷- د بدلون او نوښت منل:

د بشري نړۍ اصلي ښکلا او ارزښت په بدلون او نوښت کې ده. له نن څخه څو پېړۍ شاته لاړ شئ او د هغه وخت د اړیکو ټینګولو د وسایلو او د تګ او راتګ د وسایطو په اړه فکر وکړئ او د نن ورځ له هوسا او چټکو وسایلو او وسایطو سره یې پرتله کړئ ، نو پخپله به در په ډاګه شي چې په دې برخو کې انسان څومره له هوساینې او ارامتیا څخه برخمن شوی. دا د انساني شخصیت نوښت ته میلان او د بدلون لپاره د ده دننۍ قوه ده. انسان تل د نوښت او بدلون غوښتونکی وي ، خو په دې لار کې دی له ځینو خنډونو سره مخ کېږي او د ده پښې ټکنۍ کوي. په دې وخت کې د هغو خنډونو ، د

(c) ketabton.com: The Digital Library


علم او عقل په مټ اوبه کول او خپلې لارې ته دوام ورکول ، د انسان رښتيني ځواک دی. هغو ټولنو هيڅکله پرمختګ نه دی کړی او نه يې کولای شي چې وګړي يې د بدلون او تغير پر وړاندې منفي چلن خپلوي ، او نه پرېږدي چې د بدلون ژوند بدلوونکې ورمه يې له نيکونو څخه د ورپاتې خزان وهلي ميراثي بن ګلان وغوړوي او تاند و تازه يې کړي. بدلون نه منونکې ټولنې په ګرد وهلو او ورستو ارزښتونو ، افکارو ، خرافاتو او تصوراتو کې خپل ژوند تېروي. دوی ته بدلون د خپلې ټولنې لپاره يو ستر ګواښ او خطر برېښي. د خپلې ناپوهۍ او جهالت له امله له نوښت څخه په وېره کې وي. او بدلون ته په کرکجنه سترګه ګوري.

د نړۍ په کچه د بدلون پر وړاندې تر ټولو زيات مزاحمتونه په اسلامي نړۍ او په تېره بيا زموږ په ټولنه کې رامنځته کېږي. د اسلامي نړۍ وګړي هر بدلون او نوښت ته د يوې کافرانه يا مشرکانه لومې او جال په سترګه ګوري. او پخپله ټولنه کې يې د دود عقايدو ، ديني تعليماتو ، او تصوراتو په خلاف يو کفري ګام ګڼي. د همدې ليدلوري په اساس ، نه يوازې د نوو فلسفي ، ادبي ، ساينسي ، اقتصادي ، سياسي او ټولنيزو افکارو او نظرياتو سره غبرګون ښودل شوی ، بلکې ډېری هغه ټکنالوژيک وسايل چې نن ورځ په هره اسلامي ټولنه کې کارول کېږي ، په لومړيو کې د هغو په وړاندې هم ډېر کلک غبرګون را پورته شوی ، او د کافرانو يو سازش ګڼل شوی. خو وروسته پوه شوو چې د ټکنالوژۍ يوه وسيله هرومرو کافرانو جوړه کړې او زموږ د بې دينۍ لپاره يې جوړه کړې —چې هغوی هيڅکله په دې موخه يو کار نه کوي —خو بيا هم د دې وسيلې يا ماشين کارونه زموږ په لاسونو کې ده. که موږ غوښتل ، ښه ګټه هم ترې پورته کولای شو او که وغواړو په ناوړو لارو کې يې هم کارولای شو ، دا اختيار له موږ سره دی ؛ نو هغه مهال يې د هغو وسايلو کارول او ګټه ترې اخيستل روا وګڼل. دا کار يوازې پخوا نه دی ترسره شوی ، بلکې د ساينس د هرې لاسته راوړنې په مقابل کې همدا ورته غبرګون ښودل شوی. دا يو ډېر منفي او غيرعاقلانه چلن دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د دې چلند د له منځه وړلو لپاره هره ټولنه داسې روڼ اندو مفکرینو او شنونکو ته اړتیا لري چې د استدلال په مټ د هر بدلون او نوښت مثبت او منفي اړخونه د خپل ولس په وړاندې کېږدي. په دې یې پوه کړي چې له بدلون پرته انساني ټولنه په یو ځای جامده پاتې کېږي ، او د انساني ټولنې د تباهۍ او ورانۍ له دې نه بل لوی لامل نشته. نوښت رامنځته کول او بدلون ته غاړه ایښودل د دې عصر یوه تقاضا او غوښتنه ده. په دې عصر کې د ودې او پرمختګ یوازینۍ لاره همدا ده. یو نوښت یا بدلون او یا یوه لاسته راوړنه او یا کوم نوی نظر او فکر د چا او کوم قوم له خوا رامنځته شوی ، په دې باندې د وخت د تېرولو پر ځای پکار ده چې په دې فکر وکړو چې هغه لاسته راوړنه او نظر زموږ لپاره ګټور دی او که نه ؟ او دا کار د ټولنې د هغو خلکو له خوا باید وشي چې له دودیز چوکاټ څخه دباندې وتلای شي ؛ او په بشپړه توګه د علم او استدلال په رڼا کې د هغه بدلون له څېړلو او تنقیح وروسته یې خپلې ټولنې ته وړاندې کړي.

په دې باید پوه شو چې نړۍ دومره وخت نه لري چې زموږ د بې لارې کولو لپاره شپه او ورځ خولې توی کړي ، خپل علمي او فکري ځواک یوازې زموږ د بې دینه کولو لپاره مصرف کړي ؛ بلکې هغوی د انسانیت د سوکالۍ او هوساینې لپاره دا کار کوي. دا به لویه بدمرغي وي چې د دې په ځای چې له هغوی سره لاس یو کړو ، او موږ هم په دې سفر کې ور ګډ شو ، ارامه کېنو او د هغوی د موخو او نیتونو په اړه پرېکړې ونیسو. د انسان دنده د انسانیت د نېکمرغۍ لپاره زیار ویستل ده ، او په نیتونو عالم ذات ، خدای دی. موږ د انسان اصلي دنده هېره کړې ، او د خدای په کارونو کې مو لاسوهنه پیل کړې.

## ۹- له کرښې اوښتل:

په اوسني عصر کې د پرمختګ او ودې تر ټولو اړین عنصر له کرښې اوښتل او له ټاکلي و دودیز چوکاټ څخه دباندې فکر کول دي. دا عصر زاړه حدود او پخواني سرحدونه نه مني ، بلکې په دې عصر کې هغه څوک د نړۍ په سطح را پورته کېدلای شي چې له

(c) ketabton.com: The Digital Library


حدودو څخه د تېرېدلو ځواک او د کرښو د څیرولو وړتیا ولري. دا عصر محدودیتونه نه مني ، بلکې یو انسان هغه مهال سترې لاسته راوړنې لرلای شي چې خپل ټول محدودیتونه له منځه یوسي ؛ د انساني وړتیا او استعداد په اړه د منفي تصوراتو او افکارو هنداره ټوټې ټوټې کړي ؛ او دومره سترو شیانو ته لاس واچوي ، او د خپلو وړتیاوو دایره دومره پراخه کړي ، دومره هسکو څوکو ته ځان ورسوي چې یوازې د علامه اقبال دا شعر یې سمه احاطه کولای شي چې:

خودی کو کر بلند اتنا که هر تــــــقدیر سے پہلے
خدا بندے سے خود پوچھے بتا تیری رضا کیا ھے

علامه اقبال رح

دا کار یوازې هغه مهال شونی دی چې لومړی هغه منفي لیدلوری او فکر له منځه یو وړل شي چې زاړه او پخواني هر څه سم او ښه دي ، له نیکونو را پاتې میراث د غورځولو نه دی او داسې نور ګڼ منفي خرافات او لیدلوري... او هر فکر ، عقیده او نظر د علم او عقل په زور نقد شي ، کره او ناکره یې بېل شي ، د سمو او ناسمو ترمنځ یې کرښه وکاږل شي ، د وړ او ناوړه توپیر یې روښانه شي ، منفي او مثبت اړخونه یې په ډاګه شي ؛ او بیا له هغو څخه کره ، سم ، وړ او مثبت نظریات او ارزښتونه د زړه په مینه را خپل کړای شي ، او ناکره ، ناسم ، ناوړه او منفي افکار او نظریات د تل لپاره له منځه یووړل شي ، او ځای یې په نوو ، ژوند ښونکو ، مثبتو او ګټورو ارزښتونو ، نظریاتو او افکارو ډک کړای شي. دا کار هغه مهال شونی دی چې انسان له خپلو بندیزونو څخه ځان خلاص کړي ، د ناپوهۍ او جهالت زولنې ماتې کړي ؛ او دا کار هغه څوک کولای شی چې د مولانای روم د دې شعر عملي ثبوت وړاندې کړي:

بی تـردد می رود در راه راست

(c) ketabton.com: The Digital Library


د دې لارې انسان بیا هغو مقامونه ته رسېږي چې مولانای روم یې د همدې بیت په دوهمه مسره کې په دې ډول بیانوي:

ره نمی دانی بجو گامش کجاست

دا وګړی د ټولنې د نورو وګړو لپاره یوه بېلګه وګرځي. د نړۍ د سترو انسانانو د ژوند لیکونو له لوستنې دا له ورایه برېښي چې په دوی ټولو کې یوه مشترکه ځانګړنه وه. او هغه له کرښې بهر فکر کول ، د چوکاټ ماتول او محدودیتونو ته غاړه نه ایښودل وو. دا عصر په دودیزو افکارو سمبالو شخصیتونو ته ځای نه ورکوي ، بلکې دا عصر د داسې انسان غوښتونکی دی چې دود ماتوونکی وي ، که څه هم په دې لاره کې یوازې او تنها وي.

## ۱۰- کورنی ملاتړ:

د دې عصر وروستۍ تقاضا او غوښتنه د کورنۍ له غړو سره د کورني ملاتړ شتون دی. د یوه انسان د بریا تر شا تر ټولو لوی لاس د هغه د مور او پلار هڅونه ، تشویق او ملاتړ لري. کله چې سهار زموږ یو ماشوم د ښوونځي د ازموینې لپاره له کور څخه وځي ، نو د نړۍ بل هېڅ ځواک او قوه د هغه د پلار له دې جملې سره سیالي نه شي کولای چې: پخیر لاړ شې زویه ، ته یې کولای شې!

زموږ د ټولنې د وروسته پاتې والي یو لامل دا دی چې زموږ ماشومان او ځوانان د والدینو د دوو ناسمو چلندونو له کبله بې تفاوته اموخته او روږدي کېږي. یو چلن دا دی چې د ماشوم په یوه ناوړه او ناسم کار هغه ته هېڅ ډول تنبیه او لارښوونه نه کېږي ؛ بل چلن دا دی چې په یوه ښه کار کې د ماشوم ملاتړ او هڅونه نه کېږي. زموږ په ټولنه کې ډېرې کورنۍ داسې شته چې له دې هم ناخبره وي چې زموږ زوی یا لور په کوم ټولګي کې ده ، تېر کال یې پایله څنګه وه او په ماشوم کې مې کوم مثبت او منفي

(c) ketabton.com: The Digital Library



توپيرونه راغلي دي. د خپلو ماشومانو پر وړاندې زموږ چلن بې تفاوته دی ، په مقابل کې زموږ ماشومان او ځوانان هم بې تفاوته روزل کېږي او لويېږي.

په دې برخه کې دريېم منفي چلن دا دی چې زموږ والدين د اوسني عصر له نوعيت څخه ناخبره دي او په دې اساس د دې پر ځای چې له اوسني عصر سره سم چلن وکړي ، د هغه برخلاف زوړ او پخوانی چلن کوي. اوسنی عصر د معلوماتو دور (age of information) دی ، خو د کورنۍ مشران د دې په ځای چې خپلو ماشومانو ته د هغوی د پوښتنې په ځواب او يا د ستونزې د حل لارې په ښوولو کې معلومات ورکړي ، برعکس د نصيحت او لارښوونې تر عنوان لاندې ، خپل اثر و رسوخ ورباندې اچوي. پکار ده چې زموږ والدين دا چلن بدل کړي ، او کله چې له هغوی کومه پوښتنه کېږي ، يا مشوره ترې غوښتل کېږي ، نو په هغه برخه کې که معلومات ولري ، نو ښه تر ښه ، که نه په ډېر ارامه ډول خپل ماشوم ته ووايي چې په دې برخه کې زه معلومات نه لرم ، ته کولای شې له بل چا سره مشوره وکړې. نن ورځ زموږ ماشوم ، زموږ د نصيحت زړو کتابونو او ورستو مشورو ته اړتيا نه لري ، بلکې له موږ څخه د معلوماتو او اطلاعاتو غوښتونکی دي.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library


# زموږ ښوونيز نظام

## ۱- ښوونځی:

د يونان ستر فلسفي او ساينسپوه ، ارسطو هغه څوک انسان نه بولي چې له ټولنې څخه لرې او بېل ژوند تېروي. د نوموړي منطقپوه په اند اصلي انسان هغه دی چې په ټولنه کې ژوند کوي. د دې يو لامل ښايي دا وي چې انسان د انسانيت ټول ارزښتونه ، عقايد او افکار له ټولنې ترلاسه کوي. هلته چې ټولنه نه وي ، انسانان نه وي ، ټولنيز ژوند نه وي ، نو دا ارزښتونه او عقايد به هم نه وي. د هر انسان د انسانيت سفر د هغه له کورنۍ څخه پيلېږي. له کورنۍ وروسته د انسان د ودې او تربيې ځای ښوونځی دی.

ښوونځي له نن څخه ډېر پخوا رامنځته شوي او تر نن ورځې پورې د ښوونځيو اصلي موخه او هدف پخپل ځای پاتې دی ، خو د ښوونځيو په ټوليز نظام او چوکاټ کې د وخت په تېرېدو ستر ستر بدلونونه رامنځته شوي. د يوه ښوونځي اصلي موخه د انسان وده او رشد ټاکل شوې. انسان په هغه دور کې ښوونځي ته ور ننوځي چې د ودې او رشد په حال کې وي. په دې وخت کې د انسان د شخصيت بېلا بېل اړخونه لکه فکري ، ذهني ، ټولنيز ، عقيدوي او داسې نور د ودې او رشد پړاوونه وهي. ښوونځی د انساني شخصيت په دې ټولو اړخونو کې د توازن ، انډول او اعتدال د رامنځته کولو لپاره يوه هڅه ده. او په ډېری ټولنو کې ښوونځي په دې موخو او هڅو کې بريالي را وځي.

د يونان لوی فلسفي ، افلاطون ، پخپل کتاب ((جمهوريت)) کې د ښوونيز نظام په اړه د خبرو په مهال ليکي چې ښوونيز نظام په درې بنيادونو ولاړ دی: ښوونکی ، زده کوونکی او نصاب. وروسته په نصاب باندې د بحث پر مهال وايي چې يوه ماشوم ته په ابتدايي دوره کې درې مضمونونه بايد وښودل شي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- رياضي: د هغه د فکري او ذهني ارتقا او ودې لپاره.

۲- جمناسټيک: د هغه د بدني او روغتيايي ځواک د ښه والي لپاره.

۳- موسيقي: د هغه په شخصيت کې د اعتدال د رامنځته کولو لپاره.

افلاطون ، په ابتدايي دوره – چې د ده په اند ۸ – ۱۰ کاله وه – کې ماشوم ته د يوه ځانګړي علم او يا فن له ور ښوولو سره کلک مخالف وو. دی په دې اند وو چې بايد د بلوغ تر مهاله پورې ماشوم دا واک او اختيار ولري چې هر علم يا فن د ځان لپاره غوره کوي ، نو غوره يې کړي. تر دې ځايه پورې د افلاطون نظريات له علمي او اکاډميک اړخونو معقول او صحيح برېښي. خو کله چې د شعر او ادب په هکله خبرې کوي ، نو له شعر او ادب سره د افلاطون مخالفت ښوونيز نظام ته هم را غځېږي ، او نوموړی وايي چې ماشوم ته بايد شعر او ادب ور زده نه شي ، ځکه دا دواړه په انسان کې تنبلي ، غفلت او په عملي ژوند کې ناراستي رامنځته کوي.

په حقيقت کې دا د افلاطون يوه فکري تېروتنه وه. او د دې يو ښکاره لامل دا برېښي چې افلاطون د موسيقي او شاعري ترمنځ نه شلېدونکې او خپلمنځي اړيکې هېرې کړې او بيا يې دا فکر وړاندې کړی دی. شعر او ادب ، د تورو او کلماتو او نظم و نثر په بڼه د موسيقۍ پنځونه ده. که موسيقي د انسان په غږ کې را پيدا شي ، سندره او زمزمه ترې پيدا کېږي ؛ که چېرته په ځينو الاتو او وسايلو او يا د هغوی په اجزاوو کې يوه همغږي او آهنګ رامنځته شي ، نو موسيقي ترې زېږي ؛ او کله ناکله همدا موسيقي له هغو تورو او کلماتو څخه چې د يو بل په څنګ کې په هنرمندانه توګه ځای په ځای او د احساس و عاطفې په تار واوبدل شي رامنځته کېږي چې دې ته بيا شعر و شاعري وايو.

خو شاعرۍ ته د ارزښت نه ورکولو پرته ، له نن څخه ۲۵۰۰ کاله مخکې هغه څه ته اشاره کول چې نن ورځ انسان له ډېرو هڅو وروسته ترلاسه کړي ، د نوموړي فلسفي او اديبوه نبوغ او علمي وسعت څرګندوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


افغانستان د تاریخ په اوږدو کې له عصري علومو لرې پاتې شوې او یوه دوديزه ټولنه وه. بې له شکه ، له عصري علومو لریوالی د دې ټولنې یوه ستره بدمرغي وه ، خو دوديز اړخ یې یوه وړه ګټه هرومرو رسولې او هغه دا چې تر خپل وسه یې خلک د هماغه دور په دوديزو زده کړو روزلي او سمبال کړي وو.

په افغانستان کې عصري ښوونځي ډېره پخوانۍ ریښه نه لري ، بلکې د نولسمې او شلمې پېړۍ د مهال زېږنده دي. له همدې وخت څخه په افغانستان کې د دوديزو زده کړو تر څنګ عصري زده کړې پیل شوې. خو په لومړیو وختونو کې په همدې ښوونځیو کې هم د دوديزو او مذهبي زده کړو پله د عصري علومو په پرتله درنه وه. د نصاب ډېری برخه زړې فلسفي ، د منطق ځینو پخوانیو کتابونو ، فقهي و عقاید او صرف و نحوې نیولې وه ؛ او د هغه وخت د علومو شتون پکې ډېر پیکه او کم رنګه وو. د ریاضي یو نیم کتاب ، د ساینس په اړه د عمومي پوهاوي یو کوچنی کتاب او داسې ځینې نور کتابونه به وو. خو د وخت په تېرېدو ، په دې کې تر ډېره بریده ښه والی راغی ، او له نصاب څخه مذهبي او دیني رنګ تر ډېره بریده لرې شو او ځای یې ډېری عصري علومو ته ورکړل شو. په اوسني نصاب کې په دیني برخه کې یو یا دوه کتابونه – چې تفسیر او دیني زده کړې یا په بل نوم یادېږي– وجود لري ؛ او نوره ټوله برخه یې عصري علومو ته پرې ایښې.

**۲- مدرسه:**

له ښوونځیو سره موازي ، د دیني او مذهبي زده کړو لپاره بېل درس ځایونه او ادارې رامنځته شوې چې نن ورځ یې د مدرسو په نوم پېژنو.

د دیني علومو د درس او تدریس اوسنۍ تګلاره هم – چې د مدرسو په بڼه لیدل کېږي – د اوسنیو عصري ښوونځیو په څېر ډېر اوږد تاریخ نه لري ، بلکې دا دواړه د اوسني

(c) ketabton.com: The Digital Library


او نوي تمدن زېږنده دي. خو دا خبره ښېله ده چې د عصري ښوونځيو تاريخ د مدرسو له پيدايښت څخه وړاندې پيل کېږي.

پورته په يوه بحث کې وويل شوو چې دين د هر انسان شخصي او ذاتي مسئله ده. او په دې اړه هڅه او د ديني علومو د ترلاسي لپاره زيار او زحمت ويستل هم پخپله په يوه انسان پورې اړه لري. په حقيقت کې شوي هم همداسې دي. د مدرسو تر منځته راتګ پورې ديني زده کړې په انفرادي او شخصي ډول زده او تدريس شوې دي.

د اسلام دين د حضرت محمد (ص) له خوا صحابوو ته ورسېد. په صحابوو کې ځينو دين په ډېره غوره ډول زده کړ ؛ خپل ټول ژوند يې د اسلام زده کړې ته وقف کړی وو. د هغه پايله دا شوه چې په صحابوو کې ډېر لوی علما ، مفسرين او د فقهې پوهان را پورته شوو. په هغه وخت کې د ديني علم مأخذ يا په ساده اصطلاح د نصاب يوازينی کتاب ((قرآن کريم)) وو. کوم صحابي به چې د قرآن په يوه برخه نه پوهېده ، نو له نورو صحابوو څخه به يې په دې اړه پوښتنه کوله يا به پخپله نبي کريم ص ته راتلل.

د صحابوو له دور را وروسته ، تابعينو کټ مټ په همدې ډول – لکه څرنګه چې صحابوو له پيغمبر (ع) يا نورو صحابوو څخه زده کړی وو ، دوی هم له سترو صحابوو قرآن کريم زده کړ. په دې وخت کې د قرآن کريم ترڅنګ د احاديثو او يا د پيغمبر (ع) د ژوندليک – چې د نورو له خولو بيان شوی وو – راټولول هم پيل شوو. اوس د قرآن کريم ترڅنګ د احاديثو درس او تدريس هم پيل شو. د امام مالک (رح) په اړه راځي چې نوموړي به په مسجد نبوي کې د خپل د حديثو د کتاب ((مؤطا)) تدريس کاوه. او د درس په دې حلقه کې به د امام شافعي (رح) په څېر لوی علماء هم کېناستل. دې لړۍ تر اوږد مهاله پورې دوام وکړ.

کله چې دين له عربي قلمرو څخه واوښت او د عجمو نړۍ ته ورسېد او د اسلام د پيروانو دايره پراخه شوه. نو اوس د دين د زده کړې لپاره لومړی د هغې ژبې زده کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې د دې دین کتاب پکې نازل شوی وو ، یوه لویه اړتیا شوه. د دې ترڅنګ له عجمو سره د زیات تعامل او ځینو نورو لاملونو په اساس پخپله په عربو کې هم د عربي ژبې هغه ذوق او سلیقه نه وه پاتې چې یو وخت د دوی د ویاړ او فخر وسیله وه. د دې اړتیا د پوره کولو په هڅه کې د صرف ، نحوې ، بلاغت ، معاني ، او داسې نور ژبني علوم رامنځته شوو. په دې وخت کې چې کوم کس د دین زده کړه غوښتله ، نو اړینه وه چې لومړی په عربي ژبه کې پوره تبحر ومومي. د دې لپاره به د عربي ژبې د سترو پوهانو او امامانو په لټه کې ووتل ، او د صرف و نحوې له امام څخه به یې صرف او نحوه زده کړل ؛ د بلاغت او معاني لپاره به یې د یوه بل امام په خدمت کې کلونه تېر کړل. د دې ترڅنګ په اسلامي نړۍ کې د عباسیانو د خلافت پر مهال د علومو هغه ستر کاروان له ځان سره د اسلام لپاره ځینې نوې ننګونې هم را وټوکولې. د نورو ادیانو د کتابونو ، د یوناني فلسفې و سقراطي منطق ، او د هند د تصوفي او عرفاني ادیانو د کتابونو ژباړو ، بې له شکه ، د علم نوي بابونه پرانیستل. خو ورسره یې ځینې پوښتنې او نیوکې هم را پورته کړې. د دې تفصیل ډېر اوږد دی خو اجمال یې دا دی چې د دې کار په پایله کې د منطق او فلسفې په څېر د علومو او فنونو زده کړه هم د یوه دیني عالم لپاره اړینه وګرځېده.

له دې وروسته به د دین د اصلي مأخذ چې قرآن او سنت وو ، تر څنګ د پورته یادو علومو او فنونو زده کړه هم حتمي او ضروري وه. په دې کې بله په زړه پورې خبره دا وه چې د دې امامانو او علماوو ځای به په یو ښار کې څه چې په یو هېواد کې هم نه وو. له همدې امله په دین مېین انسان اړ وو چې د هر فن او علم لپاره میلونه میلونه لاره ووهي او ډېرې سفرونه به په پلي تګ کېدل. د امام بخاري ، امام شافعي او داسې نورو امامانو ژوندلیک له همداسې سفرونو څخه ډک دی.

د دین زده کړه په همدې ډول روانه وه. تر دې پورې چې اوسني تمدن د مدرسې په بڼه یوه لویه پېرزوینه پرې وکړه. او اوس اړتیا نه وي چې د یوه ځانګړي فن یا علم لپاره یو

(c) ketabton.com: The Digital Library


تن میلونه سفر وکړي ، بلکې د هر فن او علم ، عالم يې د ديني مدرسو په نظام کې را يو ځای کړي او هر څوک په ډېرې اسانۍ کولای شي چې ټول علوم په يو ځای کې پای ته ورسوي ، او د نورو عصري نظامونو په څېر د فراغت سند هم ترلاسه کړي.

## ۳- نیمګړتیاوې او اړین بدلونونه:

تر دې ځايه پورې د ښوونځي او مدرسې په ښوونيزو نظامونو ، د هغو د منځته راتګ پر ځينو لاملونو او نوعيت خبرې وشوې. په دې ځای کې به په دواړو نظامونو کې پر شته نيمګړتياوو او ستونزو ، او ورسره په هغو کې پر اړينو بدلونونو او حل لارو بحث وکړو. د بحث د لنډون په موخه هره نيمګړتيا او ستونزه د هغې له حل لارې او بديل سره يو ځای څېړل شوي.

د مدرسو او ښوونځيو يوه تر ټولو لويه ستونزه دا ده چې زموږ د ټولنې ښوونيز نظام يې په دوه نه يو کېدونکو ټوټو وېشلی او په پايله کې يې ټولنه په دوو فکري او شعوري برخو تقسيم کړې. په مدرسو کې عصري علوم نه ترسترګو کېږي ؛ او په ښوونځيو کې بيا د ديني علومو يوازې يو يا دوه کتابونه ښوول کېږي چې يو خو د يوه انسان ديني اړتيا ته ځواب نه شي ويلای ، او بل دا چې هغه کتابونه د يوه ځانګړي مذهب يا فرقې د فکر په اساس ليکل شوي وي چې پخپله ډلبندۍ او فرقه واريت ته لاره پرانيزي. زموږ د نصاب د ديني برخې کتابونه د حنفي مسلک له مخې ليکل شوي ؛ چې په لومړۍ ورځې لا انسان ته د تقليد لارښوونه کوي او په دين کې د تحقيق او څېړنې دروازې پرې تړي. بل خوا ، له مدرسې فارغ ځوان د ځانګړي نصاب د لوستلو او په خاص چاپېريال کې د روزل کېدو له کبله له روان عصر او نوې نړۍ سره نابلده وي. په دې اساس ، کله چې د دې دواړو ځايونو فارغين په ټولنه کې له يو بل سره مخ شي ، نو د دوی دواړو ترمنځ يو لوی فکري واټن وجود لري او د دواړو ترمنځ د افهام او تفهيم هېڅ بنسټ او ځمکه (context) نه ترسترګو کېږي. د دوی فکري سطحه د دواړو ترمنځ د ټولنيزو

(c) ketabton.com: The Digital Library


اړیکو لپاره لوی خنډ رامنځته کوي. نو تر ټولو لومړی پکار دا ده چې دا دوه اړخیز نظام په یوه او له یو بل سره همغږي نظام بدل شي.

یو داسې نظام چې تر دوولسو ښوونیزو کلونو پورې له یوه ماشوم څخه دا واک وانه خلي چې د خپلې خوښې او استعداد سره سم مسلک د ځان لپاره غوره کړي. د مدرسو یوه لویه ستونزه همدا ده چې مدرسه پخپله د یوه ماشوم په هکله دا پرېکړه کوي چې پلانکی به هرومرو دیني عالم کېږي ، دا هېڅ توپیر نه کوي که خدای هغه د یوه انجینر یا ډاکټر کېدو لپاره خلق کړی وي.

د دوو نظامونو پر ځای د یوه ګډ نظام د رامنځته کولو لپاره تر ټولو مهم عنصر نصاب دی ، ځکه همدا نصاب دی چې د ښوونځیو او مدرسو تر منځ اساسي توپیر او د بېلتون کرښه رامنځته کوي. د دې نظام په اړه د لیکوال عمومي فکر او نظر په لاندې ټکو کې وړاندې شوی:

۱- نصاب باید په داسې ډول چمتو شي چې له دوولس – یا هر څومره چې د دې کارپوهانو ته ښه برېښي –کلو وروسته یو ماشوم که وغواړي چې د ځان لپاره د عصري علومو ډګر غوره کړي ، نو هم پراخه واک و فرصت ورسره وي ؛ او که غواړي چې د دین یو تکړه عالم شي ، نو هم دروازې ورته خلاصې وي. د دې لپاره اړینه ده چې دوولس کلن نصاب په ورته توازن او انډول برابر شي.

۲- د هېواد ملي ژبې (پښتو او دري) ، زموږ د دین ژبه (عربي) او یوه نړیواله ژبه چې په اوس کې وخت په علمي ډګر کې ترټولو مخکښه ژبه (انګرېزي) ده ، نو پکار ده چې دا څلور واړه ژبې د دې نصاب یوه لازمي برخه وګرځول شي. په دې څلورو ژبو کې پښتو او دري ژبې زموږ ملي ژبې دي چې د دې زده کړه د دې ټولنې د هر وګړي لپاره لازمي ده ؛ په دې ژبو کې زموږ د کلتور او فرهنګ ژورې ریښې پټې دي ، د دې ژبو له زده کړې پرته موږ له خپل اصلي ثقافت څخه لرې پاتې کېږو. عربي ژبه زموږ د دین او مذهب

(c) ketabton.com: The Digital Library


ژبه ده. د دې ژبې زده کړه د یوه مسلمان لپاره له بلې هرې ژبې زیاته مهمه ده. ځکه له دې ژبې پرته مسلمان انسان نه شي کولای چې پخپل مذهبي کتاب ((قرآن کریم)) پوه شي. او په پای کې د اوسني عصر ژبه ده. د انګرېزي ژبې په ارزښت وړاندې هم زیاتې خبرې وشوې. د اوسني نظام برعکس چې مدرسو کې دا ژبه هېڅ شتون نه لري او په ښوونځیو کې له څلورم ټولګي څخه پیل کېږي ؛ پکار ده چې د ملي ژبو د زده کړې په څنګ کې دا نورې دوه ژبې (عربي او انګرېزي) هم ځای په ځای کړای شي.

۳- د دیني علومو په برخه کې قرآن کریم او احادیث پخپله اصلي بڼه باید د نصاب یوه برخه وګرځي. نه دا چې د فقهې له پخوانیو کتابونو څخه احکام را ټول کړای شي او بیا د دین په توګه زده کوونکو ته وښوول شي ، پکار ده چې زده کوونکي په مستقیم ډول په قرآن او حدیث د پوهېدلو وړتیا ولري ؛ د دې په ځای چې زده کوونکی د پېړیو پخوانۍ د فقهې په پېچلو غوټو کې خپله د تحقیق او څېړنې ټوله انرژي له لاسه ورکړي ، ښه به وي چې هغوی د قرآن کریم له رڼې چینې څخه خپله علمي او دیني تنده ماته کړي. په دې کې هم شک نشته ، چې تر نن ورځې پورې په قرآن او حدیث چې کوم کار شوی ، هغه ډېره ارزښتناکه او ګرانبیه شتمنې ده ؛ پکار ده چې هغه علمي کار هم زده کوونکو ته ور وپېژندل شي ، خو یو زده کوونکی باید په داسې ډول وروزل شي چې د قرآن او سنت خبره د وروستۍ کرښې په توګه ومني ، نه دا چې د امام ابو حنیفه (رح) ، یا امام احمد (رح) ، یا امام مالک (رح) ، یا امام شافعي (رح) د کتاب یو تعبیر او تفسیر تر ټولو صحیح ورته ښکاره شي.

۴- قرآن کریم د اسلام وروستی کتاب دی. له دې وړاندې هم اسماني کتابونه نازل شوي چې په اوس وخت کې یې درې کتابونه د ژباړو په ډول په نړۍ کې وجود لري. د هغو په اړه خپله وروستۍ پرېکړه قرآن کریم اورولې. د قرآن کریم په راتلو هغه ټول پخواني کتابونه منسوخ شوو ؛ خو په دې کې هېڅ شک نشته چې تر اوسه هم هغه کتابونه اسماني کتابونه او د الله له خوا نازل شوي صحایف دي. کومه رڼا ، حکمت ،

(c) ketabton.com: The Digital Library


لارښوونه او هدایت چې په قرآن کریم کې شتون لري ، په هغو کتابونو کې هم شته. د انجیل ، زبور ، تورات نسخې له ټولو تحریفاتو او لاسوهنو سربېره ، د الله تعالی له علم او حکمت ډکې سرچینې دي. نو د قرآن او حدیث ترڅنګ په نصاب کې د دې کتابونو ځایول او تدریسول هم یو ډېر ګټور او باارزښته کار دی. له دې لارې زده کوونکی د اسلام له ټول تاریخ – له ادم (ع) څخه تر محمد (ص) پورې – څخه خبرېدلای شي او په دې پوهېدلای شي چې قرآن کریم یوازې د دې کتابونو په ځینو برخو کې د تحریف او لاسوهنې د ترسره کېدو خبر را کړی ، دا خبره یې هېڅکله نه ده کړې چې له نن څخه وروسته الله له دې کتابونو څخه خپل حکمت او هدایت بېرته واخیستل او نور دا هغه الهي کتابونه نه دي. د دې یوه بله ګټه دا هم ده چې په دې ډول د زده کوونکي په فکر او نظر کې وسعت پیدا کېږي او د نورو ادیانو په اړه یې منفي تصور او لیدلوری ختمېږي.

۵- بل مهم عنصر عصري علوم – لکه فزیکس ، ریاضي ، کیمیا ، بیالوژي ، ... – باید د نصاب یوه برخه وګرځول شي. همدا علوم د اوسنۍ نړۍ د پرمختګ لامل شوي دي. د همدې علومو په مټ یوه ټولنه کولای شي چې د ټولنو ترمنځ د سیالۍ ډګر ته ور ښکته شي. د دې ترڅنګ هره ټولنه یو لړ علوم لري چې ټولنیز علوم یې بولو ، په نصاب کې تر یو ټاکلي بریده د دې علومو شتون هم اړین او ضروري دی. د خپلې ټولنې د تېر مهال ، د ټولنې د ځمکنیو سرچینو ، په اوسني نظام... او داسې نورو ډېرې موضوعاتو باندې د پوهېدلو لپاره د تاریخ ، جغرافیې ، مدني زده کړې او داسې نورو ټولنیزو علومو له ارزښت څخه انکار نه شي کېدای. په یوه غوره او بنسټ جوړوونکي نصاب کې د دې ټولو شتون لازمي دی.

۶- د نصاب یوه برخه باید ځینو هنرونو ته ځانګړې شي. پکار ده چې زده کوونکو ته د کتاب په بڼه نه ، بلکې په عملي بڼه ځینې هنرونه ور وښودل شي. شاعري ، لیکوالي ، رسامي ، نقاشي او موسیقي هغه هنرونه دي چې د انسان د باطن څرګندونه پرې کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


او بېرته د يوه انسان د باطن او اروا د ارامتيا لپاره او په انساني شخصيت کې د توازن په رامنځته کولو کې اغېزمن رول لوبوي. د هنرونو يو بل ښه والی دا وي چې د نورو ګټو ترڅنګ د انسان لپاره يوه تفريح هم وي. په ښوونځي کې زده کوونکو ته په غوره او مسلکي ډول د موسيقۍ ور زده کول ، د رسامي او نقاشي ور زده کول يو ډېر ستر کار دی.

ليکوال په دې پوهېږي چې د دې وروستي ټکي پر وړاندې به د خلکو غبرګون څه وي ، خو ليکوال هېڅکله هم نه شي کولای چې د خلکو د غبرګون له امله پر يو علمي او ساينسي حقيقت سترګې پټې کړي. دا يو منل شوی حقيقت دی چې هنرونه د انسان په ذهني او رواني وده کې لوی رول و کردار ترسره کوي ، او په تېره بيا د موسيقۍ هنر. موسيقي ته د تصوف سترو څېرو او مخکښانو لکه مولانای روم او داسې نورو ځانګړی ارزښت ورکړی. د هنرونو له ارزښت څخه هېڅکله انکار نه شي کېدای. دا چې يوه ټولنه د ځينو لاملونو په اساس يو هنر بد او ناروا ګڼي ، هغه بېله خبره ده. ((په دې اړه چې موسيقي حرامه ده وګورئ: د کتاب درېيمه برخه ، *مذهبي فکر*))

۷- په دې ځای کې بېرته د افلاطون خبرې ته ور ګرځم چې ښوونيز نظام په درې بنسټونو ولاړ وي: ښوونکی ، نصاب او زده کوونکی. د نصاب په اړه پورته خبرې وشوې. زده کوونکی د يوه ښوونيز نظام د فابريکې خام توکی وي. په ښوونيز نظام کې تر ټولو ستر رول د ((ښوونکي)) دی. ښوونکی د ښوونيز نظام لپاره د ځرخ مثال لري. او بې له ښوونکي څخه دا نظام پرمخ نه شي تلای. د ښوونکو د ګمارنې په برخه کې پکار ده چې له ډېر غور او فکر څخه کار واخيستل شي. تر ټولو ښه به دا وي چې د ښوونکو د ګمارنې او څارنې لپاره يوه بېله اداره رامنځته شي. لومړی هر ښوونکی د هماغې ادارې له ازموينې او ارزونې وروسته وګمارل شي ، او بيا يې وخت په وخت کړنې او کارونه وڅارل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


یوازې د ښوونکو د استعداد او وړتیا په اړه هم پاملرنه نه ده پکار ، بلکې د دې ترڅنګ د بېل فکر ، عقیدې ، دین ، ژبې ، کلتور او فرهنګ ښوونکي باید وګمارل شي. که یو زده کوونکی د خپلې ټولنې تاریخ د یوه هندو-مذهبي استاذ له خولې واوري ، یا انګرېزي ژبه د یوه پښتون یا دري ژبې پر ځای له یوه کافر انګرېز څخه زده کړي ، او یا د بیالوژي تدریس د یوه عیسوي ښوونکي له خوا وشي ، نو آیا دا به د هغه زده کوونکي په فکر او نظر کې وسعت او پراخوالي ته لاره هواره نه کړي ؟ او آیا دا ډول زده کوونکی به هغه شخص نه وي چې له هر ډول انسان سره به په ډېر پراخ تندي افهام او تفهیم کوي ؟ آیا همدا به هغه زده کوونکی نه وي چې یوازې د مذهبي ، فرهنګي ، عقیدوي ، قومي او ژبني توپیر له امله به هېڅکله پخپل ځان د علم او تحقیق دروازې نه تړي ؟ او تل به د علم او پوهې په لور ور درومي ؟

نصاب د یوه ملت د لوړتیا او ځوړتیا پرېکړه کوي. په دې هکله یوه مقاله ، یو کتاب ، یا د یوه مفکر فکر بسنه نه کوي. په دې ځای کې د نصاب په اړه غټو غټو ټکو ته اشاره وشوه. نصاب په څه ډول ولیکل شي ؛ پورتني مواد په څه ډول په نصاب کې ځای پر ځای شي ؛ د ښوونځي لپاره څومره موده وټاکل شي ؛ او ... داسې بلها نورې پوښتنې شته چې د یوې ټولنې د مفکرینو او د دې برخې د پوهانو ناستو ، خبرو اترو او قلم ته اړتیا لري.

## ٤- پوهنتون:

له ښوونځي وروسته د لوړو زده کړو او په یوه برخه کې د تخصص تر کچې رسوونکی بنسټ د پوهنتون یا University په نوم یادېږي. پوهنتون کلمه خو د فارسي ژبې د ((دانشگاه)) لفظي ژباړه ده ، خو University کلمه د لاتیني ژبې له Universitas څخه اخیستل شوې چې د ښوونکو او پوهانو د ډلې او یا د وګړو ، ټولنو ، کمپنیو ، کارخونو یوې ټولګې ته ویل کېږي. د University پراخه معنا ټولګه او یا مجموعه ده. د پوهنتون اوسني جوړښت ته په کتو د University کلمه د دې بنسټ لپاره یو ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library


غوره انتخاب دی. په اوسنیو پوهنتونونو کې د ګڼو ځانګو ښوونکي ، نصابونه ، سیستمونه او داسې نور په یو ځای کې راټول شوي وي ، او د یوې مجموعې په توګه خدمات وړاندې کوي.

پوهنتونونو ته د لار پیدا کولو لپاره په نړۍ کې ګڼ سیستمونه شتون لري. زموږ په هېواد کې پوهنتون ته رسېدو لپاره د کانکور سیستم کارول کېږي. د کانکور په آزموینه کې بریالي زده کوونکي دولتي پوهنتونونو کې زده کړې کوي ؛ او په دې آزموینه کې پاتې زده کوونکي خصوصي پوهنتونونو ته مخه کوي. دلته به د کانکور ازموینې پر ځرنګوالي یو څو خبرې وکړو.

د کانکور آزموینه د اوسني عصر د علمي غوښتنو سره بیخي په ټکر کې ده. د کانکور آزموینه د ښوونځي د وروستیو درې کلونو له نصاب څخه چمتو کېږي او یو زده کوونکی اړ ده چې دا ټول کتابونه ټکي په ټکي په یادو زده کړي او بیا د خپلې خوښې پوهنځي (Faculty) ته لار پیدا کړي. که یو زده کوونکی د شرعیاتو پوهنځی غواړي ، نو اړ ده چې د طب پوهنځي د غوښتونکي په څېر ساینسي مضامین ورته زده کړي ؛ او که یو زده کوونکی طب غواړي ، نو هغه هم اړ ده چې د شرعیاتو یا د حقوقو د غوښتونکي په څېر دیني مضامین او کتابونه هم په ښه توګه زده کړي. د ارواپوهنې د څېړنو په اساس ، په نړۍ کې داسې انسانان ډېر کم دي چې په ورته وخت کې په څو مضامینو کې بریالي راووځي. هر انسان د یوه ځانګړي کار او برخې لپاره پنځول شوی وي. او که انسان ته یوازې هماغه کار ور وسپارل شي ، نو هله دا انسان بریالی کېږي. د کانکور د همدې ستړې نیمګړتیا له امله ډېری د شرعیاتو او ادبیاتو پوهنځي له هغو ډاکټرانو او انجینرانو څخه ډک دي چې ذهنونه یې د ژبنیو ، اجتماعي او دیني مضامینو لپاره چمتو نه وو.

په دې ځای کې څه پکار دي ؟ پکار ده چې د کانکور آزموینه په څو برخو ووېشل شي او د هر پوهنځي د مینوالو لپاره بېله بېله آزموینه برابره کړای شي. تر څو هر زده کوونکی

(c) ketabton.com: The Digital Library


په ډېرې آسانۍ وکولای شي چې د خپلې خوښې پوهنځي ته بریالی شي او د خپل ځان او هېواد لپاره د خدمت جوګه شي.

پوهنتون ته له بریالي کېدو وروسته ، زده کوونکی – چې اوس یې زده کړیال بولي – له یوې بلې ستونزې سره مخ کېږي ، هغه د پوهنتون داخلي فضا یا چاپېریال وي. زموږ د ډېریو پوهنتونونو چاپېریال علمي او څېړنیز نه وي ، بلکې د یوه ابتدائیه ښوونځي د ټولګیو په څېر وي. له زده کوونکو سره د استاذ چلند غیرعلمي او غیرمنطقي وي ؛ دغه راز ، زده کوونکي له استاذ سره هغه ډول چلند نه کوي چې یو زده کوونکی یې باید وکړي ؛ له زده کوونکو سره د استاذ تعصبي چلند او په وړو خبرو له خپلو زده کوونکو سره ضد او کینه کول ، د دې په مقابل کې د زده کوونکو له خوا له خپل استاذ سره غیرعاقلانه او غیرانساني چلند د نن ورځې د ډېرې پوهنتونونو د پېژاند نښې ګرځېدلې. د علمي او ساینټیفیک ماحول پر ځای له پوهنتون څخه د تربیې او روزنې یو مرکز جوړ وي ؛ د ساینس یا کمپیوټر استاذ د ساینس او ټکنالوژۍ په هکله د بحث په ځای د دین او مذهب تبلیغ پیل کړی وي ، یا د شرعیاتو یو استاذ د ساینس او ټکنالوژۍ په اړه د منفي او ناسم لیدلوري خپرولو ته متې را نغښتې وي ؛ او داسې نورې ډېرې منفي کړنې او چلندونه په اوسنیو پوهنتونونو کې لیدل کېږي چې هېڅ علمي او عقلي بنیاد نه لري.

د دې پر ځای ، پکار ده چې پوهنتون په ټوله معنا یو علمي او څېړنیز مرکز وي ؛ زده کوونکو ته باید د بحث او استدلال وخت ورکول شي ؛ ښوونکو ته بویه چې د خپلو زده کوونکو د رټنې او شړنې په ځای هغوی ته په علمي او عقلي استدلال قناعت ورکړي ؛ یو زده کوونکی ته دې حق ورکول شي چې د خپل استاذ خبره وننګوي او چیلنج یې کړي ؛ په مقابل کې دې استاذ د احساساتي او غیرمعقول چلن په ځای له استدلال او منطق څخه کار واخلي ؛ زده کوونکو ته دې د خپلو وړتیاوو ، استعدادونو ، خلاقیتونو او نوښتونو د ښکارولو وخت او موقع ورکول شي. د پوهنتونونو نصاب دې د نړۍ له

(c) ketabton.com: The Digital Library


سترو پوهنتونونو سره سیال شي. د استاذ او زده کوونکي ترمنځ واټن دې راکم کړی شي او د استاذ او ښوونکي ترمنځ دې د هغو اړیکو پر رامنځته کولو کار وشي چې نن ورځ د ښوونیزې اروا‌پوهنې د څېړنو په اساس غوره او ګټورې ښودل شوې دي. ښوونیز نظام باید په داسې ډول جوړ شي چېرته چې د استاذ او شاګرد ترمنځ اړیکه د حاکم او محکوم په څېر نه ، بلکې د ملګري او لارښود په څېر وي.

دا خبره ډېره عامه ده چې ملتونه د علم په مټ پرمختګ کوي. پوهنتونونه د همدې علم مرکزونه دي ؛ د پوهنتونونو ځوړتیا د ملت ځوړتیا ده ، او د پوهنتونونو په نظام کې بهتري ، ښه والی او پرمختګ د یوه ملت سوکالي ، هوساینه او وده ده.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ژبه

ژبه د انسانانو ترمنځ د اړيکو او ارتباطاتو رامنځته کولو وسيله ده. د انسانانو ترمنځ هر ډول ټولنيزې ، سياسي ، فکري ، عقيدوي ، مذهبي ، توکميزې او قومي اړيکې د ژبې په تار تړلې دي. د دوو بېلو ژبو د وګړو په منځ کې تر هغو پورته يادې اړيکې په سم او اغېزمن ډول نه شي رامنځته کېدای ، تر څو چې د يو بل په ژبه پوه نه شي. په حقيقت کې د پورته يادو ټولو اړيکو اساس له ذهن څخه را ټوکېږي ، او ژبه انساني ذهن ته محسوس حالتورکوي. د دې لپاره چې د دوو وګړو ترمنځ د پورتنيو اړيکو سرچينه (ذهن) له يو بل سره په تماس کې شي ، اړتيا ده چې له دواړو خواوو څخه دا سرچينه په داسې ډول د يو بل په وړاندې کېښودل شي چې د دواړو لپاره د فهم وړ وي ، د دې کار يوازينۍ لار ((ژبه)) ده.

په دې ځای کې د ژبو په ځينو اړخونو لنډې خبرې کوو. پيل يې د ژبو په پيدايښت کوو:

## ۱- د ژبې پيدايښت:

د الهامي اديانو له مخې د ځمکې پر سر لومړنی انسان آدم (ع) وو. د الهامي اديانو کتابونه دا ټوله پېښه په دې ډول بيانوي چې د دې نړۍ خالق آدم (ع) په جنت کې خلق کړ. ورپسې حوا (ع) پيدا شوه. د دوی دواړو د يوې تېروتنې له امله دوی دواړه له شيطان سره يو ځای له جنت څخه وشړل شوو. او د ځمکې په سر انساني ژوند پيل شو. په ځينو کتابونو کې د ځمکې د پيدايښت کلونو ته هم اشاره شوې. د عيسويانو يو پاپ ((آرچبشپ اُشر)) تر دې اندازې وړاندې تللای چې د لومړني انسان د پيدايښت نېټه يې له ميلاد څخه ۴۰۰۴ کاله وړاندې ، د اکتوبر په نهمه ، د سهار په ۹ بجې په ګوته کړې. او دا يوازې د يوه پاپ تبليغ نه ، بلکې د کمبريج يونيورسټي د نايب

(c) ketabton.com: The Digital Library


چانسلر ، ډاکټر لايټفوټ له خوا هم ياده نېټه تائيد شوې. (د برټرنډ رسل اثر ((دين او ساينس)) ، ۵۲ مخ)

په دې کتابونو کې د آدم (ع) له را شړل کېدو دمخه يوې پېښې ته هم اشاره کېږي. پېښه دا وي چې الله تعالی ټولې پرښتې او پېريان راټول کړي ، او ځينې شيزونه يې مخې ته کېږدي. لومړی له پرښتو څخه وغوښتل شي چې د دې شيزونو نومونه واخلي ، خو پرښتې عاجزې پاتې شي. بيا آدم (ع) ته د ورته کار امر وشي ، آدم (ع) د الله تعالی د ورکړي علم په اساس د هغو شيزونو نومونه واخلي. له دې پېښې څخه د مذهبي پوهانو استدلال دا دی چې آدم (ع) په ټولو ژبو پوهېده او هماغه وو چې د نړۍ ټولو شيانو ته يې نومونه ورکړي. خو د ليکوال په فکر دا يوازې قياسونه دي او هيڅ علمي بنياد نه لري. آدم (ع) د نورو پيغمبرانو په څېر يو پيغمبر وو. خو دا چې لومړنی انسان وو او انساني نسل د ده (او حوا ع) له وجود څخه رامنځته کېدونکی وو ؛ او ښکاره ده چې د پيغمبرانو يو ستر رسالت خپل قوم ته د الله تعالی پيغام رسول وي ، او د پيغام رسولو لپاره ژبې ته اړتيا وي ، نو آدم (ع) هم د همدې اړتيا له مخې د نورو پيغمبرانو په څېر يوازې په يوه ژبه پوهېده او په هماغه ژبه يې خپل ذريت ته د اسلام تبليغ کاوه. هغه ژبه کومه وه ؟ هغه ژبه تر کوم وخته پاتې شوه ؟ ښه به وي چې د دې پوښتنو د ځوابونو لپاره د علم او ساينس پرمختګ ته په تمه شو چې د دې پوښتنو تر ځوابه رسېدلای شي او که نه ؟

په دې کې هيڅ شک نشته چې لومړنۍ ژبه انسان ته د الله تعالی له خوا ورکول شوې. له هغه وروسته د نړۍ ټولې اوسنۍ ژبې (د عربي په شمول) د انسان د عقل او فکري ځواک زېږنده دي. په انسان کې د ژبو رامنځته کولو شعور او د ژبې له لارې د افهام او تفهيم کولو وړتيا د الله تعالی له خوا ايښودل شوې. خو د ژبني پروسس نور ټول مراحل د يوې ژبې کلمات ، محاورې ، تحولات ، تغييرات ، د ژبې په شفاهي او غير شفاهي بڼو اوښتل را اوښتل ، نحوي او صرفي قواعد وضع کول ، او داسې نور ګڼ اړخونه د انسان

(c) ketabton.com: The Digital Library


په اختیار کې ورکول شوي. یوې ژبې ته پراختیا او وده ورکول ، د هغې د بډاینې لپاره کار کول ، او داسې نورې چارې په ټوله کې د هغې ژبې په ویونکو پورې اړه لري او دا ټول انساني کارونه دي. د همدې اصل له مخې د نړۍ ډېری اقوامو خپلې ژبې د لوړتیا هسکو ته رسولې او وروسته پاتې ملتونو د خپل علمي او فکري شاته والې له کبله خپلې ژبې د ځوړتیا کندې ته غورځولې.

## ۲- زموږ د هېواد ملي ژبې:

د ملي ژبې اصطلاح پخپله تنګه دایره کې د هر قوم د ژبې لپاره کارول کېدلای شي. د بېلګې په ډول پښه یې ژبه د همدې قوم لپاره یوه ملي ژبه ده. خو په اوسني وخت کې د ملي یا په انګرېزي کې د national کلمې معنا پراخه شوې. د دې ترشا یو تاریخي لامل لوی لاس لري. کله چې نړۍ د ملتونو د خپلواکۍ اصل ومانه ، نو له هغه وروسته نړۍ په ملي ریاستونو (nation states) وووېشل شوه. له دې نېټې وروسته ، ملتونه د مذهب ، نسل ، رنګ ، ژبې او یا پر کوم بل اساس نه جوړېدل ، بلکې د یوه ملت د جوړېدو اساس و بنسټ پخپله هېواد شو. په دې اساس ، په افغانستان کې د ګڼو ژبو ، نسلونو او رنګونو د شتون سربېره هم د دې هېواد هر وګړی افغانی ګڼل کېږي ، په همدې ډول ایرانی ، پاکستانی او امریکایی... دا چې ټول قومونه او پرګنې تر یو نوم او یو بیرغ لاندې راټول شوي ، نو د دوی لپاره ژبه هم یوه وټاکل شوه او دا ژبه یې ملي ژبه ګڼل کېږي. یعنې دا به هغه ژبه وي چې په نړۍ کې به د دې ملي ریاست استازیتوب ورباندې کېږي. دا بېله خبره ده چې هر قوم خپلې ژبې هم د سیمه ییزو ژبو په توګه پاللی شي او د هغه هېواد د دولت یوه دنده دا هم وي چې د نصاب په کتابونو کې د هغوی ژبې ته هم برخه ورکړي ، خو دا کتابونه به یوازې د هغوی په سیمو کې لوستل کېږي ، نه په ټول هېواد کې ، ځکه چې د ټول هېواد ملي ژبه یوه وي.

دا خبره به لږ لا روښانه کړو. دا مهال چې هر کله له یوې پدیدې سره د ملي ، قومي یا national کلمه یادېږي ، نو دا په حقیقت کې ګڼې معناوې لېږدولای شي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو ، دا ژبه يا بله هره پديده د دې هېواد د يوې سترې پرګنې يا اکثريت پورې اړونده ده.

دوه ، که خبره د ژبې وي ، نو بيا هغه ژبه د يوه هېواد ملي ژبه ګرځي چې له نورو ژبو څخه ډېره بډايه ، لمن يې ډېره پراخه ، له علمي او څېړنيز اړخه ډېره شتمنه ، او په ټوله کې د يوه هېواد ډول ډول اړتياوې د نورو ژبو په پرتله په ښه ډول پوره کولای شي.

د دې ترڅنګ نور ګڼ لاملونه هم کېدلای شي چې يوه ژبه د ملي يا قومي ژبې کېدو وياړ خپلوي.

زموږ په هېواد کې د ډېرشو شاوخوا ژبې دود دي. په دې کې دوه ژبې (پښتو او دري) د ملي ژبو په توګه غوره شوې. په يادو ژبو کې پورتنۍ دواړه ځانګړنې وجود لري او له همدې کبله د ملي ژبو حيثيت يې غوره کړی. په دې معنا چې پښتو او دري دواړه د دې هېواد هغه ژبې دي چې د نورو ژبو په پرتله يې ويونکي زيات دي ؛ او بل دا چې د يوه هېواد اړتياوو ته په کتو دواړه ژبې خپل رول په ښه ډول لوبولای شي.

پښتو او دري دواړه اوږد تاريخ لري ، او د دواړو ژبو د ريښو په اړه د ژبپوهانو او مؤرخينو ترمنځ ګڼ اختلافات او نظريات وجود لري ، او تر اوسه پورې داسې نظر نه دی وړاندې شوی چې د علم او عقل په ميزان کې وزن او وقعت ولري. په آر کې دا په علمي او څېړنيز ډګر کې زموږ ناړامي او سستي په ګوته کوي. خو داسې هم نه ده چې دا ډګر له څېړنو بيخي تش پاتې دی ، بلکې ډېرو لويو مؤرخينو او ژبپوهانو په دې برخه کې بې ساري ګامونه پورته کړي او هر کار يې په خپل ځای کې بلها ښېګڼې لري.

پښتو او دري زموږ په ټولنه کې د دوو خويندو په څېر اوږه په اوږه روانې وي. زموږ د هېواد کابو هره پاڼه ، د نصاب کتابونه ، دولتي اسناد ، مکتوبونه ، لايحې ، قوانين ، نږدې هر څه په دواړو ژبو خپرېږي. په هغو ولايتونو کې چې د پښتو و دري په ځای يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library


بله ژبه دود وي ، هلته بیا د ملي ژبو تر څنګ د هغه ځای سیمه ییزه ژبه هم د نصاب برخه ګرځي.

د دواړو ملي ژبو ویونکي د خپلې خپلې ژبې د بډاینې او ودې لپاره پراخه زیار او زحمت وباسي. د دواړو لورو ترمنځ ښه سخته سیالي روانه وي ، آن کله نا کله دا سیالي په یوه ژبني او قومي تعصب هم بدله شي. هر لوری غواړي چې ژبه یې د دا بل لوري په پرتله په هېواد کې زیاته دود او پلې شي. که له دولتي ادرسه یو اعلان په یوه ژبه چاپېږي ، نو د بلې ژبې ویونکي د نیوکې غبر پورته کړي او کله نا کله خبره تر مظاهرو پورې ورسېږي. دا کار په آر کې له خپلې ژبې سره مینه او یا د یوې ژبې د بډاینې لپاره نه کېږي ، بلکې تر ډېر بریده د دې تر شا ژبنی ، قومي او فکري تعصب او یا د ځینو نورو کړیو او اسبابو لاس وي. د دې یو بل لامل دا وي چې کله د ژبې اصلي دنده چې افهام او تفهیم او د پیغام رسول ده ، له یاده وایستل شي او له ژبې څخه د تعصب یو توکی جوړ شي ، نو هله هم په ټولنه کې همداسې غبرګون راولاړېږي.

## ۳- د دري او پښتو ترمنځ روان کړکېچ:

له تېرو څو لسیزو راهیسې زموږ هېواد له همداسې یوه کړکېچ سره مخ دی. د کړکېچ کلمه به ډېره نرمه او ساده وي ، که د دې په ځای د ((جنګ)) کلمه وکارول شي ، نو زیاتی به نه وي شوی. د دې کړکېچ په رامنځته کولو کې د دواړه لوري پراخ لاس لري. څو د پښتو ژبې ویونکي (پښتانه) بیا ځان د دې کړکېچ تر ټولو زیات قربانیان ګڼي او دا له مقابل اړخه یو تعصب ګڼي چې د دوی ژبې ته پام نه کوي او ارزښت نه ورکوي. کابو هر پښتون له دې سر ټکوي چې له پښتو سره تعصب کېږي ؛ په ښوونځیو او پوهنتونونو کې په پښتو ژبه تدریس نه کېږي ؛ دولتي اسناد ، مکتوبونه ، عریضې ، لایحې او داسې نور په پښتو ژبه نه وړاندې کېږي ؛ دولتي مامورین په پښتو ژبه نه پوهېږي او پښتانه مجبور دي چې په دري ژبه یو مکتوب یا عریضه ولیکي ؛ په رسنیو کې د پښتو ژبې خپرونې نشته ؛ په ټولنه کې دري ژبې له پښتنو سره په پښتو ژبه خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه کوي او پلمه يې دا وي چې: «په پښتو نه پوهېږم» ؛ او داسې نور ډېر ګڼ شکايتونه اورېدل کېږي.

د وروسته پاتې ټولنو د وروسته والي يو تر ټولو لوی لامل دا وي چې هر وګړی يې د ځان لپاره کار کوي. د دې پرخلاف ، د پرمختللو ټولنو هر وګړی هر کار د خپلې ټولنې د پرمختګ او ودې لپاره کوي. په پرمختللو ټولنو کې دا فکر هډو وجود نه لري چې پلانی کار د ټولنې پلاني قشر يا پوړ کړی نو دا يوازې په هماغه قشر پورې اړوند ده ، بلکې د پرمختګ او ودې هره کړنه د ټول هېواد لپاره ګټوره او مفيده بولي. خو په وروسته پاتې ټولنو کې د ځانځانۍ فکر ژورې ريښې کړې وي. همدا فکري مغالطه زموږ په ټولنه کې د ژبو په اړه هم دود ده او همدې يوې مغالطې زموږ ټولنې ته پرېمانه زيانونه اړولي دي:

۱- د همدې فکر له مخې زموږ په ټولنه کې هر دولتي مکتوب ، لايحه ، قانون ، او داسې ډېر نور څه په دوو ژبو  ليکل کېږي او خپرېږي چې زموږ د ټولنې لوی بشري ځواک يې بوخت کړی ، لګښتونه يې زيات کړي ، وخت ورباندې ډېر ضايع کېږي او داسې نور.

۲- د همدې يوې فکري مغالطې له امله زموږ په هېواد کې هر کتاب دوه ځله ژباړل کېږي. که يو کتاب دري ته وژباړل شي (چې ډېری کتابونه لومړی دري ته ژباړل کېږي)، نو يو پښتون دا تر ټولو لويه فريضه ګڼي چې اوس يې پښتو ته هم وژباړي. حال دا چې په همدې وخت ، بشري انرژي او لګښت ، پښتون يا دري ژبي ژباړن کولی شوای چې خپلې ټولنې ته يو بل کتاب را وژباړي. او يوازې د خپل قوم او ژبې د بډاينې د فکر پر ځای يې کولای شوای چې ټول هېواد ته د علم له بحر څخه يوه بله لپه را پورته کړي. په پوره ډاډ ويلای شو چې هر هغه کتاب چې پښتو ژبې ته ژباړل کېږي ، هغه مخکې له مخکې څخه په دري ژبه کې شتون لري او دې ته هېڅ اړتيا نه وي چې هغه کتاب بېرته د همدې قوم لپاره وژباړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۳- همدې یوې مغالطې زموږ ټولنه له لوی انتشار او ګډوډۍ سره مخ کړې. په ټولنه کې یې د تعصب ، کینې او حسد په څېر ناوړه ، انسان وژونکي او د ټولنو ویجاړوونکو عناصرو ته وده ورکړې او ورځ تر بلې د چینجیو په څېر دا ښېرازه ونه له منځه کمزورې او نازکه کوي.

او داسې نورې ګڼې ناوخوالې دي چې یوازې له همدې یوې فکري غلطۍ څخه را پورته کېږي. ځینې وګړي بیا استدلال کوي چې که داسې ونه کړو نو زموږ ژبه له منځه ځي او مري او د نړۍ پر مخ به یې نوم او نښان هم پاتې نه وي! دا خبره رښتیا ده چې که یوې ژبې ته علمي کار ونه شي ، علمي او ساینسي اثار ورته را ونه ژباړل شي نو خامخا یوه ژبه د مرګ خولې ته غورځي! خو د ژبې د ژوندۍ ساتلو لپاره هېڅ اړتیا نشته چې یو کتاب چې له وړاندې څخه لا د هېواد په ملي ژبه ژباړل شوی وي ، هغه بیا ځل وژباړل شي. د یوې ژبې د ژوندۍ کولو پر ځای پکار ده چې یو قوم او ملت را ژوندی کړی شي. د یوه کتاب له ژباړلو دمخه به دا څېړنه خومره وخت ونیسي چې آیا دا کتاب له پخوا څخه په بله ملي ژبه کې شته او که نه ؟ که وي نو عقل ته ډېر نږدې او د هېواد په ګټه همدا ده چې پر هماغه بسنه وشي او که نه وي نو بیا دې وژباړل شي.

په دې ځای کې به پورته یاد شکایتونه له علمي او عقلي اړخه تحلیل او تجزیه کړو او وبه ګورو چې تر کومه بریده هغه شکایتونه پر ځای دي ؟ او ترڅنګ به یې د لیکوال د فکر له مخې د دې شکایتونو د حل په موخه ځینې وړ او بدیل لارې چارې هم په ګوته کړو:

۱- په پوهنتون یا ښوونځي کې یو زده کوونکی د دې حق نه لري چې د استاذ د ژبې په هکله شکایت وکړي ، هغه هم په داسې حال کې چې استاذ د هېواد په یوه نه یوه ملي ژبه خبرې کوي. دا په حقیقت کې د استاذ او شاګرد ترمنځ د تفاهم او همغږۍ یوه چاره ده. پکار ده چې دا ستونزه د دواړو لورو په هوکړه هواره شي. اخر ، د یوه خارجي ژبې استاذ څخه د زده کړې لپاره یا هغه زده کوونکي چې له هېواد څخه بهر زده کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library


کوي ، هغوی خو هم هغه پردۍ ژبې زده کوي. هغه مهال خو دا شکایت هېڅکله نه کېږي چې یو انګرېز ، ترکی ، هندی او یا جرمنی استاذ په پښتو یا دري ژبې ولې تدریس نه کوي او یا دا زموږ مورنی حق دی ؟ په پردیو هېوادونو کې د زده کړو لپاره پردۍ ژبې زده کوو ، نو همدا کار ولې دلته نه کوو ؟ که یو ښوونکی په پښتو ژبه تدریس نه شي کولای او په دې پوهېږو چې په دې برخه کې په ټول هېواد کې له هغه بل تکړه ښوونکی نشته ، نو ولې د دري ژبې په زده کړه لاس نه پورې کوو ؟ او که بیا وي ، نو بیا هېڅ دې شکایت ته اړتیا نه لرو ، په ډېرې اسانۍ کولای شو چې د خپلې خوښې او مورنۍ ژبې ښوونکي ته کېنو او زده کړه ترې وکړو. که موخه له یوه ښوونکي څخه د علم او پوهې ترلاسی وي ، بیا نو یوه ژبه د ځان لپاره خنډ ګڼل یوازې یوه بانه کېدلای شي.

۲- د ژبې — هغه که هره ژبه وي — اصلي موخه د پیغام رسول او خپلو افکارو ته د انتقال وړ جامه ورکول ده. له ژبې څخه د تعصب او تبعیض یو عنصر جوړول ، یو ډېر ناوړه او غیر انساني عمل دی. زموږ په ټولنه کې دا ستونزه ډېره عامه ده چې د تعصب له امله د یو بل په ژبه خبرې نه کوي ، حال دا چې د دواړو خواوو دواړه ژبې زده وي. او ډېری وختونه پر همدې لویې لویې شخړې او لانجې را پورته کېږي. که وګورو دا هېڅ د لانجې وړ خبره نه ده ، هر کله چې یو پښتون او دري ژبی له یو بل سره مخ کېږي ، نو دوی کولای شي چې له لاندې درې حالتونو څخه یو یې غوره کړي:

الف ) که پښتو ژبی په دري پوره پوهېږي او یا لږ لږ پوهېږي ، نو د یوه مهذب او ټولنیز انسان په توګه پکار ده چې له هر ډول تعصب پورته له هغه کس سره په دري ژبه افهام او تفهیم وکړي. او دا ټکی په ذهن کې کلک وساتي چې زموږ اصلي نېکمرغي او هوساینه په سم او غوره ډول د پیغام په رسولو کې ده ، نه پخپله ژبه باندې په تعصب کولو کې.

ب ) که دري ژبی په پښتو پوره پوهېږي او یا لږ لږ پوهېږي ، نو بیا ده ته پکار ده چې یوازې د خپل پیغام په رسولو فکر وکړي ، او کوښښ دې وکړي چې د خپل پیغام په رسولو کې له تر ټولو غوره کلماتو او جملو څخه کار واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ج) که دواړه د یو بل په ژبه سم پوهېږي ، خو حالت داسې رامنځته شي چې پښتو ژبی په پښتو پیل وکړي او دري ژبی په دري ژبه خبرې پیل کړي ، نو باید په ورین تندي دې حالت ته غاړه کېښودل شي. دواړه لوري دې په خبرو کې یو بل ته درناوی وکړي. له یو بل څخه دې د ژبې د بدلولو – په ټینګار – غوښتنه نه کوي ، بلکې د نړۍ د مهذبو انسانانو په څېر دې د یو بل د پوهولو او پوهېدلو چاره سرته ورسوي.

۳- باید په دې پوه شو چې د یوه قوم ژبه هغه مهال بډایه کېږي چې هغه قوم وده او پرمختګ وکړي. د یوه قوم پرمختګ په علم او پوهه کې دی. کله چې یوه ټولنه له علمي او اخلاقي اړخه عروج ته رسېدلې وي ، نو هغه مهال د هغه قوم ژبه هم بډایه کېږي ، بیا هغې ژبې ته د نورې نړۍ هم پام کېږي ، او بیا ټوله نړۍ د خپلې علمي تندې د خړوبتیا لپاره همدې ژبې ته مخه کوي. خو که یو قوم له علمي او اخلاقي اړخه په پستۍ او ځوړتیا کې وي ، نو لومړی خو د هغه قوم ژبه بډایه نه شي کېدلای ، او بیا که هغه ژبه ډېر ښه اثار هم ولري ، د قوم په پرمختګ او وده کې هېڅ رول نه شي لوبولای. د ژبې بډاینه د یوه قوم په پرمختګ کې هېڅ ډول رول نه شي لوبولای. بلکې د یوه قوم پرمختګ او وده ، یوې ژبې ته د نړیوالې ژبې تاج ور په سر کوي. د دې یوه ښه بېلګه عربي ژبه ده. په نړۍ کې تر عربي بډایه ژبه نشته ، د نحوي ، صرف ، د لغاتونو د زېرمې ، د ادبي پنځونو او فن پارو له اړخه هېڅ ژبه له عربي سره د سیالۍ جوګه نه ده ، خو د دې ژبې بډاینې د دې اقوامو په پرمختګ کې هېڅ رول نه دی لوبولی. او نن ورځ تاسو ګورئ چې عربي نړۍ له څه ډول زوال او ځوړتیا سره مخ ده ؟ او د همدې اقوامو د وروسته پاتې والي له امله د عربي په څېر شتمنې او درنې ژبې هم خپل اثر له لاسه ورکړی دی.

کله چې یو قوم په علمي او ساینسي ډګر کې زیار او زحمت ویستل پیل کړي ، نو هغه مهال اړینه وي چې د قلم څښتنان را پورته شي او خپلې علمي لاسته راوړنې او اختراعات خوندي کړي. په دې وخت کې یو پښتو ژبی کولای شي چې په پښتو ژبه اثار او کتابونه

(c) ketabton.com: The Digital Library


ولیکي ، دري ژبی پخپله ژبه ؛ او همداسې د بلې هرې ژبې ویونکی تر خپل وسه خپلې ژبې ته خدمت کولای شي.

د دې پرعکس ، که موږ خپل ټول تمرکز د ژبې بډاینې ته واړوو ، نو هغه څه دي چې موږ يې خپلې ژبې ته ورکولای شو؟ آیا د یو څو پښتو/دري ناولونو او شعري ټولګو چاپول ، د دولتي مکتوبونو او لایحو په پښتو/دري ژبو چمتو کېدل او داسې نور زموږ ژبه بډایه کولای شي ؟ او آیا له علم څخه د لریوالي لپاره دا یوه حقیقي او عقلي پلمه کېدای شي چې موږ د خپل ښوونکي په خبرو نه پوهېدو ؟

## ٤- د پښتو ژبې کره کول:

په دې ځای کې بحث یوازې پښتو ژبې ته ځانګړی کېږي او دري ژبه ترې بېلېږي ، ځکه تر اوسه پورې دري ژبه له دې ستونزې سره نه ده مخ شوې. په دې هیله چې په راتلونکي کې هم ورسره مخ نه شي.

د نړۍ ټولې ژبې د یوې ژبې زېږنده دي. د وخت او حالاتو له مخې په هره ژبه کې بدلونونه او تغییرات رامنځته شوي ، او هرې ژبې ځان ته یو مستقل نظام خپل کړی. خپله خبره په یوه بېلګه څرګنده کړو: په لومړیو کې انساني ټولنه د مچیو یوې ځالې ته ورته وه. ټول انسانان ګډ اوسېدل ، شمېر يې کم وو او په یوه ژبه يې خبرې کولې. کله چې د دوی په شمېر کې زیاتوالی راځي ، نو له یو بل څخه لرې کېږي ، لرې لرې ځایونو ته رسېږي ، ترمنځ يې واټن ډېرېږي ، او هره ډله د ځان لپاره نوې ځالې (ټولنې) جوړوي. هره ډله د مچیو د یوې مستقلې ډلې په توګه خپل ټولنیز ، اقتصادي او سیاسي نظام رامنځته کوي. ښکاره ده چې هر ډول نظام د یوې سیمې د طبیعي او فطري جوړښت له مخې رامنځته کېږي ، په همدې اساس انساني ټولنې هم له بدلونونو او تغیراتو سره مخ کېږي. له همدې سره ، د هرې ټولنې په ژبه کې هم توپیر رامنځته کېږي. هر قوم له خپل تمدني ، ټولنیز ، اقتصادي ، سیاسي ، علمي ، اخلاقي او عقیدوي

(c) ketabton.com: The Digital Library


پرمختګ ، ودې او بدلون سره سم په ژبه کې هم تغیرات رامنځته کوي. نوي وسایل او توکي رامنځته کیږي ، هغو ته نومونه ورکول کیږي. نوي افکار او تصورات را پورته کیږي ، د هغوی لپاره په ژبه کې نوي تعبیرات را پیدا کیږي او په همدې ډول په ژبو کې تنوع او ګڼوالی رامنځته کیږي.

ولې په ډېری ژبو کې ورته کلمات لیدل کیږي ؟ د دې لامل دا دی چې ټولې ژبې له یوې ژبې څخه زیږېدلي دي. او دا په حقیقت کې داسې ده لکه له یوه مور او پلار څخه چې ګڼ نسلونه رامنځته شي ؛ که څه هم د لومړني مور او پلار ډېری خواص په راتلونکو نسلونو کې له منځه لاړ شي ، خو په هر نسل کې د هغوی DNA په ډېرې اسانۍ موندلای شو. په ژبو کې هم ځینې ځینې ورته والي په نورو نسلونو کې له ګڼو توپیرونو سربېره د مشابه DNA د شتون په څېر ده.

دلته یو بل ټکی هم مهم دی. داسې نه ده چې هرې ټولنې په مستقل ډول خپله ژبه پراخه کړې ، بلکې هرې ژبې د لغاتونو د زېرمې د زیاتوالي لپاره له نورو ژبو څخه لغتونه را پور کړي او خپل ځان یې پرې شتمن کړی. د هغو ټولنو ژبو ډېره وده او پرمختګ کړی چې د علم او نوښت په برخه کې له نورو ټولنو څخه چټک وو. د دې پرعکس ، هغه ټولنې چې د تنبلۍ او غفلت په خوب ویدې وې ، د هغوی ژبو هم وده نه ده کړې او دا ژبې تل د نورو ژبو پوروړې پاتې شوې.

له نورو ژبو څخه د لغتونو راپوروول هېڅ د اندېښنې وړ خبره نه ده. ژبه د ټول انسانیت مشترکه پانګه ده او هر څوک کولای شي چې تر خپل وسه ګټه ترې واخلي. په هېڅا دا بندیز نشته چې یوازې په پلانۍ ژبه به خبرې کوي او په بله ژبه خبرې نه شي کولای. هغه ژبې چې اوس نړیوالې ژبې ګڼل کیږي ، په هغو کې یوه ژبه هم داسې نشته چې له نورو ژبو څخه پوروړې نه وي. تر دې چې د انګرېزي په څېر نړیوالې ژبې ډېری کلمات له لاتیني ، یوناني ، جرمني ، فرانسوي او داسې نورو ژبو څخه اخیستي دي. عربي هم

(c) ketabton.com: The Digital Library


د نورو ژبو له اغېز خوندي نه ده پاتې شوې ، حتی په قرآن کريم کې هم د نورو ژبو کلمات را پور شوي.

دا تصور او ليدلورى چې پخپله ليکنې يا ګړنې ژبه کې د نورو ژبو کلمات کارول يو ناسم کار دی ، په هېڅ ډول له عقل سره سمون نه خوري.

د همدې تصور په اساس ، زموږ د ټولنې پښتو ژبي په دې هڅه کې دي چې خپله ژبه د نورو ژبو له اغېز څخه راوباسي ، چې دا يو ناشونی کار دی ، او د هرې پردۍ کلمې لپاره د پښتو ژبې انډول ولټوي. دې کار ته د ژبې د کره کولو نوم ورکول شوی. د دې ډلې يوازينۍ موخه دا ده چې هر څه ته يوه پښتو کلمه را پيدا کړي ، هغه که د دوو نورو ژبو له کلماتو څخه يوه ترکيب شوې کلمه هم وي ؛ خو هغه مخکينۍ دود شوې پردۍ کلمه بايد د خلکو له خولو وايستل شي.

په حقيقت کې دې ډلې د ژبې اصلي دنده هېره کړې چې د خپل مافی الضمير څرګندول دي او دا کار که په هره ژبه کې په ښه توګه وشي ، د نېکمرغۍ خبره ده.

د دې ډلې کړنو ته به اشاره وکړو. هغه لغتونه چې دا ډله يې د سوچه پښتو په ډول خپلې ټولنې ته وړاندې کوي ، له لاندې حالتونو څخه له يوه سره مخ وي:

۱- هغه کلمه د يوې يا دوو نورو ژبو له دوه يا زياتو لغتونو څخه يوه ترکيب شوې کلمه وي چې په دې برخه کې ډېرى تکيه په اردو او فارسي ژبو کېږي.

۲- هغه کلمه چې دا ډله يې غواړي پښتو انډول يې پيدا کړي او يو مناسب انډول په لاس ور نه شي ، نو د هماغې کلمې انډول په يوه درييمه ژبه کې ګوري او بيا هماغه معادله کلمه پښتو ژبې ته کټ مټ را ژباړي. په دې برخه کې ډېر تمرکز په انګرېزي ، جرمني ، فرانسوي او کله نا کله په فارسي و عربي ژبه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د دوی دا کار له علمي اړخه سم دی او که ناسم ؟ د یوې ژبې په بډاینه کې رول لوبولای شي او که نه ؟ ګټه یې زیاته ده او که یې زیانونه زیات دي ؟ په دې ځای کې په دې پوښتنو بحث نه کوو ، بلکې په دې ځای کې یوازې د لیکوال په ذهن کې د پښتو ژبې په اړه عمومي طرحې او نظریاتو ته تم کېږو:

الف ) یوه ژبه هغه وخت بډایه کېږي چې د علمي اثارو او لیکنو زېرمه یې پراخه او لویه وي. په همدې اساس پکار ده چې د پښتو ژبې د ودې او پراختیا په موخه ډېر تر ډېره علمي اثار او لیکنې وپنځول شي.

ب ) پکار ده چې په پښتو ژبه کې د نړیوالو ژبو ځانګړنې وپنځول شي. په نړیوالو ژبو کې د ګڼو ځانګړنو تر څنګ یوه دا هم وي چې د نورو ژبو د کلماتو او محاورو د منلو لپاره یې سینه خلاصه او لمن پراخه وي. هر کله چې یوه نړیواله ژبه له یوې نوې کلمې سره مخ کېږي ، نو په ټوله لېوالتیا دې ته اماده وي چې هغه کلمه پخپل ځان کې را ونغاړي. نړیوالې ژبې یوازې دومره کوي چې هغې نوې کلمې ته خپله بڼه او خپل انداز ورکوي او خپل اصول او فطرت ورباندې پلی کوي. همدا کار له پښتو ژبې سره هم پکار دی. هر کله چې پښتو له یوې نوې کلمې سره مخ شي ، نو د دې په ځای چې د هغې لپاره د یو بې خونده او غیرعلمي انډول په لټون پسې منډې ترړې پیل کړو ، پکار ده چې هغه کلمه پخپل اصلي شکل را خپله شي او یوازې د خپلې ژبې اصول ، قواعد ، جوړښت او سټرکچر پرې تطبیق شي. دلته به یې یوې بېلګې ته اشاره وکړو:

✓ Facebook: د دې په ځای چې دا کلمه پښتو ژبې ته وژباړو ، یا یې د یوې بلې ژبې انډول را پور کړو ، یا د دوو نورو ژبو له کلماتو څخه یوه ترکیب شوې کلمه د پښتو د کره کلمې په توګه دود کړو ، ښه به وي چې پخپله همدا کلمه په پښتو ژبه کې د (فېسبوک) په بڼه ولیکو ، او دا به لا ښه وي چې اصلي بڼه Facebook هم په لیندیو کې ورسره ولیکو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


لکه: د افغانستان ځوانان فېسبوک (Facebook) ډېر په مینه کاروي.

دلته د یوې خبرې یادونه اړینه بولم چې د نورو ژبو هره کلمه دومره ساده او اسانه نه وي چې په اسانه یې پخپله ژبه کې لیکلی وشو ، ډېرې پېچلې او ګونګې کلمې هم پکې راځي ، نو دا دنده د ژبپوهانو ده چې د دې لپاره مناسب اصول او قواعد رامنځته کړي او په دې برخه کې یو معیار جوړ کړي. پورته یوازې د انګرېزي ژبې بېلګه وړاندې شوه ، همدا چلند د هرې ژبې له لغتونو سره پکار ده.

ج) هغه کلمات چې زموږ په ټولنه کې له ډېر پخوا څخه دود دي ، او د ټولنې هر لوستی او نالوستی وګړی یې په معنا او مفهوم پوهېږي ، د هغو کلماتو لپاره د انډولونو رامنځته کولو ته هېڅ اړتیا نشته. د دې لامل دا دی چې د خلکو له خولو څخه د یوې دود کلمې لرې کول او بله کلمه عامول ، یو ستونزمن او بې ګټې کار دی. او د وخت د ضیاع یو ستر سبب دی.

د) د پښتو ژبې انډولونه یوازې باید په هغو برخو کې وموندل شي چې په هغو کې موږ د پرمختګ ، زیاتونې او ودې وړتیا او وس لرو. د بېلګې په ډول زموږ ټولنه په دیني علومو ، ادب ، سیاست او ځینو نورو برخو کې د دې جوګه ده چې خپلې لاسته راوړنې او پنځونې ولري. نو د دې برخو علمي اصطلاحات باید خپلې ژبې ته را وژباړو او هماغه خپل اصطلاحات دود کړو. د دې پر خلاف ، هغه ډګرونه چې په هغو کې موږ د پرمختګ او ودې – د اوس لپاره – وړتیا او وس نه لرو ، او یا په هغو ډګرونو کې زموږ لپاره پرمختګ که ناشونی نه وي ، ډېر سخت دی – لکه د کمپیوټر ساینس برخه ، عصري ټکنالوژي ، طب ، انجینري ، فزیکس ، کیمیا او داسې نور ، نو د هغو اصطلاحات را ژباړل او پښتو انډولونه یې موندل د خپلې ټولنې په زده کوونکو او زده کړیالانو یو ستر ظلم دی. د دې لامل دا دی چې په دې برخو کې د یوه زده کړیال د مراجعې او څېړنې مواد یوازې په انګرېزي ژبه کې د لاسرسي وړ دي او که نوموړی زده کوونکی هغه اصطلاحات په پښتو ژبه کې ولولي ، نو کله چې دی د خپلې ځانګې یو

(c) ketabton.com: The Digital Library


انګرېزي ماخذ یا ښوونکي سره مخ شي ، نو له ډېرو جدي ستونزو سره به مخ وي. د داسې برخو له اصطلاحاتو سره هم هماغه چلند بویه چې په (ب) برخه کې یې یادونه وشوه. د دې تر ټولو لویه ګټه به زده کوونکي ته وي ، او ژبې ته به یې ګټه دا وي چې که همدا د پردۍ ژبې اصطلاحات زموږ په ژبه کې دومره دود شي چې د هر وګړي لپاره پرې پوهېدنه اسانه او ساده شي ، نو له دې لارې به زموږ ژبه هم له علمي او د لغتونو د زېرمې له پلوه درنه او بډایه شي. انګرېزي او بلې هرې نړیوالې ژبې په همدې تګلاره اوسني دریځ او مقام ته لار موندلې ده.

د پورتنیو څو نظریاتو یوه لویه ګټه به دا وي چې پښتو ژبه به د نړیوالو ژبو ډلې ته ور نږدې شي ، څکه زموږ ژبه به پخپل ځان کې هغه پوټېنشیال لري چې خپله لمنه پراخه کړي او د ودې لور ته مایله ژبه به وي. د یوې ژبې کره کول له دې پرته بله هېڅ پایله نه لري چې هغه ژبه را تنګه او لنډه کړي او په ژبه کې د نوښتونو او بدلونونو پر وړاندې یو کلک دېوال را تاو کړي.

## ۵- په پښتو ژبه کې املايي تنوع:

نن ورځ یوه بله ستونزه چې پښتو ژبه ورسره په لویه کچه مخ ده ، هغه په دې ژبه کې املايي تنوع ، رنګا-رنګي او ګنوالی دی. دا ستونزه خپل ګڼ لاملونه لرلای شي ، خو په ټوله کې په درې برخو کې تر سترګو کېږي:

یو ، د پښتو د یاګانو په برخه کې چې د ډېری لیکوالانو او ژبپوهانو له لیکنو او څېړنو سربېره هم دا ستونزه له پورته پوړ (لویو لیکوالانو او ژبپوهانو) را نیولې ، بیا تر ټیټ پوړ او د ښوونځي د زده کوونکو ترمنځ په ناحل شوې ډول پاتې ده. د دوو لویو لیکوالانو او ژبپوهانو کتابونه هم که راوګورو ، نو وینو چې د یاګانو ترمنځ لوی توپیر او فرق وجود لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه ، دا چې پښتو ژبه د لغتونو له پلوه يوه نېستمنه او تنګه ژبه ده او ډېرى الفاظ يې له نورو ژبو څخه راغلي ؛ نو کوم الفاظ چې له نورو ژبو څخه زموږ ژبې ته راځي ، د هغو په املا کې هم زموږ د ليکوالانو ترمنځ لوى واټنونه ښکاري. د مثال لپاره يې لاندې ډول کلمې وګورئ:

۱-: وړوکى الف لرونکي کلمې: لکه معنى چې معنا او مانا دواړه ليکل کېږي.

۲-: تنوين لرونکې کلمې: دا چې په پښتو ژبه کې تنوين نشته ، نو دا ډول زياتره کلمې چې نن ورځ په پښتو کې ليکل کېږي نو درې بڼې خپلوي:

الف ) غالباً (له تنوين سره )

ب ) غالبا (له تنوين پرته )

ج ) غالبن (د تنوين پر ځاى د تنوين تلفظ چې په پښتو کې د «ن» معادل دى.)

۳-: د انګرېزي ، جرمني او فرانسوي کلمې: د دې ډول کلماتو په پښتو ژبه کې د ليکلو لپاره ډېر کم داسې کېږي چې د پښتو ژبې اصلي جوړښت او چوکاټ ته وکتل شي ، بلکې تر ډېره د فارسي او دري ژبو تلفظ په پښتو ژبه کې هم عام شوى وي. مثلاً موږ په پښتو ژبه باندې د فارسي ژبې د اغېز له امله د انګرېزي ژبې د يوې کلمې تلفظ او املا په دوه ډوله کوو-:

۱- ډاکټر: هغه چاته وايو چې د طب ، درملو او درملنې په برخه کې ماهر وي.

۲- دوکتور: هغه چاته وايو چې ډاکټرېټ (Doctorate) يې کړى وي او تر ټولو ستره علمي درجه (degree) ولري.

حال دا چې په انګرېزي کې د دواړو لپاره يوه کلمه (Doctor) کارېږي!

(c) ketabton.com: The Digital Library


درې ، د پښتو د املا په برخه کې درېيمه لانجمنه موضوع د هغو لغتونو ده چې ګڼ ليکوال يې په اړه يوه خوله نه دي ، چې آيا يو ځای وليکل شي او که به يې بېل ليکل ښه وي. د بېلګې په ډول ، زموږ په کتابونو کې د دې لغتونو په هکله دوه-دوه حالته ليدل کېږي:

۱- نه لرو ؛ نلرو

۲- خپل منځي - خپلمنځي

۳-او داسې نورې ډېرې بېلګې په دې ژبه کې شته.

دلته د دې ستونزې يوازې پر درې اړخونو خبرې شوې ؛ خو که ژبپوهان په دې اړه څېړنه وکړي ، نو ډېرې نور اړخونه به يې هم مخې ته راشي. د دې ستونزې د هوارتيا لپاره دوه اساسي ګامونه پورته کولای شو چې دلته يې دواړو ته يوازې پر اشاره بسنه کوو:

۱- د دولت له خوا پر خپرندويو ټولنو بايد داسې د څار او ارزونې اداره وجود ولري چې هر کله په هېواد کې يو کتاب چاپېږي ، نو نوموړې اداره پر خپرندويې ټولنې دا فشار واچوي چې په کتاب کې هر ډول املايي رنګا-رنګي او تنوع له منځه يوسي ؛ او که چېرته هغه خپرندويه ټولنه له څو ځله تنبيه وروسته هم ، دا کار ونه کړي ، نو اداره له هغې خپرندويې ټولنې څخه د جريمې په توګه تر يوې مناسبې مودې پورې د چاپ حق واخلي ، يا بله هره جريمه چې مناسبه وي. دغه راز ، ياده اداره پر خپرندويو ټولنو بايد دا هم يقيني کړي چې کله يوه نوې کلمه پښتو کېږي ، نو په دې اړه نه ليکوال او نه هم خپرندويه ټولنه دا حق لري چې خپل ځاني اجتهاد وکړي او نوي اصول وضع کړي. بلکې پکار ده چې د دې کار ټول حق له يادې ټولنې سره خوندي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۲- دوهم بنیادي کار دا کېدای شي چې د ښوونځیو ، پوهنتونونو او نورو علمي مرکزونو نصاب باید په داسې معیاري شکل چمتو کړای شي چې یو شخص له لومړنۍ ورځې لا له معیاري پښتو سره بلد شي او ژبه له دا ډول تنوع څخه پاکه پاتې وي. دغه راز ، ښه به وي چې د نصاب په کتابونو کې دې موضوع ته ځانګړې پاملرنه وشي او زده کوونکو ته هغه ټول اصول او ضوابط وښودل شي چې کله هغوی له نوې او پردۍ کلمې سره مخ شي ، نو په څه ډول او طریقه یې پښتو کړي او د املا په برخه کې کومو قواعدو ، نزاکتونو او اړخونو ته پام وکړي.

***

# پای

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د کتاب درېيمه برخه

# مذهبي فکر

(c) ketabton.com: The Digital Library


## من تشبه بقوم.... حدیث

رسول الله صلی الله علیه وسلم په یوه حدیث کې فرمایي:

((من تشبه بقوم فهو منهم)) ژباړه: چا چې له کوم قوم سره ورته والی وکړ ، هغه به (د قیامت په ورځ) له هغوی څخه وي. یاد حدیث عبدالله ابن عمر رضي الله عنه له نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه روایت کړی ، او أحمد او أبو داؤد په خپلو سننو کې را نقل کړی.

د پورتني حدیث په څرګنداوي او تشریح کې ډېری علما په دې اند دي چې له کفارو ، مشرکانو ، مجوسانو ، فاسقانو او بې دینه خلکو سره هر ډول ورته والی تر دې حدیث لاندې راځي. توپیر نه کوي که هغه ورته والی او شباهت په جامو کې وي ، که په صورت کې ، او یا هم په دنیوي ،عقیدوي او کلتوري امورو کې ، لنډه دا چې هر ډول ورته والی او شباهت ناروا او حرام دی ؛ حال دا چې حقیقت په دې ډول نه دی. د دې حدیث په اړه علماوو تر ډېره بریده افراطي دریځ خپل کړی. په دې هکله د ټولو علماوو نظر تشه یوه ادعا ده ، او هېڅ تفسیر او تعبیر یې د علم او استدلال په تله برابر نه خېژي. او په دې ټول پوهېږي چې دین هېڅکله په دعوو خپله خبره نه کوي ، بلکې خپله هره خبره په علمي او عقلي دلیل بیانوي. همدا رنګه په دین کې بې بنسټه او بې دلیله دعوې اصلا ځای او مقام نه لري.

د دې حدیث اصلي موخه دا څرګندول دي چې یو مسلمان ته هېڅکله هم پکار نه دي چې په هغو چارو کې له نورو اقوامو سره شباهت او ورته والی وکړي او یا له هغوی نه یو څه را پور کړي چې په هغو کې اسلام څرګندې او روښانه لارښوونې لري. د بېلګې په ډول ، یو مسلمان باید په دې پوه وي چې اسلام د عباداتو په اړه خپل لیدلوری ، قوانین او شرطونه لري ، د عباداتو په برخه کې له نورو سره شباهت کول ، یا له عیسویت ، یهودیت او یا بل کوم دین څخه یوه کړنه د عبادت په ډول را پور کول ،

(c) ketabton.com: The Digital Library


هېڅکله اسلام ته د منلو نه ده. په همدې ډول ، هغه دودونه چې اسلام روا کړي ، لکه وليمه ، اخترونه او داسې نورو ځانګړو ورځو په هکله اسلام خپلې لارښوونې لري چې يو مسلمان بل هېڅ دين او مذهب ته اړتيا نه لري.

د دې برعکس ، په کومو برخو کې چې اسلام څرګندې او ټاکلې لارښوونې نه لري ، په هغو کې هر انسان دا واک او اختيار لري چې د خپلې خوښې او طبيعت له مخې د هر قوم کړنه يا عمل يې چې خوښ وي ، هغه راخپل کړي. د بېلګې په ډول ، اسلام د جامو ، وېښتانو ، تګ ، خبرو اترو ، او ځينو نورو ټولنيزو ادابو په هلکه يوازې اصول بيان کړي. يعنې اسلام د جامو په هکله وايي چې درنې او د ستر پټوونکې جامې بايد واغوستل شي ؛ په تګ کې اسلام ميانه روي غوره بولي ؛ د خبرو لپاره اسلام غبر او د خبرو انداز ته پام کړی. او د شخصيت او ټولنيز ژوند په تړاو نورې ټولې لارښوونې په همدې ډول اصولي خبرې دي.

د اصل په اړه موږ پوهېږو چې هر اصل خپل اطلاق غواړي. د دې اصولو اطلاق او عملي کول ، اسلام د مسلمانانو په واک کې ورکړي. د بېلګې په ډول ، د جامو په هکله د دروندوالي اصول ښودل شوی. اوس دا پرېکړه چې درنې جامې څنګه وي ؟ د دې پوښتنې ځواب يې نه دی ورکړی ، ځکه اسلام د انسان را محدودوونکی دين نه دی. که د دې ځواب ويل شوی وای چې دا او دا جامې درنې دي. نو په حقيقت کې به اسلام د انسان لپاره دايره را تنګه کړې وه. دا هغه مسله ده چې د هر عصر تهذيب و تمدن او د هرې ټولنې فرهنګ ورته ځواب ويلای شي. هر عصر د انسان په ژوندانه کې نوي بدلونونه او تغيرات پنځوي. د اسلام تر ټولو ستره ښکلا همدا ده چې هغه مسايل چې په هغو کې انسان نوښت او ابتکار کولای شي او نوي نوي اړخونه پکې را برسېره کولای شي ، د هغو په هکله يې يوازې تر اصولي لارښوونو پورې بسنه کړې.

په دې اساس ، د دې حديث په استناد دا خبره چې له نورو اقوامو سره په لباس ، صورت ، او ټولنيزو ادابو کې ورته والی او شباهت حرام او د اسلام خلاف کار دی ، بې

(c) ketabton.com: The Digital Library


بنسټه او د اسلام په سپېڅلې لمن تور داغ دی. اسلام هېڅکله په داسې ځیزونو بندیز نه لګوي. هر مسلمان د اسلام اصولو ته په پام سره کولای شي چې هر ډول جامه، صورت او ټولنیز اداب ور خپل کړي.

د علماوو په هغه نظر یوه بله نیوکه دا هم کېدای شي چې که چېرته له تشبیه څخه دلته د هر ډول ظاهري، صوري او باطني تشبیه مراد وي، نو بیا هغوی اړ دي چې د انسان د ظاهر او صورت په اړه د اسلام کامل نظام او لارښوونې هم را په ګوته کړي. دا راته وښیي چې اسلام د وېښتانو په اړه څه نظر لري او څه ډول وېښتان په اسلام کې معتبر دي؛ دغه راز د جامو په اړه ګڼو پوښتنو ته ځواب ووایي. خو په دې برخه کې د علماوو ځواب تر ډېره په ځینو کمزورو روایاتو او د عربو پر کلتور او فرهنګ راڅرخي چې دا دواړه د اسلام د یوه حکم لپاره هېڅ ډول اساس او بنیاد نه وړاندې کوي. له همدې کبله، تر ټولو عقلاني او د اسلام رښتیني روح ته نږدې نظر او تعبیر همدا دی چې دلته له تشبیه څخه مراد په عقیدوي او عبادتي چارو کې تشبیه ده، هغه چې اسلام یې په هکله یو بشپړ او جامع تصور او لیدلوری لري.

په دې ځای کې دا نیوکه کېدای شي چې د حدیث له الفاظو څخه پورتنی مفهوم نه شي استنباط کېدای. نو باید په دې پوه شو چې که دا تعبیر ترې نه شي اخیستل کېدای، نو هغه بل تعبیر هم بیا ناسم دی.

د همدې حدیث تر عنوان او موضوع لاندې ډېر کله د پایڅو د بره ساتلو او ږیرې پرېښودلو په اړه هم احکام استنباط کېږي چې دلته به یې هر یو بېل بېل وڅېړو:

## الف) د پایڅو مسئله:

د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دور کې د عربو مخورو او د ټولنې شتمنو کسانو د لنګوټې (لنګ) تړلو دود درلود. د دوی د لنګوټې ټوکر به دومره اوږد وو چې د تګ پر مهال به په دوی پسې په ځمکه څښېده. دا دود په عربو کې د غرور او کبر لامل

(c) ketabton.com: The Digital Library


ګرځېدلی وو. دوی به له ډېر غرور نه د لنګوټ ښښېدونکې برخه له ځمکې نه ور پورته کوله او په دې کې به یې یو ډول ویاړ او کبر احساساوه. نبي کریم صلی الله علیه وسلم ، د عربو دې مزاج او د دې دود له کبله د انسان کبرجن کېدو ته په اشاره خپلو صحابوو ته وفرمایل چې تاسو خپل لنګوټونه له پاړکیو څخه بره وساتئ او د لنګوټ کومه برخه چې تر پاړکیو ښکته وي ، هغه به په اور کې وي.

د دې حدیث په استناد علماوو ، له دې مسئلې څخه د دین مستقل حکم جوړ کړ او د دې مسئلې تر شا اصلي علت او سبب یې له پامه وغورځاوه. په دې برخه کې علماوو لاندې ټکي له پامه غورځولي چې له کبله یې دا مسئله دومره لانجمنه شوې:

۱) پیغمبر ع دا امر یوازې له دې امله وکړ چې د جامو هغه ډول په انسان کې کبر پیدا کاوه او په اسلام کې کبر مذموم او یوه ناوړه ګناه ده ، نه د جامو ښکته یا پورته ساتل. د دې دلیل دا دی چې د دې حکم له اورېدو وروسته ابو بکر صدیق رض د پیغمبر ع حضور ته راغی او خپله ستونزه چې لنګوټ به یې ښکته ښویېده پیغمبر ع ته وویله. نو پیغمبر ع ورته وویل چې دا حکم ستا لپاره نه دی ، په تا کې کبر نشته. که دا یو عام حکم وی ، نو باید حضرت ابو بکر صدیق رض هم ترې مستثنا نه وی.

۲) په حدیث کې د لنګوټ کلمه کارول شوې خو کله چې دا حدیث نورو ژبو ته ژباړل شوی ، نو همدا کلمه د لنګوټ په ځای په پرتوګ معنا شوه چې دې حکم له پرتوګ یا پتلانه سره هېڅ تړاو نه درلود. د لنګوټ په اړه دا حکم نن هم پخپل ځای پاتې دی. په دې معنا چې که چېرته نن هم په یوه ټولنه کې لنګوټ د کبر او غرور لامل وپېژندل شي ، نو هلته به هم لنګوټ له پاړکیو (ښنګرو) څخه بره ساتل کېږي. د پرتوګ او پتلانه په اړه هر څوک پوهېږي چې په هېڅ ټولنه کې د دې دواړو ټیټ ساتل ، د کبر او غرور نښه نه ګڼل کېږي. نو په دې اساس ، که پرتوګ یا پتلون هر څومره ټیټ وي ، تر هغو پورې تر دې حکم لاندې نه شي راتلای تر څو چې هغه ټولنه په عمومي توګه دا ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library


مني چې له نن څخه وروسته به د پرتوګ یا پتلانه ټیټ ساتل ، د کبرجن او مغرور انسان نښه وي.

۳) له دې حدیث څخه دا استدلال هم ناسم دی چې له نورو سره ځان یو رنګه کول له دې امله ناروا او حرام دی چې نبي کریم ص هم په دې ځای کې د شباهت اصل ته په پام سره خپلو صحابوو ته امر کړی چې تاسې له مشرکینو څخه ځان ځانګړی او بېل کړئ. خو په دې ځای کې دا ټکی له پامه غورځېدلی چې د نبي کریم ص په وړاندې اصل ، شباهت نه وو ، بلکې د کبر او بې ځایه ویاړ په څېر یوه لویه او عظیمه ګناه وه.

**ب ) د ږیرې مسئله:**

بله لویه مسئله چې له لومړۍ ورځې د علماوو او د مسلمانانو د لوی اکثریت ترمنځ یوه لانجمنه موضوع ترې جوړه شوې ، د ږیرې مسئله ده. د ږیرې په اړه به د علماوو نظریات او پر هغو د ځینو علماوو او لیکوال تنقید د نکاتو په بڼه وځېړو:

۱ ) د ږیرې په اړه په قرآن کریم کې هېڅ آیت شتون نه لري ، نه په مستقیم ډول د ږیرې د فرضیت او وجوب په اړه څه څرګندونه لري ، او نه په نامستقیم ډول د ږیرې په اړه کوم حکم یا لارښوونه شته. د دې یو لوی دلیل هغه پېښه ده چې یو سړی امام مالک رح ته راغی او د ږیرې په اړه یې د قرآن کریم آیت په دلیل کې وغوښته. امام مالک رح ورته وفرمایل چې درې ورځې وروسته راشه. امام مالک په درې ورځو کې ټول قرآن کریم – هره ورځ لس سیپارې – ولوست ؛ کله چې هغه سړی راغی ، نو ورته وېې ویل چې په قرآن کریم کې مې هېڅ آیت د ږیرې د اثبات لپاره ونه موند ، مګر یو آیت چې الله تعالی فرمایي وَمَا آتَاکُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاکُمْ عَنْهُ فَانتَهُوا. له فقهې او د فقهې له اصولو سره یو ادنا بلد هم پوهېږي چې له دې آیت څخه په هېڅ ډول د ږیرې حکم نه شي استنباط کېدای.

(c) ketabton.com: The Digital Library


البته یو آیت چې هلته د ږیرې ذکر راغلی ، هغه د موسی ع او هارون ع په اړه دی چې کله موسی ع د خپل ورور هارور ع ږیره ونیسي ، نو هارون ع ورته وایي چې اې زما د مور زویه ما له ږیرې مه نیسه. له دې څخه هم ځینو علماوو دا استدلال کړی چې ږیره یو ارزښتناک او عزتمن انساني جز ده ، له همدې امله هارون ع خپل ورور ته عذر وکړ. د علماوو دا ډله په دې ډول هڅه کوي چې له دې ځایه د ږیرې فرضیت ، له تحریم څخه استنباط کړي چې دا هم د دین له بنسټیزو اصولو سره په ټکر کې ده. حقیقت دا دی چې د مصر خلکو ږیرې ته په درنه سترګه کتل او د خپلې تولنې سپین ږیرو او هغو ځوانانو ته چې ږیره به یې پرې ایښې وه ، د قدر او عزت په سترګه کتل. په دې توګه ، لرې نه ده چې موسی ع هم په همدې اساس دا خبره کړې وي.

۲) په دې اړه دوهم لوی استدلال دا وړاندې کېږي چې د څلور واړو لویو مذاهبو امامان په دې یوه خوله دي چې ږیره فرض ده ؛ او دا د ږیرې د فرضیت لپاره د کره او مستند دلیل په توګه وړاندې کېږي. خو پر دې باید پوه شو چې د څلورو لویو امامانو دا خبره یوازې یوه ادعا ده او د خپل نظر د اثبات او استناد لپاره هېڅ دلیل ورسره نشته ؛ د دې یو څرګند دلیل پورته د امام مالک رح په واقعه کې تېر شو. د دین د یوه حکم لپاره یوازې د څو امامانو ادعا اساس نه لري ، بلکې دلیل یې باید له قرآن او یا سنت څخه وړاندې شي.

۳) د ږیرې په تړاو ګڼ شمېر حدیثونه روایت شوي چې شاوخوا په ټولو کې یوه خبره – په سند ؛ او په متن کې د یو څه لفظي تغیر سره – شوې. په دې ټولو احادیثو کې د ږیرې پرېښودل ، د برېتونو خرییل ، د ږیرې اوږدول او د برېتونو کمول ، له یهودو ، نصاراوو او مجوسو سره د مخالفت لپاره د ږیرې پرېښودل او برېتونو خرییل او دې ته ورته خبره تکرار شوې. په دې ځای کې یو اصول باید تر پام لاندې وي چې د اسلام احکام مستقل بالذات وي. په دې معنا چې هېڅکله د اسلام یو حکم د یوه پردي علت ، معلول نه وي ، بلکې د هر حکم سرچینه پخپله د اسلام دننی نظام ، فلسفه ،

(c) ketabton.com: The Digital Library


حکمت او چوکاټ وي. په دې ټولو احادیثو کې پیغمبر ع هر ځل همدا فرمایي چې له یهودو او نصاراوو سره مخالفت وکړئ ، یعنې د ږیرې پرېښودل د اسلام یو مستقل حکم نه دی ، بلکې د یوه عارضي او مؤقتي علت له مخې مسلمانانو ته امر کېږي چې ږیرې پرېږدئ او برېتونه وخریئ ؛ ځکه که له دې احادیثو څخه د ږېرې فرضیت استنباط کېدای شوی ، نو د برېتونو خرییل ولې فرض نه ګڼل کېږي ؟ او هغه څلور امامان د برېتونو په هکله هم ولې یوه خوله نه کېږي ؟ د دې لامل دا دی چې ږیره او برېتونه پرېښودل یا خرییل د اسلام یو حکم او امر نه دی ، بلکې په یوه ځانګړي مهال کې د ځانګړي مصلحت لپاره امر پرې شوی دی.

۴) په دې وروستي ټکي کې به څو منل شوو واقعیتونو ته اشاره وکړو. په دې کې هېڅ شک نشته چې ږیره ټولو انبیاوو پرې ایښې او د انساني فطرت یوه برخه ده. خو پر دې پوهېږو چې دا دواړه د دیني احکامو بنسټ نه شي ګرځول کېدای. دا هم له شک وتلې خبره ده چې ږیره د مسلمانانو یو ځانګړی شعار دی ؛ په هر دور کې د مسلمانانو لویې ډلې ږیره پرې ایښې او په همدې شعار پېژندل شوي دي. دا یو څرګند حقیقت دی چې هر مسلمان له خپل خوږ پیغمبر سره د زړه له کومې مینه کوي او د همدې مینې د اظهار لپاره د هماغه مبارک ص په متابعت کې ږیره پرېږدي. په دې کې شک نشته چې الله تعالی به پر دې کار هرومرو هغه بنده ته اجر او ثواب ورکوي. خو دا هم له یاده ویستل نه دي پکار چې ږیره د اسلام یو حکم نه دی ، په ښه نیت یې پرېښودل که ثواب لري ؛ نو بل خوا ته خرییل او یا کمول یې هم هېڅ ګناه او معاصي نه ده. د ږیرې له امله پر یو چا د کفر ، بې دینه او منافق ټاپې لګول ، د ږیرې له خرییلو لوی ګناهونه او جرایم دي. دغه راز ، هغه چا چې ږیره یې نه وي پرې ایښې ، هغو ته هم بویه چې هغه چاته په سپکه سترګه ونه ګوري چې ږیره یې پرې ایښې وي او نه هم ورته بویه چې په ږیره پورې خندا او رشخند وکړي ؛ ځکه د انسان د بدن په یوې برخې رشخند او

(c) ketabton.com: The Digital Library



تمسخر کول ، (العیاذ بالله) پر الله رشخند او تمسخر کول دي او دا یوه لویه ګناه او تېروتنه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# موسيقي

الله تعالی د انسان په شخصيت او طبيعت کې تنوع او ګڼوالی ایښی دی. انسان که له يوې خوا يو مهربانه او نرم خويه مخلوق دی ، نو بل خوا يې طبيعت له غوسې او قهر څخه هم بې برخې نه دی. يو لور ته که انسان ته د خندا په څېر غوره ډالۍ ورکول شوې ، نو په ورته وخت کې کله نا کله انسان ژاړي او اوښکې هم تويوي.

الله تعالی انسان په تر ټولو غوره فطرت سره پنځولی دی او کوم دين او مذهب يې چې انسان ته وربښلی دی ، هغه هم د انسان له فطرت سره سم او برابر دين دی. د دې دين هېڅ حکم او امر به له انساني فطرت سره ټکر ونه لري ، او که هر کله د کوم حکم او انساني فطرت ترمنځ ټکر ترسترګو شو ، نو بايد پوه شو چې د دې حکم سرچينه هغه دين نه ده او يا د دې حکم په مقابل کې ولاړ شخص عادي انسان نه دی. بشري فطرت (په لومړنۍ بڼه) او اسلام (په خالص ډول) هم معنا او مترادف تعبيرونه دي.

په همدې اساس ، د نورو ګڼو تقاضاوو او غوښتنو ترڅنګ ساز ، سرود ، نغمې او موسيقي ته تمايل او غوښتنه هم د انساني فطرت يوه لازمي او لويه برخه جوړوي. انسان فطرتا داسې پنځول شوی چې د کلماتو ترمنځ ځانګړی تناسب او وزن ، د بېلا بېلو مرغانو آهنګ لرونکي اوازونه ، د بېلا بېلو آلاتو له همغږۍ او جوړجاړي نه ټوکېدلی موسيقيت او له ښايسته او مترنم غږ څخه برخمن حنجرو څخه راوتلي سرودونه او نغمې يې باطن ته لار کوي او د خوند او کيف يو حالت پکې پيدا کوي.

موسيقي او ساز د انسان د فطرت لپاره يو پردی او نا اشنا شی نه دی ؛ بلکې د موسيقي هر ډول حالت او آهنک په انسان کې هماغه حالت او احساس رامنځته کوي. په دې معنا چې ارامه موسيقي انسان ته د ارامتيا احساس ورکوي ، غمجن ساز انسان د خوشالۍ له حالت څخه د غم او خفګان حالت ته رسوي ، مسته او تېزه موسيقي په انسان کې د چابکتيا او ګړندي خوځښت لامل ګرځي ؛ که چېرته موسيقي د انساني

(c) ketabton.com: The Digital Library


فطرت لپاره يو نا اشنا شی وی ، نو دا دومره تغيرات او بدلونونه او د انسان په احساس او عاطفه کې د بدلون راوستلو دا دومره لوی ځواک په موسيقي کې له کومه شو ؟ ولې پر انسان ګډوډ او بې نظمه اوازونه بد لګېږي او کرکه ترې کوي ، خو له تناسب ، آهنګ او موسيقيت سره مل اواز خوند ورکوي او د اورېدو تلوسه يې ورسره وي ؟

د دې تر ټولو څرګند علت و سبب دا دی چې د نړۍ پر مخ ټول هنرونه د انسان په فطرت کې اخښل شوي دي او اسلام هم هغو ته ځانګړې او په ډېر اغېزمن ډول پاملرنه کړې. الله تعالی په قرآن کريم کې د هنرونو لپاره د ((زينت)) تعبير په کار وړی. تزيين په عربي کې د ښايسته کولو ، سينګارولو ، پسوللو ، د يو شي له اصلي حالت څخه ويستلو او يو ښکلی او په زړه کېناستونکی حالت او ډول وربښلو او ډېزان کولو په معنا کارېږي. تزيين او زينت د حسن او جمال له کلمو سره فرق لري. حسن او جمال په اصل کې د فطرت څرګندونه او اظهار وي ، خو تزيين د يوه بې ډوله ، نامنظم ، بې خونده او ګډوډ شي ، منظم او مرتب کولو ته ويل کېږي. کله چې عربان وايي چې پلانکی شی مو مزين يا تزيين کړ ، نو په دې معنا ده چې له اولني حالت څخه يې غوره او بهتره کړ.

دلته يوه پوښتنه کېدای شي چې د زينت او هنر ترمنځ څه اړيکه ده ؟ د دې لپاره څه دليل دی چې الله تعالی د زينت کلمه د هنرونو لپاره استعمال کړې ؟

نن ورځ چې موږ کوم څه د هنر په نوم وپېژنو ، هغه په حقيقت کې د ځينو شته څيزونو او وړتياوو له غوره ، منظم او ښايسته کولو څخه منځته راغلي دي. دا نظم او ښايست ځينې وختونه په انسان کې طبيعي وي ، خو ځينې وختونه بيا انسان پخپله هڅه او زيار هغه شته هنر صيقل ، منظم او مزين کړی وي. د بېلګې په ډول ، د هر عادي انسان له حنجرې څخه اوازونه راوځي ، خو د ځينو انسانانو اواز او غږ له نورو څخه توپير لري ، د هغوی غږ خوږ ، مترنم ، په زړه کېناستونکی او له ځانګړي آهنګ او موسيقيت سره مل وي. د هغه په اورېدو د انسان ذهن او روح ارامتيا او داډ ترلاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library


کوي. ځينې په طبيعي او فطرتي توګه دا ډول ساحرانه غږ لري ، خو ځينو د يو څه رياضت او زيار وروسته دې حد ته رسولی وي. الله تعالی د بې شمېره اوازونو ترمنځ د همدې ځانګړې ډلې غږ ته د زينت تعبير راوړی. په همدې ډول ، د وينا لپاره هر عادي انسان د تورو او کلماتو يوه مجموعه او ټولګه په کار اچوي ، خو ځينو انسانانو ته خدای داسې استعداد ورکړی وي چې کله په يو خاص حالت کې وي ، نو له خولې څخه هر راوتونکی لفظ او جمله يې له يوه ځانګړي تناسب ، آهنګ او ترنم سره مخ وي. له همدې څخه شعر او شاعري رامنځته کېږي. د وينا په برخه کې ، د ټولو انسانانو ترمنځ د دې ځانګړې ډلې د وړتيا لپاره د زينت اصطلاح کارول شوې. دغه راز ، ځينو انسانانو ته الله تعالی يو بل ځانګړی استعداد او وړتيا ور په برخه کړې وي ، هغه دا چې کله هغوی دوه غږ لرونکي اجسام له يو بل سره ټکوي او وهي ، نو هغه يوازې د غوږونو د پردو څيرونکي اوازونه نه وي ، بلکې له يوه ځانګړي انسجام ، خوند ، لذت او معنا سره مل وي. د انسان له دې استعداد څخه د موسيقۍ هنر پنځېږي. موسيقي له دې پرته بل هېڅ هم نه ده چې انسان د وينا لپاره کوم کلمات او الفاظ کاروي ، هماغه الفاظ او کلمات د ځينو الاتو او وسايلو په مرسته تر اورېدونکي رسوي ؛ خو دا رسونه له الفاظو څخه زياته لطيفه ، له ډېرې عاطفې ډکه ، له ژور احساس سره مل او د انساني اروا ته د لار کولو له يوه پياوړي ځواک څخه برخمنه وي. او دا هماغه څه دي چې الله تعالی يې په خپل عظيم کتاب کې په زينت سره تعبيروي.

الله تعالی په ډېر ټينګار او سخته لهجه د زينتونو (هنرونو) په هکله خپل پيغمبر ته فرمايي چې اې زما پيغمبره ، دې خلکو ته چې له دين څخه يې يوازې د حلال او حرام يوه لوبه جوړه کړې او په الله تعالی پورې دروغ تړي ، ووايه (قُلْ) ؛ هغه زينتونه (ښکلي شوي هنرونه او فنون) چا حرام کړي چې الله تعالی د خپلو بندګانو لپاره راويستلي (مَن حَرَّمَ زِينَةَ اللّهِ الَّتِيَ أَخْرَجَ لِعِبَادِهِ) ؛ او دا يهودان او نصارا چې د ځينو خوراکونو په اړه د حراموالي فتوا ورکوي ، نو دوی ته ووايه چې هغه خو ستاسې د خپلو اعمالو له کبله

(c) ketabton.com: The Digital Library


پر تاسې حرام شوي ؛ که نه ما (الله) خو د زينتونو ترڅنګ پاک او سپېڅلي خواړه هم نه دي حرام کړي (وَالْطَّيِّبَاتِ مِنَ الرِّزْقِ).

له دې وروسته الله تعالی ، د مؤمنو بندګانو نفسياتو ته په کتو يو ځل بيا په ټينګار وايي: اې زما پيغمبره ، ښايي له مؤمنانو سره دا شک او انديښنه پيدا شي چې دا زينتونه به الله تعالی د پخوانيو خلکو لپاره حلال کړي وي ، زموږ لپاره به حرام وي ، ځکه موږ خو مسلمانان او مؤمنان يو ؛ نو ته ورته ووايه (قُلْ) چې دا نعتمونه خو په دې دنيا کې دې د همدې مسلمانانو او مؤمنانو لپاره (هِي لِلَّذِينَ آمَنُواْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا) او په آخرت کې هسې هم دا ټول نعمتونه او زينتونه د دوی لپاره ځانګړي او خالص شوي دي (خَالِصَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ) ؛ له دې وروسته ، الله تعالی فرمايي چې موږ خو خپل آيتونه په دې ډول ښرګند بيانوو ، نو له دې ښرګندو خبرو څخه هم چې يو څوک مفهوم او معنا نه شي اخيستلای ، نو هغه دې خپل علم زيات کړي ، ځکه په دې ښرګندو آيتونو او نښانو يوازې د علم خاوندان پوهېږي (كَذَلِكَ نُفَصِّلُ الآيَاتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ).

د دې آيت په تفسير کې ابو الکلام آزاد پخپل مشهور تفسير ((ترجمان القرآن)) کې ليکي:

((د مذاهبو د پيروانو بې لارې دا وه چې هغو ګمان کاوه چې اروايي نېکمرغي هماغه وخت ترلاسه کېدای شي چې نړۍ ته شا واړول شي او د خدای لمانځنې غوښتنه دا ده چې له زينتونو او اسانتياوو څخه ځان ګوښه کړای شي. قرآن وايي چې حقيقت د دې برعکس دی. تاسو فکر کوئ چې د ژوند زينتونه د دې لپاره دي چې پرېښودل شي. حال دا چې دا د همدې لپاره دي چې په کار واچول شي. دنيا او په دنيا کې ټول شته نعمتونه په سمه توګه کارول له الهي رضا سره سر خوري.))

ورپسې زياتوي چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library


((دلته له زينت څخه مراد ټول هغه څه دي چې د ژوند له طبعي اړتياوو څخه زيات وي. مثلا ښې جامې ، ښه خواړه ، د روزګار ټول بې زيانه اسانتياوې او خوندونه.))

په دې پسې الله تعالی د اديانو لرونکو خلکو په عامه توګه او د مسلمانانو ترمنځ په خاصه توګه هغې سترې لانجې او پوښتنې ته ځواب وايي چې اخر حرام څه دي؟ نو الله تعالی پخپله ورته فرمايي چې ما يوازې او يوازې دا لاندې شيان پر تاسو حرام کړي ؛ په دې ځای کې بيا په خپل ګران پيغمبر محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم غږ کوي چې ورته ووايه چې ستا رب يوازې او يوازې دا شيان حرام کړي (قُلْ إِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ):

۱- الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ ؛ ما فحشا ، بې حيايي او د بې شرمۍ ټول افعال ، اعمال ، عقايد او افکار حرام ګرځولي. دا فحشا که په پټه وي ، او که په ښکاره وي ؛ ما حرام ګرځولې.

۲- وَالإِثْمَ: او ګناهونه.

۳- وَالْبَغْيَ بِغَيْرِ الْحَقِّ: او ناحقه تېرى.

۴- وَأَن تُشْرِكُواْ بِاللّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ سُلْطَانًا ؛ او ما دا حرام کړي چې يو داسې څوک له ما سره شريک کړای شي چې هېڅ سند ، دليل او حجت ورباندې نه وي نازل شوی. او که په لنډو کې ووايو نو الله تعالی شرک حرام ګرځولی.

۵- وَأَن تَقُولُواْ عَلَى اللّهِ مَا لاَ تَعْلَمُونَ ؛ د آيت په پای کې الله تعالی فرمايي چې ما دا هم حرام کړي چې يو څوک له خپل ځان څخه يو څه کړي او د خپلې خوښې ، طبيعت او هوا له مخې يو څه حرام وګرځوي. ما دا حرام ګرځولي چې يو ملا ، امام ، فقيه او مجتهد را پاڅېږي او زما په اړه هغه څه ووايي چې هغه زما خبره نه وي او پخپله هم علم پرې ونه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library


په پورتنیو ایتونو کې د حلال او حرام ترمنځ داسې پرېکنده کرښه وایستل شوه چې تر قیامت پورې څرګنده او روښانه ده ؛ او هغه مسئله چې د یوه مذهب ټول بنسټ ور باندې ودان وي ، هغه پخپله الله تعالی هواره او حل کړه. له دې وروسته به یو څه هماغه وخت حرام ګرځي ، چې کله یو له دې پورتنیو ذکر شوو مواردو څخه پکې پیدا شي ؛ له هغه پرته نور هر څه مباح دي ، لکه د الله تعالی له دې آیت څخه چې څرګندیږي:

هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُم مَّا فِي الأَرْضِ جَمِيعاً ؛ ژباړه: هماغه ذات چې هر هغه څه یې ستاسو لپاره خلق کړي چې په ځمکه کې دي.

په دې ځای کې یو بل اړخ هم خوندور او په زړه پورې دی. هغه دا چې الله تعالی یوازې د زینتونو ، هنرونو او فنونو په اړه د حلالوالي فتوا نه ده وړاندې کړې ؛ بلکې په قرآن کریم کې یې ځای – ځای د دې هنرونو بېلګې او مثالونه هم وړاندې کړي ، مثلاً

د کورنیو څارویو (په ځانګړې توګه غواوو) په هکله د الله تعالی ارشاد په دې ډول دی:

وَلَكُمْ فِيهَا جَمَالٌ حِينَ تُرِيحُونَ وَحِينَ تَسْرَحُونَ (النحل: ۶) ؛ ژباړه: او (دا هم) تاسو ته یو ډول ښکلا ده پکې چې سهار یې وباسئ او ماښام یې بېرته راولئ.

په دې آیت کې الله تعالی د کورونو د سینګار او ښایسته کولو هنر ته اشاره کوي چې نن ورځ د ښکلا پوهنې په برخه کې یوه علمي او اکاډمیکه موضوع ګرځېدلې.

په همدې ډول ، الله تعالی په یو بل ځای کې د اسمان ښکلا او د جوړښت ، ودانۍ او ساختمانسازۍ هنر ته د انسان پام اړول غواړي:

أَفَلَمْ يَنظُرُوا إِلَى السَّمَاءِ فَوْقَهُمْ كَيْفَ بَنَيْنَاهَا وَزَيَّنَّاهَا وَمَا لَهَا مِن فُرُوجٍ (ق: ۶) ؛ ژباړه: آیا د دوی دپاسه اسمان ته یې نه دي کتلي چې موږ څنګه جوړ کړی ، ښکلی کړی مو دی او هیڅ چاود پکې نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا لاندې درې آیتونه هم در وګورئ:-

وَلَقَدْ زَيَّنَّا السَّمَاء الدُّنْيَا بِمَصَابِيحَ...[الآية] (الملک: ۵)؛ ژباړه:او بې شکه موږ (تاسې ته) نژدې اسمان په چراغونو سینګار کړی.

وَلَقَدْ جَعَلْنَا فِي السَّمَاء بُرُوجًا وَزَيَّنَّاهَا لِلنَّاظِرِينَ (الحجر: ۱۶)؛ ژباړه: او بې شکه په اسمان کې مو برجونه پیدا کړي او هغه مو د ننداره چیانو دپاره ښکلی کړی دی.

إِنَّا زَيَّنَّا السَّمَاء الدُّنْيَا بِزِينَةٍ الْكَوَاكِبِ (الصافات: ۶)؛ ژباړه: یقیناً موږ د دنیا اسمان ښکلی کړی د ستورو په ښایست.

په دې لاندې آیت کې الله تعالی خپلو بندګانو ته په امریه صیغه ارشاد کوي چې اې د آدم اولادې ، کله چې زما د عبادت لپاره جوماتونه ته راځئ ، نو ځان سینګار کړئ. او دا حدیث چې ((ان الله جمیل ، یحب الجمال)) د همدې آیت اساس و بنسټ راته بیانوي:

يَا بَنِي آدَمَ خُذُواْ زِينَتَكُمْ عِندَ كُلِّ مَسْجِدٍ ...[الآية] (الأعراف: ۳۱)؛ ژباړه: اې د ادم اولادې! د هر عبادت په وخت کې مو خپل د ښکلا لباس واخلئ.

الله تعالی د زینت ګڼې موارد یادوي او انسان ته دا بار بار ور یادوي چې اې زما بندګانو ما هېڅکله پر تاسو زینتونه ، ښکلاوې ، د ساعتېرۍ او تفریح ځیزونه ، د زړه او اروا د ارمتیا لپاره موسیقي او ساز نه دي حرام کړي ، بلکې دا ټول په خپلو ټاکلو حدودو کې روا او ډېری مهال ستایل شوي ځیزونه دي:

وَالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيرَ لِتَرْكَبُوهَا وَزِينَةً وَيَخْلُقُ مَا لاَ تَعْلَمُونَ (النحل: ۸)؛ ژباړه: اسونه ، کچر او خره یې هم ددې دپاره پیدا کړل چې هم پرې سپاره شئ او هم ښکلاوي او نور داسې شیان هم پیدا کوي چې تاسوورباندې نه پوهېږئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


په دې آیت کې الله تعالی خپلو بندګانو ته فرمایي چې که څه هم دا زینتونه ستاسو لپاره حلال او روا ګرځول شوي ، خو ګورئ خپل ټول وخت مو همدې ته ځانګړی نه کړئ ، بلکې دا ټول زینتونه چې ستاسو لپاره حلال کړای شوي ، یوازې او یوازې د دې لپاره دي چې په تاسو کې څوک غوره اعمال ترسره کوي:

إِنَّا جَعَلْنَا مَا عَلَى الأَرْضِ زِينَةً لَّهَا لِنَبْلُوَهُمْ أَيُّهُمْ أَحْسَنُ عَمَلاً (الكهف: ٧) ؛ ژباړه: څه چې پردې ځمکه دي هغه مو د هغې دپاره ښکلا ګرځولي ، تر څو هغوی وازمیو چې کوم یو یې په عمل کې ډېر غوره دی.

که له دې را تېر شو او د نبي کریم ص د احادیثو مجموعې ته سر ور ښکاره کړو ، نو هلته وینو چې پیغمبر ع د ښکلا ، هنرونو او زینت په اړه خپل عمومي نظر له دې ځای څخه پیلوي چې:

ان الله جمیل یحب الجمال ؛ ژباړه: الله ښکلی دی او له ښکلا سره مینه لري.

د خوږ او ښایسته غږ په هکله خپل نظر په دې ډول څرګندوي: زَيِّنُوا الْقُرْآنَ بِأَصْوَاتِكُمْ ، یعنې قرآن کریم مو په خپلو غږونو سره ښکلی کړئ. په دې معنا چې په ښکلي ، ښایسته او مترنم اوازو یې تلاوت کړئ. د حدیثو لوی محقق امام الباني رحمه الله د دې حدیث په هکله د صحیح حکم ورکړی.

د مصر ستر عالم ، ډاکټر یوسف القرضاوي په خپل کتاب ((په اسلام کې ښکلي هنرونه)) کې یو حدیث راوړي چې نبي کریم ص فرمایي: هغه څوک له موږ څخه نه دی چې په ښه غږ سره قرآن کریم نه تلاوت کوي. په همدې کتاب کې د اسلامي نړۍ دا ستر اسلامپوه زیاتوي چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



((نبي کريم به شعر او شاعرۍ ته غوږ ايښووده او ستاينه به يې کوله. د بېلګې په ډول نبي کريم ص به د کعب ابن زوهير اشعارو ته غوږ نيوه... دغه راز ، نبي کريم ص به شعر او شاعري د دين د تبليغ لپاره هم کاروله.))

له هغو روايتونو څخه د اسلامي تاريخ هر ادنا لوستونکی خبر دی چې نبي کريم ص به د دعوت او غزاګانو پر مهال ، حسان بن ثابت شعر ويلو ته هڅاوه.

د شعر په اړه نبي کريم ص فرمايي: ان من الشعر حکمة ؛ ژباړه: بې شکه چې ځينې اشعار له حکمت څخه ډک وي.

له پورتني ټول بحث څخه يوه خبره د لمر په څېر روښانه کېږي چې اسلام هېڅکله د ښکلو هنرونو او پاکو فنونو لکه موسيقي ، انځورګري ، رسامي ، نقاشي ، مجسمه سازي ، شاعري او د fine arts نورو څانګو سره مخالفت نه دی ښودلای. او د الله تعالی د همدې پورتنيو آيتونو په استناد په پوره ډاډ ويلای شو چې د هنر هره څانګه مباح ، حلاله او په ځينو حالاتو کې لا ستايل شوې او غوره ده ؛ او يوازې هغه وخت به حرام ګڼل کېږي چې کله له هغو پنځو شيانو څخه يو پکې داخل شي.

په دې ځای کې ، خپل بحث يوازې د موسيقۍ هنر ته ځانګړی کوو او د اسلامي متونو (قرآن او صحيح احاديثو) په رڼا کې دا څېړو چې اسلام د موسيقۍ په اړه څه نظر لري. هغه علما چې موسيقي يې حرامه ګڼلې ، د هغوی استدلال څه دی؟ دغه راز ، ولې ځينو علماوو د موسيقۍ په حق کې خپله فتوا ورکړې؟ د هغوی استدلال څه دی؟ د بحث د لنډ او واضح کولو په موخه ليکوال ښه وګڼله چې د موسيقۍ د حرمت په اړه د علماوو هر دليل د نکاتو په شکل را ټول شي او همالته يو ځای ورسره د نورو علماوو نظر او د علماوو پر نظرونو خپل تنقيد هم څرګند کړي:

۱) هغه علما چې موسيقي حرامه ګڼي ، له قرآن کريم څخه د هغوی تر ټولو لوی دليل په لاندې آيت کې د (لهوا الحديث)) عبارت دی. وَمِنَ النَّاسِ مَن يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ

(c) ketabton.com: The Digital Library


لِيُضِلَّ عَن سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَيَتَّخِذَهَا هُزُوًا أُولَئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ (لقمان: ۶)؛ ژباړه: او له خلکو نه ځینې (کسان) هغه دي چې چټي خبرې پیري ، تر څو په ناپوهۍ سره (خلك) د الله له لارې واړوي او هغه ټوکې وګڼي ، د داسې خلکو دپاره سپکوونکی عذاب دی.

په دې آیت کې د لهو الحدیث په اړه د ابن مسعود رض او ابن عباس رض نظر دا دی چې دلته له لهو الحدیث څخه مراد غنا او موسیقي ده. که څه هم ، د دې عبارت په هکله د مفسرینو ترمنځ اختلاف دی ، خو بیا هم هغه علما چې موسیقي حرامه ګڼي ، هغوی پر همدې ټینګار کوي چې د قرآن دوه لویو مفسرینو په همدې ټینګار کړی چې دلته ترې مراد موسیقي او غناء ده. د دې عبارت په اړه نور تفسیرونه په لاندې ډول دي ؛ دلته باید یوه خبره په پام کې وي چې د مفسرینو لویه ډله په همدې یوه خوله ده چې له دې څخه مراد غنا او موسیقي ده.

۱- ضحاک: لهو الحدیث نه مراد شرک دی.

۲- له لهو الحدیث څخه مراد هر هغه څه دي چې یو انسان د الله تعالی له اطاعت څخه وباسي.

۳- د دې آیت په تفسیر کې د هند ستر عالم اشرف علي تهانوي رحمه الله تعالی په خپل تفسیر ((بیان القرآن)) کې د دې آیت شان نزون په دې ډول بیانوي:

((د دې آیتونو شان نزول دا دی چې نظر بن الحارث یو شتمن کافر وو ، هغه به د تجارت لپاره فارس ته سفر کاوه ، نو هلته به یې د عجمي پاهانو کیسې او تاریخونه وپېرل او قریشو ته به یې ویل چې محمد ص تاسو ته د عاد او ثمود کیسې کوي زه درته د رستم او اسفندیار او د فارس د پاچاهانو کیسې کوم ؛ خلکو به دا کیسې په مینه اورېدې او له قرآن کریم څخه به یې مخ اړاوه. دغه راز هغه یوه سندرغاړې وینځه پېرلې وه ، نو کله به یې چې کوم څوک د اسلام لور ته مایله ولیدل نو هغه به یې خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library


وينځې ته ور وست او هغې ته به يې وويل چې دې ته خواړه ورکړه او سندرې ورته واوروه او هغه کس ته به يې ويل چې دا تر هغه څه غوره دي چې محمد ص مو ور بولي چې لمونځ وکړئ او روژه ونيسئ او خپل ځان قربان کړئ ؛ نو شان نزول که څه هم خاص دی ، خو د الفاظو د عموميت له کبله يې حکم عام دی.))

خو بايد په پام کې مو وي چې پورتنی آيت هېڅکله د موسيقۍ د حرمت لپاره صحيح دليل و حجت نه دی ، ځکه دلته وروستنيو علماوو څو ټکي له پامه غورځولي:

په دې ځای کې چې ابن عباس او نورو صحابوو د لهو الحديث معنا په موسيقۍ او غناء کړې ، نو هغوی د قرآن کريم په اصل مدعا او هدف ډېر ښه ځان پوه کړی. لهو الحديث په هر عصر کې بېل بېل کېدلای شي ، ځکه لهو الحديث بې هوده ، بې ګټې ، بې معنا او د وخت ضايع کوونکو کارونو او خبرو ته ويل کېږي ؛ هغه وخت عربو د خپل دود له مخې د موسيقۍ او غنا محفلونه او مجلسونه جوړول ، چې هلته به تر سهاره په ناروا ، حرامو او پليتو کارونو کې اخته وو. نو ابن عباس رض د خپلې ټولنې له جاج اخيستو وروسته دا موقف غوره کړ چې له دې څخه د الله تعالی مراد بل څه نه ، بلکې د موسيقۍ او ساز و سرود همدا محفلونه دي. خو دلته بايد له ياده ونه باسو چې د يوه روايت له مخې ابن عباس رض پخپله هم د موسيقۍ په حق کې خپل نظر ورکړی. په دې اساس ، که نن ورځ د کرکټ لوبه ، د فېسبوک بې وخته او له اندازې زيات کارول ، او دغه راز هر بل مباح کار چې د دې لامل وګرځي چې يو مسلمان د الله تعالی له اطاعت او عبادت څخه را وګرځوي ، نو هغه ټول د لهو الحديث په کټګورۍ کې راځي.

يوسف قرضاوي ليکي چې:

((د دوی په اند ، موسيقي بې معنا او پوچې خبرې دي ، له همدې کبله يو څوک بايد ځان ترې وساتي. خو د دې لپاره چې د دوی دا ادعا باطله ثابته کړم ، لومړی بايد د لهو الحديث معنا واضحه کړم. لهو الحديث په دې آيت کې بې ځايه وينا او پوچو خبرو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library


اشاره کوي. که چېرته موږ آیت تر پایه را ولولو ، ډېر ژر به پوه شو چې له لهو الحدیث څخه همدا مراد ده.)) ورپسې قرضاوي حفظه الله د قرآن کریم همدا آیت راوړی. بیا زیاتوي:

((که بیا هم چېرته داسې ومنو چې په آیت کې له لهو الحدیث څخه مراد موسیقي ده ، نو بیا هم هېڅ نښه نه لیدل کېږي چې د موسیقۍ په مستقیم ممانعت دلالت وکړي.))

علامه قرضاوي د بحث په دوام کې د ابن حزم حواله ورکوي:

((ابن حزم په دې اند وو چې د لهو الحدیث په اړه د دوی دا ادعا په درې دلایلو بې بنسټه او بې بنیاده ده:

یو ، هېڅ داسې ثبوت نشته چې پیغمبر ع د سندرو له ویلو یا اورېدلو منع کړې وي. دوه ، د دوی قضاوت د نورو صحابوو او وروستنیو مفسرینو په خلاف تللی دی. درې ، د آیت سیاق او سباق چې دوی د خپل دلیل بنسټ ایښی ، د دوی له فتوا او نظر سره مستقیم تضاد لري ، ځکه دا آیت هغه خلک یادوي چې د ټولو په اجماع سره کافر وي ، ځکه هغه د الله تعالی پر لاره پسخند او ملنډې وهي. په همدې ډول ابن حزم دوام ورکوي چې که چېرې یو انسان په دې نیت قرآن کریم وپېري چې خلک د الله تعالی له لارې څخه پرې واړوي او د قرآن کریم پر آیتونو ملنډې او رشخند ووهي ، نو هغه یو کافر ګڼل کېږي. او په دې بنیاد ، د الله تعالی په وړاندې د هغو مجرمینو انحرافات لوی جرایم دي ، الله تعالی هېڅکله هغه څوک نه دي غندلي چې لهو الحدیث د تفریح او له هنرونو څخه د خوند اخیستو په بدل کې پېري. نو په دې اساس ، دا خبره چې الله تعالی موسیقي حرامه کړې ، بې بنیاده ده. دغه راز ، هر هغه څوک چې قصدا ، د قرآن کریم یا احادیثو د تلاوت او لوست او یا د دې لپاره چې له یو چا سره خبرې اترې وکړي او یا موسیقي واوري یا وپنځوي تر څو خلکو ور باندې بې لارې کړي ، بې له شکه چې یو ګناهګار او نافرمانه انسان دی. د دې برعکس ، یو څوک چې

(c) ketabton.com: The Digital Library


هېڅ شي ته هم اجازه نه ورکوي چې له مذهبي وجیبو څخه یې غافله کړي ، نېک او صالح انسان شمېرل کېږي.))

ډاکټر قرضاوي د علماوو د همدې نظر د ناسموالي د اثبات لپاره د امام غزالي احیاء العلوم ته هم سر ور پورې کوي:

((امام غزالي وايي: که چېرې الله تعالی د یوه غیرقصدي قسم لپاره یو انسان مکلف نه بولي او حساب نه ورسره کوي ، نو په همدې ډول به هغه ذات ، یو انسان د موسیقۍ او سندرو اورېدو لپاره هم محاسبه نه کړي ؛ په دې چې دواړه کارونه بې ګټې دي.))

۲) د موسیقۍ د حرمت په اړه له علماوو سره دوهم لوی او تر ټولو ستره سرچینه د پیغمبر ص احادیث دي. که څه هم د موسیقۍ په هکله تقریباً ټول راغلي احادیث او روایتونه د سند او متن له مخې تر پراخ تنقید لاندې دي او که بیا یو نیم حدیث په دې هکله صحیح او کره هم وي ، نو له هغه څخه هم په هېڅ ډول د موسیقي حرمت نه ثابتېږي ؛ حال دا چې ډېری داسې صحیح او پر سند ولاړ حدیثونه شته چې پخپله د موسیقۍ پر حلالوالي دلالت کوي. کوم حدیثونه چې د موسیقۍ د حرمت په اړه وړاندې کېږي ، د هغو په هکله ډاکټر قرضاوي حفظه الله د ابن حزم نظر په دې ډول راوړي:

((ابن حزم وايي چې دوی د خپلې ادعا د اثبات لپاره هېڅ صحیح حدیث نه لري. نوموړی زیاتوي چې ټول هغه احادیث چې د موسیقۍ د حرمت په هکله روایت کېږي له ځانه جوړ شوي (یعنې موضوع) احادیث دي. په دې معنا چې د هغو متن د پیغمبر ص د ویناوو لپاره د منل شوو نورمونو په خلاف تللی او یا روایت کوونکو پکې دروغ ور زیات کړي. ابن حزم په الله قسم خوري چې که چېرته له هغو څخه یو حدیث هم د باوري حافظه لرونکو راویانو مسلسل سند لرلای ، او له هر ډول زیاتونو او تحریفاتو څخه پاک وی او په ټوله معنا د پیغمبر ص قول او وینا وی ، نو زه به د هغو د صحت او ثقه توب په بیانولو کې هېڅکله نه وای ټکنی شوی.))

(c) ketabton.com: The Digital Library


خو پر دې سربېره هم ، په دې ځای کې هغه حديثونه چې په دې برخه کې پرې ډېر زيات ټينګار کېږي ، را اخلو او يوه عمومي کتنه ورته کوو:

الف ) لومړنی حديث چې تر ډېره صحيح او مؤثق ګڼل کېږي ، هغه حديث دی چې پيغمبر ع فرمايي چې يو وخت به داسې راشي زما امت به شرمځايونه ، ورېښم ، شراب او معازف حلال کړي. ((لَيَكُونَنَّ مِنْ أُمَّتِي أَقْوَامٌ يَسْتَحِلُّونَ الْحِرَ وَالْحَرِيرَ وَالْخَمْرَ وَالْمَعَازِفَ...الاخ ))
پر دې حديث شوی تنقيد لاندې ځېړل شوی:

ابن حزم رحمه الله د دې حديث په هکله وايي چې:

((دا حديث منقطع دی او منقطع حديث هېڅکله حجت او دليل نه شي کېدای.)) ورپسې زياتوي چې: ((په دې اړه هېڅ صحيح حديث وجود نه لري ، او ټول احاديث موضوع دي.)) نوموړی عالم په دې حديث چې ((دعهن فان لکل قوم عيدا وهذا عيدنا )) استدلال کوي او وايي چې د موسيقۍ او سندرو اورېدل روا او جايز ده. بيا زياتوي چې ((لم يأت حديث فيه النهي عن سماعه صحيحا ؛ ژباړه: هېڅ داسې صحيح حديث نشته دی چې په هغه کې د موسيقۍ د اورېدو ممانعت راغلی وي.))

پر دې حديث د دې کتاب د ليکوال تنقيد دا دی چې له دې څخه په هېڅ دليل د موسيقۍ حرمت نه شي ثابتېدلای ؛ ځکه چې دلته ياد شوي چې يو وخت به دا امت شرمځايونه حلال وګڼي او ورېښم به حلال وګڼي ؛ نو په دې ځای کې يوه پوښتنه را پيدا کېږي چې آيا هغه مهال اسلام هر ډول شرمځايونه حرام ګڼل چې وروسته به يې حلال ګڼي ؟ د شرمځايونو د حلالوالي او حراموالي په هکله اسلام خپل احکام لري ، نه ټول شرمځايونه حرام دي او نه ټول شرمځايونه حلال دي. له همدې کبله دلته بايد هر شی تشريح او تفسير شي او خپل چوکاټ او حدود ورته وټاکل شي. دغه راز ، ورېښم هم در واخلئ. آيا ورېښم مطلق حرام دي او که په ځينو حالتونو کې د ورېښمو کارول

(c) ketabton.com: The Digital Library



حلال هم دي ؟ په همدې ترڅ کې علما مجبور دي چې د موسيقۍ په هکله هم عمومي قضاوت ونه کړي ، او د موسيقۍ په هر حالت او ډول خبرې وکړي او بيا يې حلال ، حلال وګڼي او حرامو ته يې حرام ووايي.

ب ) په دې تړاو بل حديث چې روايت کېږي دا دی: الغناء ينبت النفاق في القلب کما ينبت المَاءُ الْبَقْلَ ؛ ژباړه: موسيقي په زړه کې نفاق زرغونوي لکه اوبه چې سبزي و ترکاري را زرغونوي. خو د دې حديث په هکله امام الالباني وايي چې دا يو ضعيف حديث دی.
د دې حديث په اړه ابن حجر د بخاري په شرحه ((فتح الباري)) کې اوږد شاليد او علت بيان کړی. نوموړی د يوه حديث چې وروسته را روان دی په تشريح کې ليکي چې کله د فارس او روم واکمنۍ فتح شوې نو صحابه کرامو د فارس او روم د موسيقۍ او سندرو محفلونه وليدل ؛ په هغو محفلونو کې به دوی شرابونه څښل او محفل به د ښايسته نجونو په انځورونو سينګار وو او په سندرو کې به يې د حرامو شيانو ستاينه کوله او داسې اشعار به يې پکې ويل چې طبيعتونه به يې بدلول ، د ګناهونو په لور به يې بلنه کوله ، له همدې کبله ابن مسعود به ويل چې: الغناء ينبت النفاق في القلب ، کما ينبت الماء البقل. او ابن حجر رحمه الله هم دا حديث مرفوع بللی.
ابن حجر له دې وروسته زياتوي چې د عربو غناء او موسيقي له دې ناوړتياوو او پليتيو پاکه وه ، له همدې امله پيغمبر ع دا ډول موسيقي ناروا نه ده ګڼلې.
ج ) په دې هکله دريم حديث چې د حديثونو په معتبرو کتابونو کې ډېر روايت شوی دا دی چې ګړنجونی د شيطان مزمار (د موسيقۍ آله ، نی ته ورته ) ده ؛ ((الجرس مزمار الشيطان)).
پر دې حديث څو تنقيدي ټکي د پام وړ دي:
لومړی ، دا حديث د مطلقې موسيقۍ د حرمت لپاره اصلا حجت او دليل نه شي کېدای ، ځکه دلته يوازې د موسيقۍ يوه آله چې د يوه خاص علت له کبله د شيطان مزمار بلل شوی ، حرامه ګڼل شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دوهم ، که چېرته د مزمار له کلمې څخه دا استنباط کېږي چې هر ډول ساز او سرنی د شیطان کار دی ، نو دا باید له یاده ونه باسو چې د مزمار همدا کلمه نبي کریم ص په نورو ځایونو کې هم کارولې ؛ لکه:

((يَا أَبَا مُوسَى لَقَدْ أُوتِيتَ مِزْمَارًا مِنْ مَزَامِيرِ آلِ دَاوُدَ)) ؛ په دې حدیث کې نبي کریم ص د ابو موسی اشعري له خولې د قرآن کریم د تلاوت له اورېدو وروسته ورته وویل: اې ابو موسی ، بې شکه تاته د داود ع د کورنۍ له مزمارونو څخه یو مزمار درکول شوی دی.))

دغه راز ، په یوه بل حدیث کې چې کله حضرت ابو بکر صدیق رض او نبي کریم ص د عائشې کور ته راغلل ، او په کور کې دوو نجونو موسیقي غږوله ، نو حضرت ابو بکر صدیق ورته غوسه شو او ویې ویل: ((أَمَزَامِيرُ الشَّيْطَانِ فِي بَيْتِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ)) ؛ژباړه: آیا د رسول الله ص په کور کې د شیطان مزامیر ؟ نو نبي کریم ص ورته وویل: ((يَا أَبَا بَكْرٍ ، إِنَّ لِكُلِّ قَوْمٍ عِيدًا وَهَذَا عِيدُنَا)) ؛ ژباړه: اې ابو بکره ، د هر قوم لپاره اختر وي او دا زموږ اختر دی.

نو که چېرته موسیقي په عمومي ډول د شیطان مزامیر وای ، او یا موسیقي په مطلق ډول حرامه وی ، نو ولې د الله رسول په خپل کور کې شیطاني آلاتو ته اجازه ورکوي ؟

درې ، لکه څنګه چې پورته وویل شوو چې جرس د یوه خاص علت له کبله د شیطان مزمار ګڼل شوی ، ځکه که هر جرس مزمار وای ، نو پیغمبر ع به هېڅکله د وحي نزول له ((صلصلة الجرس)) سره نه وو تشبیه کړي. که چېرته دا کلمه هر ډول جرس ته وکاروو ، نو په حقیقت کې به مو د پیغمبر ع پر سپېڅلې او معصومه لمنه تور داغ لګولی وي چې یو ځای جرس له وحي سره تشبیه کوي او بل ځای بیا جرس د شیطان مزمار بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د) د موسيقۍ د حرمت په اړه دريیم حديث هغه دی چې يوه ورځ حضرت ابن عمر رض په خپل اوښ سپور وو او له کومې خوا نه د موسيقۍ غږ راغی. ابن عمر رض په خپلو غوږونو کې ګوتې کېښودې ، او له لږ ځنډ وروسته يې له خپل غلام څخه وپوښتل چې آيا اوس غږ راځي. هغه ورته سر وښوراوه. لږ ځنډ وروسته يې بيا ورته وويل چې آيا اوس هم راځي ؟ هغه ورته وويل چې نه. نو بيا يې خپلې ګوتې له خپلو غوږونو څخه وايستې او ويې ويل چې يوه ورځ نبي کريم ص هم همداسې کړي وو.

پر دې حديث هم ګڼې نيوکې کېدای شي:

لومړی ، علامه قرضاوي په دې اړه ليکي چې که چېرته موسيقي په مطلق ډول حرامه وي ، نو د ابن عمر رض په څېر ستر صحابي ولې يوازې خپل ځان له ګناه څخه ځان وژغوره او خپل غلام يې پرېښود چې په ګناه کې اخته اوسي ؟

دوهمه ، که موسيقي په مطلق ډول حرامه وای لکه څنګه يې چې نن ورځ علماء وايي ، نو بيا ولې پيغمبر ع پخپله په غوږونو کې ګوتې کېښودې او د موسيقۍ د مطلق حرمت په اړه ولې غلی پاتې شو ؟

دريیمه ، دا ټولو ته څرګنده ده چې ابن عمر رض هغه صحابي وو چې په ډېر کلک او جدي ډول يې د پيغمبر ص سنتونه پر ځای کول. تر دې چې کوم ځای به پيغمبر ع د ونې له ښاخ څخه د ځان ساتلو په موخه ټيټ شوی وو ، نو ابن عمر رض به له اړتيا پرته هم ځان ټيټ کړ. دا د ابن عمر رض له پيغمبر ص سره ځانګړې مينه او محبت وو چې د هغه مبارک ص د هر حالت او سنت پيروي يې کوله. خو د هغه دا اعمال په دين کې حجت نه شي ګرځېدای.

څلورمه ، په دې ځای کې دا هم بعيده نه ده چې په ځينو طبيعتونو ډېری شيان ښه نه لګي او دا د پيغمبر ص او ابن عمر رض خپل طبيعت وو چې د موسيقۍ غږ ور باندې ښه نه لګېده ؛ له همدې يې په غوږونو کې ګوتې کېښودې. د دې يو لوی لامل

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا دی چې له پيغمبر ص او پخپله ابن عمر رض څخه د موسيقۍ د روا والي او جواز په اړه ګڼ صحيح او معتبر روايات نقل شوي. ډاکټر قرضاوي حفظه الله په خپل کتاب ((په اسلام کې ښکلي هنرونه)) کې د ابن عمر په اړه همداسې يو روايت راوړی:

((ابن حزم له ابن سيرين څخه روايت کوي چې يو ځل مدينې ته يو سړی د وينځو د پلورلو لپاره راغی. هغه ابن جعفر ته راغی او هغه وينځې يې نوموړي ته وړاندې کړې او يوې وينځې ته يې امر وکړ چې سندره ورته ووايي. کله چې وينځې سندره ويله ، نو ابن عمر هم غوږ ورته نيولی وو. کله چې د نرخ له ټاکلو وروسته ، ابن جعفر هغه وپېرله. نو هغه سړی ابن عمر ته راغی او ورته ويې ويل: اې عبدالرحمانه ، دا يوه ناسمه معامله ده ، هغه بايد ماته اوه سوه درهمه زيات راکړي وای. ابن عمر رض ، عبدالله ابن جعفر را وغوښت او ورته ويې ويل: دا سړی فکر کوي چې دا معامله په انصاف نه ده شوې ځکه د وينځې په بدل کې دې اوه سوه درهمه کم ورکړي. ته بايد يا هغه ته اضافي درهم ورکړې او يا بېرته وينځه ور وسپارې. هغه ورته وويل: زه به يې اضافي درهم ورکړم.

د دې روايت په تشريح کې ، ابن حزم وايي چې له دې نه په ډاګه کېږي چې ابن عمر رض د هغې وينځې سندرو ته غوږ نيولی وو او هېڅ نيوکه يې ور باندې ونه کړه. تر دې چې د هغې نجلۍ په پلور کې يې مرسته وکړه. دا حديث غيرمنقطع سند لري او يقيناً چې له ځانه جوړ شوی ، يعنې موضوع نه دی.))

هغه احاديث چې په هغو کې نبي کريم ص موسيقي روا ګڼلې:
١- أعلنوا النكاح واضربوا عليهِ بالغربال.
٢- يا أبا بكر ، إن لكل قوم عيداً وهذا عيدنا.
٣- قال النبي - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ليس منا من لم يتغن بالقرآن.
۴- دعهن فان لكل قوم عيدا وهذا عيدنا.
د موسيقۍ په اړه د لا زيات بحث ، رواياتو او حديثونو لپاره به ښه وي چې د علامه قرضاوي ((په اسلام کې ښکلي هنرونه)) وکتل شي ؛ ځکه په دې ځای کې مو موخه

(c) ketabton.com: The Digital Library


يوازې هغه احاديث وو چې د موسيقۍ د حرمت په اړه تر ټولو زيات د علماوو په خولو کې دي.
له دې وروسته به د صحابوو ، تابعينو او علماوو له ډلې هغه اشخاص ياد کړو چې موسيقي يې روا او مباح ګڼله.
عمر رض موسيقي روا ګڼله ، او دی ابن عبدالبر ياد کړی ؛
عثمان رضي موسيقي روا ګڼله ، او دی الماوردي ياد کړی ؛
عبدالرحمن بن عوف موسيقي روا ګڼله ، او دی ابن أبي شيبه ياد کړی ؛
سعد بن أبي وقاص او ابن عمر موسيقي روا ګڼله ، او دوی ابن قتيبة ياد کړي ؛
أبو مسعود البدري ، أسامة بن زيد ، بلال او خوات بن جبير موسيقي روا ګڼله ، او دوی البيهي ياد کړي ؛
عبدالله بن الأرقم موسيقي مباح ګڼله ، او دی ابو عمر ياد کړی ؛
جعفر بن أبي طالب موسيقي روا ګڼله ، او دی السهرودي په خپل اثر ((عوارفه)) کې ياد کړی ؛
البراء بن مالک موسيقي روا ګڼله ، او دی ابو نعيم ياد کړی ؛
ابن الزبير موسيقي روا ګڼله ، او دی د ((القوت)) صاحب ياد کړی ؛
أبو الفرج په خپل کتاب ((تاريخة)) کې دا اشخاص ياد کړي چې موسيقي او سندرې يې روا ګڼلې: ابن جعفر ، معاويه ، عمر بن العاص ، النعمان بن بشير ، حسان بن ثابت ، خارجة بن زيد او عبدالرحمن بن حسان ؛
قرظة بن کعب موسيقي روا ګڼله ، او دی الهروي ياد کړی ؛
رباح بن المغترف او په تابعينو کې لوی شمېر اشخاصو موسيقي روا ګنله ، او دوی ابن طاهر ، ابن قتيبة او أبو الفرج ياد کړي.
امام طبري رحمه الله فرمايي: دا ډول موسيقي (هغه چې د نبي کريم ص په کور کې غږېدله او هغه منع نه ده ترې کړې او هغه موسيقي چې سلفو صالحينو روا ګنلې او اورېدله يې) د بشپړې اجماع له مخې په مطلق ډول مباح ده.
او له تابعينو وروسته تر نن ورځې پورې دا د اسلامي نړۍ هغه ستر علماء ، فقهاء او مفسرين دي چې موسيقي يې روا ګڼلې-: امام غزالي ، ابن حزم ، امام طبري ، امام

(c) ketabton.com: The Digital Library


بیهقي ، ډاکټر یوسف قرضاوي ، اشرف علي تهانوي ، مولینا جلال الدین بلخي ، ابو الکلام آزاد او داسې نور...

د بحث په پای کې یوې خبرې ته اشاره خورا اړینه ده چې هر ډول سندرې او محفلونه هېڅکله په اسلام کې روا او حلال نه دي ، بلکې خپل حدود او شرطونه لري چې په دې اړه یو ځل بیا هم د اسلامي نړۍ پر ستر مفکر و عالم ډاکټر قرضاوي تکیه کوو ، او په دې اړه د هغه یاد کړي حدود او شروط (د لیکوال له زیاتونو ، نظرونو او څرګندونو سره ) په اختصار او لنډیز سره بیانوو:

١ ) هره هغه سندره ناروا او غیرمشروع ده چې په هغه کې په شرک ، کفر ، ارتداد ، بې دینې او بې لارۍ پورې تړلي عقاید ، افکار ، خبرې او څرګندونې شوې وي. هغه سندره چې په هغو کې د دین یو حکم ، شعار یا امر ته سپکاوی شوی وي ، یا ور باندې ملنډې او رشخند وهل شوی وي او یا داسې موضوعات ولري چې له اخلاقي اړخه د خلکو د بې لارې کولو وېر ورسره مل وي ، د هغو اورېدل ناروا او نامناسب کار دی. په همدې تناظر کې د هغو سندرو اورېدل هم ناوړه عمل دی چې ملي ، ژبني ، نسلي او ذاتي تعصب او تبعیض ته پکې بلنه شوې وي ، او یا د یوه ناروا او شریعت سره خلاف کار لپاره د خلکو د جذبو او ولولو پاروونکې خبرې پکې راغلې وي ؛ ځکه دا ټول کارونه د قرآن او سنت د صحیح او کره دلایلو پر بنسټ ناروا او نامشروع اعمال و اقوال دي.

٢ ) د هغو سندرو اورېدل حرام دي چې د یوې ښځې د عورت او شرمځایونو ستاینه پکې شوې وي. او یا د ښځو د بربنډوالي په اړه انګېرنې او تصورات پکې راغلي وي. په همدې ډول ، هغه سندرې هم له اسلام سره په ټکر کې دي چې په هغو کې شهوت پاروونکي کلمات استعمال شوي وي.

٣) د داسې ښځې له خولې سندرې اورېدل ممنوع دي چې د بدن هغه ځایونه چې اسلام یې د پټولو امر کړی ، لوڅ وي او یا سندره په داسې حرکاتو او خوځښتونو سره زمزمه کړي چې شهوت پاروونکي وي. له یوې ښځینه سندرغاړې څخه یوازې هغه مهال

(c) ketabton.com: The Digital Library


د سندرې اورېدل روا ده چې بدن یې په اسلامي حجاب پټ او د زمزمې پر مهال داسې حرکات ونه لري چې د ناستو ځوانانو شهوت را وپاروي او جنسي بې لارۍ ته لاره هواره کړي.

۴) د موسیقۍ هر هغه مجلس او ناسته چې مسلمانان د الله تعالی له اطاعت او عبادت ځخه وباسي ، هغه د لهو الحدیث تر عمومي عنوان لاندې راځي ؛ دا ډول غونډې او مجلسونو ته ورتګ ناروا او خپل وخت ور باندې ضایع کول له یوه مسلمان سره وړ نه برېښي. موسیقي د خوند او تفریح لپاره وي او په ټوله کې یو داسې فعالیت دی چې باید په اضافي وخت کې وشي ؛ د دیني او مذهبي فرایضو د ترسره کولو په وخت کې موسیقي اورېدل ، له اړتیا زیات سندور ته غوږ نیول او خپل ډېر وخت د موسیقۍ په اورېدو تېرول ، ډېر ناستایل شوي او د غندلو وړ کړنې دي.

۵) دغه راز ، د سندرو د ویلو پر مهال سندرغاړې /سندرغاړی باید شراب یا نور نشه یي توکي ونه کاروي ، ځکه دا دواړه په اسلام کې ناروا او شیطاني چټل کارونه بلل شوي او له دې ځخه ځان ساتل پکار دي ؛ ځکه په دې ځای کې د دې وېره شته چې اورېدونکی هم د سندرغاړي د اغېز له امله په شرابو یا نشو روږدی شي. ورته مسئله د هغو کلپونو په اړه هم ده چې د قمار او جوارۍ لپاره جوړ شوي ، داسې کلپونو ته ورتګ پخپله مذموم او د اسلام خلاف کړنه ده ، بیا د سندرو اورېدو او د ډمانو موسیقۍ ته کېناستل خو په لومړي سر کې ناروا او غیرمشروع دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د ښځو په اړه

## ۱ ) آیا ښځې له عقلي او دیني پلوه ناقصه دي؟

په اسلامي نړۍ کې د ښځو په اړه یو ناسم او بې بنسټه تصور او انګېرنه چې له ځینو حدیثونو څخه پر غلط او ناسم برداشت او اخذ بنا دی ، دود ده. هغه دا چې په یوه حدیث کې نبي کریم ص ښځو ته په وینا کې ارشاد کوي چې ستاسو په عقل او دین کې نقص دی ؛ او کله چې یوه ښځه ترې پوښتنه کوي چې موږ ولې ناقصې یو ؟ نو نبي کریم ص په ځواب کې ورته وایي چې ستاسو د عقلونو نقص دا دی چې ستاسو د دوو شاهدي د یوه سړي له شاهدي سره برابره ده ؛ او په دین کې ستاسو نقص دا دی چې پر تاسو حیض راځي او هغه مهال تاسو نه لمونځ کولای شئ او نه روژې نیولای شئ.

د دې حدیث پر بنسټ ، علماء په دې فکر و نظر دي چې ښځې ناقصه العقله دي او له ذهني او فکري پلوه کمزورې دي. کله چې علماء دا نظر وړاندې کړي ، نو د دې یوه حتمي پایله دا راوځي چې یو ناقص العقله موجود ته باید په سیاسي ، ټولنیزو او نورو چارو کې برخه ور نه کول شي ، ځکه دوی د خپل عقلي نقص له کبله سم قضاوت او اعتدال نه شي کولای ؛ بل ټکی دا ترې راوځي چې ښځې د خپل عقلي نقص له کبله باید د سړو محکومې او په دوهمه درجه کې ژوند وکړي. له دې نظر څخه د پایلو لړۍ به تر هغو دوام لري ، تر څو چې د دې حدیث اړوند خپل پوهاوي او برداشت ته بیا کتنه ونه کړو او د متنپوهنې او علم الحدیث په مټ د حدیث اصل مدعا او مطلب ته ځان ونه رسوو.

په دې ځای کې بیا هم خپل بحث په څو ټکو کې را غونډوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱) په دې اړه هر څومره حديثونه چې راغلي هغه ضعيف ، د سند له پلوه تر ډېره منقطع ، راويان يې د کمزورو حافظو او ضبط خاوندان او له خپلمنځي متني تعارض سره مخ دي.

۲) د دې حديث په تشريح و تفسير او له الفاظو څخه په معنا اخيستنه کې علماوو دا ټکی له پامه غورځولی چې پيغمبر ص څه ډول ټولنې ، کلتوري او فرهنګي چاپېريال او اغېزمن دود و دستور ته په کتو دا خبره کړې. د عربو ټولنه يو نرواکه ټولنه وه او ښځو د دوهمې او لاس لاندې طبقې په څېر ژوند درلود. ښځو له کور څخه دباندې چارو کې لاسوهنه نه کوله او تر ډېره پورې په کور پورې تړلې وې. (دا بېله خبره ده چې ځينو ښځو په سوداګريزو ، علمي ، ټولنيزو او سياسي چارو کې هم ونډه لرله ؛ خو د هغوی شمېر د ګوتو په شمېر وو.)

طبيعي ده چې په دا ډول ټولنه کې به ښځه په ډېری چارو نه پوهېږي او پوهه به يې کمه وي. د ښځو همدې حالت ته په کتو په کاروباري او سوداګريزو چارو کې د ښځو شاهدي نيمايي ګڼل شوې او لامل يې دا ښودل شوی چې که چېرته يوه پکې غلطه شي ، نو دا بله به يې غلطي اصلاح کړي. دا له دې امله نه ده چې ښځې له عقلي پلوه کمزورې دي ، بلکې د کاروبار اړوند د هغوی کم پوهاوی دلته خنډ ګرځېدلای.

د همدې قرآني اصول له مخې ، نن ورځ قاضيان او قانون جوړوونکي کولای شي دا قانون وضع کړي چې په ټاکنو کې هغه بنديان يوازې ګډون نه شي کولای چې له تېرو لسو شاوخوا کلونو راهيسې په زندان کې وو او د هېواد له حالاتو څخه خبر نه دي ، دوی اړ دي چې د رايې ورکولو لپاره يو ازاد غړی هم د رايه اچونې خونو ته ننوځي. (که څه هم د رايه اچونې خونو ته به هر تن يوازې ننوځي.) او يا هغه لېونی چې همدا نن يې لېونتوب له منځه تللی وي ، د هغه په اړه هم همداسې پرېکړه کېدای شي. نو آيا دلته به د هغه بندي او روغ شوي لېوني په اړه دا پرېکړه کوو چې عقلي نقص لري ، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځکه باید دوه تنه ورسره لاړ شي او که د هغوی د کمو معلوماتو او پوهې له امله دا قضاوت شوی ؟

۳) له دې حدیث څخه یو بل ناسم استنباط دا دی چې ښځې ناقص العقله دي ، خو سړي نه دي. دا بحث به څو شېبې یوې خواته کړو چې یو څوک ناقص العقله دي یا نه دي. خو دا یو بې بنسټه برداشت دی چې ښځې ناقص العقله بلل شوې ، نو له دې څخه لازمي دا پایله واخیستل شي چې سړي کامل العقله شوو. او اوس دا وانګېرل شي سړي افضل شوو او ښځې اسفل! دا یوه بې بنسټه او بې ځایه پایله ده چې له دې حدیث څخه اخیستل کېږي. دا همداسې مثال لري لکه یو څوک چې دا خبره وکړي چې سړي ډېر احساساتي و جذباتي دي ، نو ایا دا په دې معنا ده چې ښځې احساساتي نه دي ؟

دا باید له یاده ونه باسو چې په سړو کې هم ډېرې داسې شته چې د چارو په اړه د کم پوهاوي او ناوړتیا له امله ځینې چارې باید ور ونه سپارل شي. د دې یوه تر ټولو ښه بېلګه پخپله په نبوي دور کې پېښه شوه چې کله یو صحابي نبي کریم ص ته راغی او د یوې سیمې مشري یې ترې وغوښته ، نو نبي کریم ص منع کړ او ورته ویې ویل چې ته د دې کار لپاره وړ نه یې. نو آیا له دې څخه نتیجه واخلو چې هغه صحابي (خدای مه کړه) ناقص العقل وو ؟

۴) په دې ځای کې ډېرې کلمات په هغه معنا نه دي راغلي چې څه ډول برداشت موږ ترې کړی. په دې ځای کې د نقص معنا زیان ، نیمګړتیا یا تاوان نه دی ، بلکې د حدیث متن او د قرآن کریم ځینو آیتونو ته په پام سره دې پایلې ته رسېدلای شو چې دلته ترې مراد دا ده چې له تاسو نه په دنیوي امورو کې ځینې (لکه سیاسي ، ټولنیز ، علمي او فرهنګي) چارې پورته شوې او تاسو د هغو په هکله مکلف نه یاستئ ؛ دغه راز ، په دین کې هم ځینې چارې داسې دي چې د هغو کول پر تاسو نه دي لازم شوي او یا له تاسو پورته شوې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې لپاره دوه دلیلونه ورکولای شو:

الف) که چېرته له نقص څخه د نیمګړي او یا تاوان معنا واخلو، نو د عطفي واو د موجودیت له کبله مجبوره یو چې همدا معنا د دین تر کلمې پورې تعدي کړو. چې په دې ډول به مو د الله تعالی د اصولو او حکمت په خلاف ګام اوچت کړی وي. په دې چې دا الله تعالی دی چې د حیض په حالت کې یې ښځې پر لمانځه او روژې نیولو نه دي مکلف کړې، او دا د ښځو لپاره یو زیان نه، بلکې د الله تعالی له لوري یو رخصت دی. آیا دا د یوه پیغمبر له ذات څخه لرې نه ده چې پخپله د دین وړاندې کوونکی او مبلغ دی، د الله تعالی له لوري وړاندې شوی رخصت، یو زیان او نیمګړتیا وګڼي؟

او که په دې ځای کې همدا استنباط وکړو، نو بیا اړ یو چې د مسافر لپاره د قصر د لمانځه رخصت هم د مسافر لپاره د دین زیان وګڼو! دغه راز، د یوه ناروغ لپاره د روژې میاشتې رخصت، هم باید د دې ناروغ لپاره یو زیان وګڼل شي؛ او همداسې د دین نور رخصتونه هم در واخلئ.

ب) بله کلمه چې دلته په هغه معنا چې په موږ کې دود ده او په هغه معنا نه ده کارېدلې، هغه د عقل کلمه ده. عقل په عربي ژبه کې ګڼې معناوې لري؛ او په دې ځای کې له عقل څخه مراد دنیوي امور او چارې دي، نه د هوښیارۍ او ځیرکۍ سرچینه. هره ژبه د خبرو او وینا کولو لپاره خپل انداز او طرز لري، په دې ځای کې د ناقص عقل اصطلاح په همدې ډول راغلې لکه موږ چې کله وایو چې پلانکی خو هېڅ عقل نه لري یا بې عقل دی، نو له دې نه خو هېڅکله یو څوک دا معنا نه اخلي چې الله تعالی، هغه سړی له عقل څخه تش پیدا کړی، عقل یې نه دی ورکړی او تعقلي ځواک و قوه نه لري، بلکې زموږ هدف دا وي چې په دې موضوع کې هغه شخص پوهه، تجربه، معلومات او مهارت نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**۲ ) د ښځو د حجاب او پردې مسئله:**

په اسلامي نړۍ کې د ښځو په اړه دوهمه لانجمنه او تر دې دمه ناحل شوې مسئله د ښځو د حجاب او پردې پورې اړوند ده. په دې اړه د علماوو ترمنځ دومره ګڼې او ژور اختلافونه دي چې په عملي ډګر کې مسلمانان لالهانده او سرګردانه دي او د عمل کولو لپاره هېڅ نظر او موقف ته زړه نه شي ښه کولای.

د دې یوه ښکاره پایله دا ده چې عادي مسلمانان دومره په تفریط اخته دي چې نن ورځ په دې اړه د اسلام دریځ ورته هېڅ مهم نه ښکاري او تر ډېره بریده د اسلام له چوکاټ څخه بهر وتي دي ؛ بل خوا مسلمان علماء په خپل هماغه افراط ولاړ دي ، او د قرآن کریم له آیتونو له ناسم استنباط او برداشت او په کمزورو او ضعیفو روایاتو باندې د تکیې له امله یې داسې دریځ غوره کړی چې له اسلام سره تر لرې لرې پورې سر نه خوري. په دې ځای کې دواړو لورو اعتدال او علمي و اکاډمیک بنسټ پرې ایښی او د افراط او تفریط خواوو ته کاږه شوي.

په دې ځای کې یوازې د قرآن کریم پر یوه آیت چې په حقیقت کې په ټوله معنا د ښځو د حجاب او پردې په اړه بشپړ او جامع احکام لري ، خبرې او بحث شوی ؛ او هغو مسایلو ته کتنه شوې چې د حجاب تر حکم لاندې راځي.

وَقُل لِّلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلاَ يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلاَّ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ وَلاَ يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلاَّ لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ آبَائِهِنَّ أَوْ آبَاء بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَائِهِنَّ أَوْ أَبْنَاء بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي أَخَوَاتِهِنَّ أَوْ نِسَائِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ أَوِ التَّابِعِينَ غَيْرِ أُوْلِي الإِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ أَوِ الطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا عَلَى عَوْرَاتِ النِّسَاء وَلاَ يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِن زِينَتِهِنَّ وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَا الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ (النور: ۳۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library


ژباړه: او مؤمنو ښځو ته هم ووایه چې خپل نظرونه ښکته ساتي ، د خپلو عورتونو ساتنه دې کوي او خپل سینګار دې نه ښکاروي پرته له هغه چې په خپله راڅرګند شي او په خپلو سینو دې خپل پړوني واچوي او خپل سینګار دې نه ښکاره کوي ، مګر خپلو مېړونو ته ، پلرونو ته ، د مېړونو پلرونو ته ، زامنو ته ، د مېړونو زامنو ته ، وروڼو ته ، د وروڼو زامنو ته ، د خویندو زامنو ته ، خپلو خاصو ښځو ته ، خپلو مریانو ته یې ، خپلو هغو لاس لاندې نارینه وو ته چې شهوت والا نه وي او یا هغو ماشومانو ته چې لا د ښځو پټو خبرو باندې نه وي خبر شوي او خپلې پښې دې دومره په زوره نه وهي چې دهغوی پټ کړی سینګار څرګند کړی شي ، او اې مؤمنانو تاسو ټول الله ته توبه وباسئ ددې دپاره چې بری درپه برخه شي.

د پردې او حجاب په اړه دا آیت دومره هر اړخیز او جامع دی ، چې له هغه وروسته بل هېڅ آیت ، روایت ، حدیث او یا د علماوو اجماع ته اړتیا نه پاتېږي. په دې آیت کې هغه ټول موارد او لارښوونې ذکر شوې چې مؤمنې ښځې یې باید په پام کې ولري. په دې ځای کې د پردې هر حکم چې له دې آیت څخه استنباط کېږي ، ټکی په ټکی بیانوو:

١) له هېڅ مؤمنې ښځې سره نه ښایي چې یوه پردې نارینه ته له اړتیا پرته وګوري او د نارینه د بدن بېلا بېلو غړو ته وګوري ، لکه په یوه حدیث کې چې راځي چې نبي کریم ص ښځو ته امر وکړ چې کله یو سړی سجدې ته لاړ شي ، نو تاسو ورته مه ګورئ.

که چېرته د یوه اړین کار له مخې اړتیا شوه چې ښځه او سړی له یو بل سره مخامخ شي ، نو د دواړو لپاره تر ټولو وړ لاره دا ده چې یو بل ته له کتو پرته خپله ستونزه له یو بل سره حل کړي. په دې ځای کې دا نیوکه به بې ځایه وي چې یوې ښځې ته روا نه دي چې له پردي سړي سره خبرې وکړي ، یا یې پردی سړی غږ واوري. د دې دلیل دا دی چې په نبوي دور کې به ښځې نبي کریم ص ته راتلې ، له هغه به یې پوښتنې کولې او دې پوښتنې او ځواب ته به نورو صحابوو هم غوږ نیولی وو. د دې نیوکې په استناد

(c) ketabton.com: The Digital Library


کې چې کوم آیت وړاندې کېږي ، هغه په حقیقت کې د نبي کریم ص مېرمنو او امهات المؤمنین ته لارښوونه شوې وه چې تاسو له پردیو نارینه وو سره په داسې انداز خبرې مه کوئ چې هغوی بل ګومان وکړي. په دې اساس ، دا لارښوونه نن هم موږ د خپلو کورنیو ښځینه غړو ته کولای شو چې له پردیو سره په ډېر نرم انداز خبرې مه کوئ ، خو لکه څنګه چې الله تعالی امهات المؤمنین له خبرو نه دې منع کړې ، موږ هم دا حق نه لرو چې منع یې کړو.

۲) د ښځو لپاره اړینه ده چې د خپلو عورتونو ساتنه وکړي او دا ساتنه یوازې په دې ډول نه کېږي چې له هغه ناوړه او پلیت عمل څخه ځان وساتل شي ، بلکې د هغه پر لور ورغلي ټولې لارې هم بندې شي. په دې توګه ، د همدې آیت له مخې ښځو ته پکار ده چې داسې جامې پر تن کړي چې عورتونه یې ترې ښکاره نه شي او نه هم باید شهوت پاروونکی لباس وي. په اسلام کې د جامو په اړه یوازې همدومره ویل شوي چې باید غټې او درنې جامې واغوستل شي.

۳) عموماً ښځې ځینې وختونه سینګار کوي ، او د یوه حدیث له مخې ښځو ته د سینګار کولو امر هم شوی دی ؛ په دې ځای کې قرآن کریم یوازې دومره اشاره کوي چې کله تاسو سینګار وکړئ ، نو هغه نورو ته مه څرګندوئ ، مګر هغه چې پخپله څرګندیږي. د پخپله څرګندېدونکي سینګار په هکله مفسرینو لیکلي چې له دې څخه مراد لاسونه او مخ دي ؛ نو په دې اساس ، له همدې آیت څخه په استنباط ویلای شو چې د مخ او لاسونو لوڅول د ښځو لپاره روا دي او هېڅ کوم شرعي ممانعت پکې نشته ، البته که څوک د خپل طبیعت له مخې خپل مخ او لاسونه پټوي ، دا د هغوی خپله خوښه ده ، د کوم شرعي حکم اطاعت نه دی.

په دې هکله د ځینو نیوکه دا وي چې پخپله مخ هم د ښځې زینت ګڼل کېږي ، نو هغه هم په ستر کې راځي ، مګر دلته څو ټکو ته پام پکار دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library


یو ، دلته له زینت څخه مراد (حسن او جمال) نه دی ، د زینت په هکله د موسیقۍ په اړه اوږد بحث شوی ، دلته یې بیا نه تکراروو. زینت له حسن او جمال سره توپیر لري.

دوه ، دلته له زینت څخه مراد هغه اضافي سینګار او ګاڼه دي چې ښځې په بېلا بېلو مراسمو کې کاروي ، ښځې دې هماغه سینګار پټ وساتي.

۴) ښځې باید پخپلو سینو پړوني او څادرونه واچوي او د بدن دا برخه باید په ښه ډول پټه کړي. د پړوني په هکله د الله تعالی حکم تر همدې ځایه دی ، له دې وروسته په څادر (ټیکري) باندې خپل سر پټول د یوې ښځې د طبیعت او د ټولنې د کلتور له مخې منل کېدای شي ، خو په دې برخه کې شرعي ممانعت نشته.

دغه راز ، د برقو یا حجابونو شرعي امر ګڼل خو د اسلام له اساسي لارښوونو څخه یوه بیخي لرې خبره ده ، اسلام خو د سر پټول هم نه دي یاد کړي. په دې اساس ، په پوره ډاډ او دلیل ویلای شو چې شنه برقه ، تور حجاب او په څادر او ټیکري کې د سر پټول یو شرعي حکم نه ، بلکې د ځینو ټولنو خپل دود او کلتور دی.

۵) ښځې له خپل ښکاره کېدونکي سینګار پرته ، پاتې سینګار او ګاڼه له دې ذکر شوو اشخاصو پرته هېچا ته هم د ښکارولو جواز نه لري چې هغه دا دي: خپل مېړونه ، پلرونه ، د مېړونو پلرونه ، زامن ، د مېړونو زامن ، ورونه ، د ورونو زامن ، د خویندو زامن ، خپلې خاصې ښځې ، خپل مریان ، خپل هغه لاس لاندې نارینه چې شهوت والا نه وي او یا هغه ماشومان چې لا د ښځو په پټو خبرو باندې نه وي خبر شوي.

د دې ترځنګ ، د اسلام یوې بلې قاعدې او اصل له مخې چې د اضطرار او اړتیا اصل ده ، ښځې کولای شي چې په سخت اضطراري حالت کې د خپل بدن هر غړی ښځینه و نارینه ډاکټر ته ښکاره کړي ؛ خو دا رخصت یوازې او یوازې هغه وخت دی چې په حقیقي معنا سره د اضطرار حالت رامنځته شوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۶) د تګ پر مهال دې ښځې هماغه چلند غوره کړي چې له یوه مؤمن سره ښایي یعنې ارامه ، په وقار او میانه روی تګ باید ور خپل کړي. پکار نه ده چې د تګ پر مهال خبلې پښې دومره په زور ووهي چې د شاوخوا شته کسانو ور پام شي ، او که چېرته په هغوی کې د کمزورو طبایعو ځوانان وي ، نو د هغوی د شهوت او جنسي تقاضا د پارېدو لامل وګرځي.

د دې آیت په اساس به یوه بل جزوي اړخ ته هم اشاره وکړو. دا آیت د هغو علماوو لپاره یو ښه ځواب دی چې د ښځو په بیرون تګ او ګرځېدو بندیز ږدي ؛ ځکه که چېرته پر ښځو دا ډول بندیز وای ، نو الله تعالی به ولې ورته فرمایل چې د تګ پر مهال پښې په زوره مه وهئ ؟ همدا آیت پر دې دلیل دی چې د ښځو په بیرون ګرځېدو او د اړین کار لپاره د تګ په هکله هېڅ ډول شرعي ممانعت نشته.

۷) د آیت په پای کې الله تعالی خپلو بندګانو ته چې ضعیف یې خلق کړي او پر دې عالم دی چې زما بندګان به ډېری مهال له نېغې لارې ښویېږي ، شیطان به یې په ښو چارو سترګې ور پټوي او ناوړه او بد اعمال به ورته ښکلي کوي ، امر کوي چې اې مؤمنانو تاسو ټول الله ته توبه وباسئ ددې لپاره چې برى درپه برخه شي.

## پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**